ت

# د مینی پسرلی

لیکواله

سپوږمی ساپیٔ

د ژمی روخصتي راباندی سختې شوی. د ژمی سړي هوا واوری او په کور کی اوسیدل نور زړه راتنګ کړو، شبیر ته می بیا زنګ ووهو، هو هغه تلیفون ځواب نکړو، د خولی می اففف وویستو ومی ویل ده د سوړ زوی چا سره بوخت دی چی هیر کړی یې یم، سهار مې هم ورته زنګ وهلی وو، خو په  دا ټوله ورځ کی یوه پوښتنه ونه کړه. هلک ته می فکر خرابیدو همدی فکرونو کی ګیر وم چی زنګ اواز شو، ژر می موبایل ته وکتل زړه می وو. که دا شبیر وی نو دا د زړه ېراس به پری همدی موبایل کی

وباسم، خو زما د زړه براس په زړه پاتی شو زنک د لیلا وو لیلا چی په ونه دنګه د رنګه غنم رنګی غتی سترګی او په زړه بیخی نرمه زما د پوهنتون ملګری وه هسی خو یی صنف جلا وو خو نصیب راسره ملګری کړی وه وو فکر می لږ څه جوړ کړو بیا می زنګ څواب کړو. بلی

ـ سلام جوړ پخیر؟

ـ علیکم سلام: مننه ښه یم خپله څنګه یی؟ ژر می بیا راغبرګه کړه ستا هم درګونه نه لږی.لکه د شبیر تا هم ځان ورک کړی

ـ ولی په هغه څه شوی ؟

نه پوهیږم نه زنګ ځوابوي او نه خپله زنګ وهی نه پوهیږم چی په کومو کارو بوخت دی، چیرته به لاړ شی مصروفه به یی رابه شی هسی ما ویل ته به زما نامه واخلی، چی زما زنګ ته پتمه وی یا می یاودلی، ومی ویل تا خو یادوم خو ګرانی ستا پرته هم ژوند لرم، باید د هغی هم خبراره اوسم او تاته خو معلومه ده چی څومره نژدی ملګری یو. نو ځکه می اندیښنه شوه،په مړاوی غږ یی وویل، همم پوهیږم خو زه غواړم چی ماته د هر څه مخکی لومړیتوب راکړی ،ددی لپاره چی فکر یی بدل کړم نو ځان می عادی کړو، ومی ویل مننه لیله ګلی چی نازونه درسره خوند کوی خو ماته هم غوږ کیږده چی څه وایم ؟ یو خو پوهنتون رخصت دی هلته خو ښه دی دیدن نیم کیږي خو اوس هر څه خراب دی.نه د کوره وتل کیږی او نه هم درس ته زړه، ته هم نه وی او دا د سست زوی هم ورک دی. نو عصاب می لږ څه خراب شو نوره هیڅ خبره نشته مکیز یی نور هم زیات کړو خیر که هر څه وو اوس به دی ماته داسی خبری نه کولی. ویلی به دی وی چی ته می یادیدلی، غږ یی نور هم ځوړند کړو او وی ویل رښتیا چی زړه دی تنګ وو، ماته به دی زنګ وهلی وی،سترګی می پتی کړی او خوله می کړه کړه، ومی ویل خا نو اوس بس څومره ګیلی کوی خفه کیږه مه لیله ګلی، دی سره یی

د خندا غږ راپورته شو، ومی ویل شکر خدایه جلی وخندل مطلب چې پخلا شوی خندا یې څوکه کړه او وی ویل مجبوره یم، خدای راباندی ګران کړی یې . په کړس کړس می وخندل ومی ویل رښتیا

ـ غږ یې بیا اوږد شو وی ویل دا څه رقم پوښتنه ده چې تا وکړه ؟

ومی ویل بس هسی خولی ته می راغله، اوس داسی نه چې په دی خبری راسره شروع وکړې ټوله شپه به می بیا خپله وی، د ناز خندا یې وکړه وی ویل داسی هم نه ده نوو، بله خبره یې کوله چې موبایل ته بل زنګ راغی پوه شوه وی پوښتل څوک دی؟ ومی ویل ورک راپیدا شو شبیر دی.

ژر یې وویل ښه دی کنه! زما یې اوریدلی څکه را پیدا شو، ومی خندل په مړاوی غږ یې وویل ښا زا نو،هغه سره خبری کوه زه درته نوره نه مزاحم کیږم خدای پامان!!

ما هم خدای پاماني وکړه او زنګ می قطی کړو. هغه لا بند نه وو چې بل زنګ یې ـ راغی ځوابولو سره مې وویل ستا د شبیر!! چیرته مړ شوی وی درک دی نه لږیدو؟ یا به په کوم ځای کی اخته یې څکه دی ځواب نه راکوو، هغه د خندا شین وو زر یې وویل ګوره ته نورو ته د ځان په څیر فکر مه کوه، زه ساده سړی یم، زما ددی کارونو سره څه دی ؟هسی که بده درباندی نه لږیږي نو ته ووایه دا اوس چې ما زنګونه وهل ته چاسره مصروفه وی؟ د خندا می کړس وکړو الکه زما نور څوک دی بس هغی سره لګیا وم، که درته ووایم له تا هغه هم ډیره ښه ده، پوښتنه نیمه خو می کوی. زما د خبری سره د خندا شین شو څو کړسه یې د خندا وکړل، وی ویل الکه ته نه سړی کیږی ومی ویل نو زه څه وکړم ؟

زړه یې راباندی یې بیللی اوس به یې خیال ساتم کنه د زړونو ساتل خو د ثواب کار دی. هغه می خبره داسی ودروله وی ویل که داسی خبره ده نو چې بیا یې تر پای وساتی، ومی ویل الکه د ټول ژوند دعوه څوک کوی. زه خو همدا اوس نن ورځی کی

ژوند کوم د سبا او د تیری ورځې کیسه کې نه یم. چې هر څه وی همدا نن دی باید خوند تری واخلم، هغه د فلم خبره (کل هو نا هو )

زما د خبری سره یې د خندا غبږ نور هم شور وکړو. وی ویل: الکه داسی ژوند هم ښه ندی. باید یو چاته د عمر شریکولو موقه هم ورکړی، تر څو به ثوابونو پسی ګرځې. کله خو به توبې ته غاړه کږدی، ومی ویل دومره اوږد سوچ می لا ندی کړی.هغه غبږ می بیا واوریدو وی ویل خا نو دا هم ستا د خوښې نده ومی ویل څوک ؟

هغه غبږ وکړه الله دا ته څنګه هلک یې دا اوس لږ مخکی چې دی یاده کړه ومی ویل لیله ښایې ؟ یار هغه می بس دوسته ده مطلب (فرینډ) شبیر ځواب داسی راکړو الکه هغه هو جدی ده، تاته به هم احساس شوی وی؟

د هغې کتل او ستا طرفته د هغې پام هغه د نورو انجونو په رقم ندی سمی پخی عشقي په نظر درته ګوری. مقصد فکر دی وی ومی ویل یار اوس لپاره می ملګری ده خو ده ایندی نه شم ویلی چې څنګه به کیږی، وی ویل که بله دی خوښه شوه بیا؟ ومی ویل بیا به ګورو هغه وویل بیا به لیله څه کوی ؟

ومی ویل ده هر څه ده مخې ته دا ووایه ته ولی داسی اندیښنه کوی ؟ ژر یې وویل نا یار اندیښنه نه کوم بس که حقیقت راباندی وایې زه د چا خپګان نشم لیدلی او نه د چا اوښکی ځکه داسی خبری کوم داسی نه نه د هغې شی او نه بلی ته پاتی شی خیر دا خبری پریدا دا ووایه چې ولی دی زنګ وهلی وو ؟

ومی ویل نا یارو هیڅ خبره نشته هسی زړه می تنګ وو. ومی غوښتل تاسره خبری وکړم شبیر وویل ښا دا خو کومه لویه ستونزه نده که وخت لری نو راځه سبا به سره وګورو؟

که رښتیا راباندې وایې زه هم درپسې خفه شوی یم یادیږی می د خندا می وویل داسې به نه یې کوره!

هغه وویل نا همداسی ده. بیا سره دواړو وخندل ومی ویل خا سمده ده. زه خو بیکاره یم، چې ته هر وخت بیکاره شوی ماته احوال راکړه سره وبه کورو، خا یې وکړه او خدای پامانی مو سره وکړه زنګ بند شو. سبا د سهارنۍ پرمهال یې بیا زنګ وکړو شبیر د نن ورځې پلان جوړوو، چې سره وګورو ومی ویل الکه داسې به وکړم چې همدا اوس به خپل ټاکلی ځای ته درشم، ته هم راځه یو څه سودا می هم پکار ده، تر مازیګره دی نه پریږدم،د خندا غږ یې وکړو وی ویل بس سمده ما دا ورځ تاته دربښلی چې هر څه دی زړه غواړي هماغسې به وکړو، بیا می هم تری مننه وکړه او د لیدو وخت مو سره معلوم کړو، ټلیفون تری می کیکاږله او ډوډی می خلاص کړه په تلوار د ځای پورته شوم چې ځنډ ونه کړم جامې می بدلې کړی او شبیر لیدو لپاره د کوره ووتم لاره کی می بیا زنګ ووهو ومی پوښتل چې چیرته دی هغه هم د کوره راوتلی وو ،همداسی په زنګونو مو ځانونه یو بل ته ورسول، په لیدو د یو بل خوښ شو غاړی مو ورکړی او روغ بړ مو سره وکړو، اول لاړو ښار ته ځانته می سودا واخیسته هغه هم یو څه واخیستل خو زما د سودا په لیدو یې وویل الکه دا خو دی ټول مارکیټ را واخیستو په دومره سودا څه کوی؟

ومی ویل دا خو هیڅ ندی پوهنتون شروع کیږی د تیر کال شیانو کی هیڅ ندی پاتی پریده چې ځان می پوره کړم،هغه وویل هغه هو دی هم نوې وو، اوس دې نوري سودا ته ګوره ومی ویل هلکه شبیره خدای ژوند یو ځل راکوی نو پریده چې ټول خوندو هم ورنه واخلو هغه وخندل او وی ویل ډیر خونده نه اخلی ورته مسکی شوم په خبرو خبرو کی مو سودا پوره کړه،د سودا وروسته لاړو رسټورانټ ته مینو مو ولیده او خپل خوښی څیزونه لکه زما کباب او ده کابلی وغوښته، همدی کی وو چې موبایل می وشرنګیدو لیله زنګ وهلی وو سکرین ته می وکتل ومی ویل وبښه نن درسره

خبری نه شم کولې تلیفون می بند کړو شبیر پوه شو وی ویل ورکه ځواب درته ښمه به وی ومی ویل نا خیر دومره اړینه نه ده، شبیر وویل یاره داسی مه کوه چی دومره دی عادت کړی بیا ورسره غږیږه،ومی ویل داسی څه نشته هسی به یی زنګ وهلی وی چی کورته لاړم بیا به ورسره وغږیږم. او دا تا څه عادت عادت شروع کړی هیڅ می نه ده عادت کړی ته هسی په ما بد ګمانه یی

ـ نو بیا دا خبری کول ؟

یاره دا دنیاېی خبری به کوو مهم زړه دی چی پاک اوسی او زما زړه کی هغی لپاره څه خاص نشته لکه د نورو انجونو دی سره هم د درس په باب مرسته کوم او ته ولی ماته لیله ډیره یادوی نوری خو هم شته هغه ولی نه یادوی؟ هغه ځکه چی هغوی ندی ښمه خو دا درته ښمه ده، ولی تاته یی لا خبرو نه ښکاری مینه نه ښکاری او بل دا لیدنه د تفریح ټول ساعت یو بل سره په خبرو تیرول دا هر څه مینه نه ده نو څه دی؟افففف می وکړ ومی ویل تا بیا دا پوښتنه پیل کړی یار اوس لپاره می بس ښه ملګری ده روان یو یو بل ته وخت ورکوو خبری کوو، امکان لری خوښه می شی که خوښه دی نه شوه بیا ؟ یار چی تر اوسه می ورته هر څه صفا صفا ویلی بیا به یی هم ووایم زه د دروغو سړی نه یم، ما کی به سل نیمګړتیاوې وی خو دا خبره می یاد ساته که کومه ورځ می څوک په رښتیا خوښه شوه. نو دا ځای دی زما او ستا ښه وی چی بیا یی د سر په بایې هم خپلوم خو خبره دلته ټوله خبره زما ده زړه ده او تر اوسه زما پر زړه یوی هم د مینی واکمنی نده کړی، هسی د خبرو یا د حسن یو څو شیبی وی او بس په هماغه ځای کی یی تاثیر خلاص شي، هغه چی په لیدو یی زړه بی واره نه شی هغی ته مینه او مین مه وایه خبره یی راته پری کړه وی ویل خا چی داسی ده نو ته ووایه ستا په نظر مینه څنګه وی ؟

ومی ویل یار نور نو د مینې په باب زیات نه پوهیږم ځکه هغه د مینې احساس می تر اوسه چاته ندی زړه کی احساس کړی.خو دومره ویلی شم چې مینه باید داسی وی چې نظر دې پرته د هغه بل چاته ور نشی که سترګی پټی هم وی نو د خیال تصویر یې وګوری او که خلاصی وی نو د هغی مخ په هری ځیره کی وګوری،

وا وا شبیر می خبره په واوا واړوله او وی ویل هلکه ما ویل ته یواځی په ټایم پاس پوهیږی تا کی خو د مین اثرات هم شته څه یو کرښی دې وویل، هیڅ نه ښکاری چې دا کرښی داسی څوک وایې چې هغه هیڅ کله مینه نده موندلی یوازی وخت یې تیر کړی د اوبو کلاس می راوخیستو او د څکلو وروسته می وویل چې هر څنګه درته ښکارم زړه خو می بیا هم پښتون دی که هر څو اواره اوسم بی پروا خو په زړه کی می د یو پښتون زړه درزا کوی چې ده مینې ډک دی، او رښتیا دا ته ولی هر واری ماته د داسی خبرو تعنی راکوی؟

شبیر سترګی راټولې کړې او وریځې هم ورسره را کونجې کړی او وی ویل نو نور خو درکی د کومه خبری کمی کاستی نشته لایقه یې خدای استعداد درکړی دا چې ته دی وخت په دی بیکاره کارونو تیروی او په خپل استعداد دی سترګی پټوی نو دا خبره ما خفه کوی نه غواړم ټول وخت په ساعت تیری کی تیر کړی، ایندی غم هم باید وخوری تر څو به دی کارونو کی وخت عبث تیروی، په دی ته هم پوهیږې چې څه دی لاسته هم نه راځی او نه تری څه جوړیږی، اوس مخکی دی په خپله خوله اقرار وکړو چې په یوی دی هم زړه ندی بایللی، نو ولی وخت خپل هم بربادوې او د هغوی امید هم یو څه خاوری کوی، ځکه زړه د ګل مثال لری چې یو ځل د بوټی وشلیدو نه یې حسن او نه یې عطر پاتی کیږی، یواځی مړاوی کیږی اخ می وکړو او نژدی شوم ومی ویل یار تا تر اوسه یوه انجلی لیدلی چې زه یې خواته ورغلی یم یا می هڅه کړی چې ځانته یې راوبلم، نو چې خپله راغلی نو تهووایه زه څه وکړم ددی

هر څه شاهد خپله یې نو ته هم ما ملامته کوی نا یار زه تا نه ملامتوم خو دومره وایم

خلک هر څه کوی ددوی زړه به هر څه وایي ضرور خو ندی چې ته یي هم ملتیا وکړی، کولی شی چې د اړیکی انکار وکړی، کولی شی چې منعی یي کړی، په کړس کړس می وخندل ومی ویل دومره ملا هم نه یم بیا می ورته وخندل او د شوخی می وویل یار زما خو اوس لږ څه ګمان کیږی چې ته سوزی، چې ولی دومره ښکلی د خوبونو ملکی زا خیر که ښایسته لری که نه خو زړونه یي ماته په لاسونو کی نیولی وی؟

شبیر مخ یو طرفته کړو او وی ویل یار تا خبره بل طرفته کړه ته پوهیږي چې داسی هیڅ خبره نشته، مخ یي لږ څه ځوړند شان شو ددی پر ځای چې څه ووایي زر می وویل یار ټوکی می کولی ته می زړه یي بس دا خبری چې ته کوی زما د طبعیت خلاف دی. بحث مو لا پای ته نه وو رسیدلی چې د هوټل بیل په ورکولو د هوټله ووتو او پارک په طرف روان شو پارک داسی وو چې د انسان طبعیت او فکر یي د دنیایي فکر راړاوو او په ځان کې یي غرکوو هر ځای یي په ګلانو کی پوښلی وو جیګی ونی رنګارنګ ګلونه د مرغیو چغاری د ګلانو خوشبو د نړی رابیلولی په پارک کی یو کانټین وو هلته د ضرورت هر څه پیدا کیدل دوکاندار یي هم د عمره ډیر ځوان نه وو، هو طبیعت یي بیخی تازه وو مازیګر کی به یي خوږه موسیقې غږوله هر ډول سندری به یي لږولی هندی، دری، پښتو، کله کله به یي انګلسي هم پلی کړی که څه دومره په انګلیسي نه پوهیدو او بل د انګلیسي سندر غاړي سمه انګلیسي په ترنم کی اوږده او لنډه کړی نو هغه پوهیدونکی به هم پری څو ځلی اوریدو پوهیدو دا خوارکی خو هڅلیوال وو، دومره درس یي ویلی وو چې حساب وکولی شی په انګلیسي سندرو پوهیدل ددی د وس کار نه وو، خو بس ددی لپاره چې پارک ته راغلی کسانو پام جذب کړي، نو دا کار به یي کوو کله کله به یي د سپیکر بلوتوت زما د موبایل سره وصل کړو، ویل به یي الکه هدایته ستا د ذوق سندری می خوښیږی نو ما به وویل ته پری پوهیږی چې خوښیږي دی؟

د خندا به شین شو وبه یې ویل خیر که نه پرې پوهیږم د موسیقۍ او د ساز یې خوند اخلم نور یې زه څه کوم. پوهېدل یې ستا کار دی د عمر ددې خوش طبعیتی به هر څوک مجبورول چې تر پارک ورشي او خپل د ژوند یو څو شیبې رنګینې کړي، مونږ هم روان وو چې کله پارک ته ورسیدو نو عمر د تل په څیر خپل کار کوو د پارک ښکله خپل کار کوو، موسیقې خپل کار کوو، که څه ژمی او د خزان پاڼو پارک یو څه بدل کړی وو هو بیا هم هر څه د تل په څیر ښکلي وو، شبیر وویل یار طبعیت د تل په څیر رنګین دې، ورځه چې کینو یو ځای کې هسی نه هم ستړې شو ټوله ورځ وګرځیدو د عمر راباندې پام شو د لرې یې لاسونه پورته کړل او غږ یې کړو، پخیر مستو ځوانانو پخیر راغلی، مونږ هم لاسونه په سینه کیخودل او مننه مو وکړه لږ ورته نژدې شو ومې ویل عمر لالا مونږ ته مست وایې ولې دا مستی به تا نه وی تیره کړې؟ خیر که اوس خدای مونږ ته لږ وخت او زمینه برابره کړې نو دستی دې مستی په نوم کې راګیر کړو، لکه چې مستې دې ونه لوریده راباندې، په خندا کې یې د خوله ټول غاښونه رابرڅیره کړل او وی ویل ځوانی خو ستاسی ده زموږ به څه ځوانی وه، د کلی به څه مستې وی، ومې ویل ولې د ګودر غاړه، سیند چپې، د انجونو شور په دې هر څه کې بیا هم داسی مایوسه ولا تعجب شوم زما په خبره یې وخندل او وی ویل نو تا د ګودر غاړه څه لیدلې؟ چې

لګیا یې مسکی شوم ومې ویل نا لیدلې خو مې نده خو اوریدلې مې دی لوستې مې دی چې مازیګر د پیغلو شور د ګودر غاړه او ممه یې دیدنونه، عمر مې خبره پرې کړه ځوانه معلومات دې نیمګړتیاوې لرې بیشکه د ګودر غاړه د پیغلو شور په سر اخلی او دیدنونه هم پکی کیږی خو دا کارونه یوازې مینانو کړی مونږ ساده شېل پېل خلک نه مخکی په دې خبرو پوهیدو او نه اوس، دې خبرې شبیر هم وخندوو وی ویل یره عمره ما ویل زه د دنیا عاجز یم نن مې ولیدل چې ناا خدای زما نه مخکی هم عاجز پیدا کړی، چې هغه ته یې، عمر وویل نا یار عجزه وم یا نه ،خو بې زړه وم، د ګودر ته تګ پرمهال

به می ډیری پیغلی د مستی په شور کی ولیدی او په دوی کی به یوه مسته هتمن وه چی د پیغلو بنډار به یې رنګینه کړی وو، په هغی به می سترګی ښخی کړی خو یا به د ملک لور وه یا د کوم خان نو زړه کی راپاریدلی احساسات به مو پدې مړاوی کړل چی ددی د زور زه نه یم، چیرته زما غریب چیرته ددوی خانی، نو هر څه به همدی خبری پای ته ورسول او بیرته به راستان شوم د ګودر غاره به رانه پاتی شوه خو نن سبا چې تاسی ګورم نو زړه کی کله کله کینه هم راشي، چې کاش په دی اثر کی پیدا شوی وی نو ژوند می داسی په دوکانداری او مسافری نه تیریدلی،خو زا خیر په دی کی به مو خیر وو څه د پخوانی پیغلی د کمیسه به یې ټکری لوی وو وعده به یې وعده او وفا به یې وفا وه،ده اوسنی انجونو چی جامی څومره لنډی شوی وفا یې د هغو لا ډیره کمه شوی، څه به زړه خورو ددی خبره لا خلاصه نه وه چی آفرین می وویل هغه می مخ ته راوکتل او ما شبیر ته وکتل وګوره د سهاره راسره په یوه خبره بحث کوی نو دا دی خبره عمر خلاصه کړه، د ځای نه روان شو او د ونی لاندی چی د ژمی تنکی لمر پری لریدو په چوکی کیناستو عمر می هم د ځان سره کینوو ومی ویل ګوره تا اوس خبره انجام ته ورسوله شبیر راته سهار نه لګیا دې چې دومره انجونو سره اړیکې نیسي، ددوی به زړه مات کړی دا تا چی خبره وکړه نو زما د خبری سره ډېر ورته والی لری، هغه انجونی چی خپله غواړی اړیکه ټینګه کړی او خبری وکړی کیداشی ددی لپاره دا کار عادی ووسي کیداشی نوری اړیکې هم ولری نو که بیا زما اړیکه پری شی شاید دوی ته فرق ونه لری، زما په نظر زړه د حسن نه زیات په حیا اوړی او حیا په شرافت کی ده په بی حیایی کی نه، سترګی بیشکه ظاهری ښکلا ته اوړي هو پټمن زړه په حیا مینیږي او تر اوسه ما په چا کی زما د خوښې حیا ندا لیدلي نو دی خاطره لکه د نامالومه منزل مسافر یم تر څو چی مي منزل نه وی مالوم شوی، همداسی به ګرځم کیدای شي په دی لټه کي د منزل پیدا کونکی اوسم دواړو وخندل عمر می خبرو ته په اشاره وویل بلکل ربښتیا دی وویل همداسی ده شبیر چی زما د دلیلونو مخکی خاموشه

شوی وو نو سر يې وخوځوو او وی ویل سمده نور بحث نه کوو، دا دی ته یې ګټونکی ،زه بایلونکې خوشحاله، ومی خندل خو ډیر. عمر له دی خبرو وروسته پورته شو چې د دوکان کار مخته یوسی ما او شبیر په کیسو سر وو، شبیر وویل بس دی ډیر وخت مو تیر کړو ربنتیا ډیر ښه وخت مو تیر کړو، واقعي د ژمی لومړی ورځ وه چی په خوښې مو تیره کړه، پخیر چی بلی هفتی ته پوهنتون شروع کیږی یو څه درسونه به تکرار کړو ځان به د ژمی او د لرګو بخاری راوباسو، په اوږی می ورته لاس کیخودو ومی ویل بیخی ښه خبره ده. شبیر نور نه هیساریدو ومی ویل سمده چی نور نه پاتی کیږی راځه راپورته شه چی جیړیږو د لری مو عمر ته لاس وخوروو او د ځای را روان شو، خپلی خپلې سوداګانی مو راپورته کړی، تر یو ځای ګډ راغلو او بیا د کور لپاره مو لاری جدا کړي ماښام ته وخت نژدی وو چی کور ته ورسیدم سیدا خپلی کوټی ته لاړم او سودا می کیښوده مور می تر شا راپسی راغله سلام یې واچوو او وی ویل ع سلام می ټوله ورځ بیرون وی، څه دی خوړلی که نا؟

وویل او بیا می خبره وکړه هو موری هر څه می کړی بس چای که وی نو ډیر به ښه شی هغی وویل چای شته مخکی می دم کړی وو پلار دی هم ندی راغلی تاته به یې واچوم هغه به هم راځی سر می راپورته کړو او د شوخی می وویل خان جی ته دی کړی، ربنتیا زوی د چا په یاد وی، چی د ژوند ملګری دی تر څنګ وی، د غوږه یې ونیوم او وی ویل شیطانه دومره غټی خبری دی یادی کړی، ومی ویل موری غوږ دی راته خوږ کړو، پریدا بیا یې نه وایم خیر دی که ستا څیښتن دی زما هم پلار دی که څه می وویل نو څه خبره وشوه؟

که ربنتیا راباندی وایې نو دا څیښتن می دی ندی خوښ آفرین تاته چی دا وخت دی ورسره تیر کړی، تل یې غوسه په پوزه سپره وی بیا یې ماته نظر ډیر نیولی وی، دا ښه دی چی اوس لږ وخته راغلم کنه یو دیوان به یې راته تیروو مونږ لا خبری کولی چی د کور دروازه وټکیده ومی ویل عمر یې د ډیره دی راغی، که

زما پوښتنه يې وکړه نو ورتې غرمه وخته راغلی مور مې په خندا روانه شوه هغه مې د طبیعت خبره وه ، ځکه غوسه نشوه پلار جان مې ډیر راته ګران دی هره خبره یې منم د یوی خبری هم نه تیریږم، بس کله چې ناوخته شم نو بیا راته غوسه وی په دی ورنه لګ ګیله من اوسیږم، دهغی ځای راغلم په خپلی بستری وغزیدم ځان مې ارامه کړو. نن ډیر ستړی شوم ډیر وخت هسی ناسته انسان ناراسته کوی، زه هم د ژمی اوږدی رخصتی سست کړی وم، زما فکرونه لا خلاص نه وو، چې مور مې چای راوړو دوه پایلی مې وڅښلی نو ایله راجوړ شوم، د ځای پورته شوم او د پلار کوټې ته لاړم. ماښام ناوخته پوری ورسره کیناستم ډوډی خلاصه شوه هغوی چای څکلو ته پاتی شو زه ورنه خپلی کوټې ته راغلم او په ارامه زړه ویده شوم. دا څو شپې مې د پوهنتون د لومړی ورځي راتلو ته او زما د سهار ننداری ته تیری کړی ننداره مطلب کوچنی انجونی زما په کوټه کی تخت ته مخامخ کړکي وه او کړکي کی بالکون وو چې په رنګارنګ ګلونه مې ډک کړی وو، د کړکي لاندی ټوله کوڅه ښکاریده د کور مخته مو مکتب وو، که چیری سهار به په دی ځای کی ودریدې نو د ننوتو زړه به دی نه کیدو که څه ناوخته پاڅیدم خو هر کله چې به د خوبه پاڅیدم نو لومړی به مې ځان کړکي ته ورسوو. هغه ځکه چې کوچنی شهزادګی به په نازکو اوږو د کتابونو بیکونه بار کړی وو، لنډی لنډی پیکی به يې په سپین تیکرو کی راوتی وو ځینې به په لاسونو کی وړی وړی چترې د لمر په خاطر نیولی وی، ځینی به يې پلرونو سره خو ډیری به يې د ملګرو (ټولګیوالو) تر څنګ رارواني وی، نه پوهیږم په لیدو به مې روح تازه کیدو، دی نظاری به مې زړه ته سکون ورکوو، چې افغانې انجونی هم د لوست په لور روانې دی، پوهنتون کې که ځینی انجونی ساعت تیری ته راتلی خو ډیری به يې د کتابونو سر نه پورته کوو، ددی کوچینوو انجونو په لیدو به مې هغه د پوهنتون زحمتکښه انجونی په زړه شوی چې فقط او فقط هدف يې درس ویل وو، نو منظره مې د ژمی په رسیدو نه وه لیدلی نو خدای شته خفه شوی وم د پوهنتون ورځ خو شکر ورسیده هو د مکتب ننداره لا

پاتې وه د پوهنتونه یوه ورځ مخکې مې شبیر ته د پوهنتون تګ وویلې هغه زړه نا زړه وو ویل یې سبا لومړی ورځ ده څوک به نه وي خو ما ونه منله ټنګار مې وکړو چې باید لاړ شو هغه هم زما خبره ومنله سهار وخته مې ځان اماده کړو چې د کوره وتم چې مور مې راپسې غږ وکړو وی ویل تیار شوی خو موری دا دی ځم هغې وویل نور مې ډیر ښه زوی یې خو په یوه خبره درنه شکایت لرم سهار وخته پاڅیږه لمونځ کوه د ځوانی لمونځ او سجده د زړښت د څو سجدو معتبره ده، خواته یې نژدی شوم وم ویل موری لمونځ ده دعا لپاره کیږی ماته شکر خدای هر څه راکړی، زه ده خدای ده هر نعمته برخمن یم، ستا په شان خوږه مور، ښه ژوند، ملګری، پوهه نور نو څه پاتې نه وو، چې سوال یې د خدای وکړم هغې وویل ټول عمر په یو حال نه پاتې کیږی دا چې بیړه مې وه زر مې وویل خا سمده ده چې اړتیا مې شوه نو هتما به یې د خدایه وغواړم خا خیر موری اوس راباندی ناوخته کیږی بیا به پری خبری وکړو د موره مې خدای پاماني واخیسته او د پوهنتون په طرف روان شوم په لاره کی د شبیر سره یو ځای شوم ستړی مشي مو سره وکړه او د پوهنتون په لاره وغځیدو پس د ډیری مودی بیرته خپل پوهنتون ته راغلو د پوهنتون مخی ته ده کارتونو په ښکاره کولو دننه ننوتو ته اجازه راکړه، هغه نفر چې د دروازی مخکې به دریدو بدل وو هغه مخکنی مو پیژندو دا نا بلده وو. د تلاشی وروسته داخل لاړو د پوهنتون ښکلا د تل په څیر قایمه وه، هو دا منم چې پسرلی یې بیا خپله ښکلا لری اوس باغچې ګلان هیڅ نه وو د خزان وهلې پاڼې ګلان مړاوی کړی وو، د لارو او باغچو غاړی ته د واورو باری لا تر اوسه پرتې وی خو خیر اوس هم بد نه وو ارامه ارامي وه، که څه د ژمی وروستي ورځي وی، خو بیا هم پرته د بالا پوش یا کرتی ګزاره سخته وه، غځیدلي اودږ سړک مو ونیوو چې قدمونه مو اخیستل نو په هر قدم سره به مو د تیر کال خاطرې رایادی شوی او په خندا به شوم تر څو چې خپل دیپارټمنت ته رسیدو ډیری جالبه خاطرې مو په زړه شوی او د یادولو نه مو کیف واخیسته، اخر هم خپل دیپارټمنت ته ورسیدو دننه ننوتو

اول مو سلام په دهلیز کی ناست مامور ته واچوو پوره د رخصتی حال احوال مو ورسره وکړو، او بیا د چپ لاس صنف ته روان شو شبیر وویل ګوره یا خو وخته دی یا د چا زړه ندی چی راشی د لوی دروازی تر دیپارټمنت ډیر کم محصلین مو تر سترګو شو، فکر نه کوم درس به هم وی. ومی ویل راځه نو اوس خو راغلی یو. دویم صنف ته ننوتو. ربښتیا هم په صنف کی څوک نه وو. شبیر بیا سترګی راواړولی ومی ویل؛ طاقت دی وشه اوس لا وخت شته او که وایی بهر به چکر ووهو، وی ویل هلکه بهر هوا سړه ده ددی پر ځای چی په چکر می مړ کړی، همدغه ځای ښه دې ومی ویل خا نو غلی په خپل ځای کینه غږ ونه باسی. شبیر غلی په خپل ځای کیناست، اول صف د هلکانوو وو زمونږ نه خواکی چوکی د انجونو وی . که څه چوکی مو سره جدا وی خو بیا به هم مقابل کی د ناستو انجونو ښه ننداره کیده، لومړی قطار هغه خو ډیر نژدی وو د ټولو به ښه راښکاریدو کله چی به انجونو څه کول نو لا ما او شبیر به پتی نه پاتی کیدی. همدی کی وم چی دروازه خلاصه شوه او ټولګیواله چی نرګس نومیده راننوته، سلام یی وویل ع سلام می ورته په ځواب کی وویل هغی ځان خپل مخکنی ځای ته ورسوو او د کیناستو سره یی وویل لکه چی ښه تنګ شوی وی یا هو مو میندو نور ځای نه درکوو، چی په لومړی ورځ مو راچولی، شبیر به څه ویلو ته خوله برابروله چی ما وویل هسی نرګس دا خبره تاسره هم جوړیږی ته هم راغلی یی جلی سترګی د غوسی ډکی شوی او په خپل ځای غلی کیناسته، زه هم د شبیر خواته نژدی کیناستم ددی لپاره چی ګپ برابر کړو، ومی ویل الکه شبیر زړه کی می دی دا صنف می بدل کړم هغه په هیرانی مخ راواړوو وی ویل ولی؟

ومی ویل هغی ناستی نرګس ته وګوره بس نوم یی د ګل دی نور پکی د ګل یوه نښه هم نشته، نه پوهیږم چی دا ښکلا په نړی کی نشته یا خدای زموږ په صنف کی قاهنطې کړی، تیر کال مو هم همداسی تیر کړو نه د ښایسته حوری وی نه یی ناز و مکیز هغه زما خبرو پسی وخندل وی ویل نو ته ښکلا ته راځی که درس ته پریدا سړیا خپل

درس ته دی پام کوه، چیرته حسن پسی ګرځی په خندا ورته نور هم نژدی شوم ومی ویل الکه ربښتیا وایې زده کړې ته راغلی یم خو هسی زما زړه داسي وایې که د حسن ملکی په کی هم وی نو زړه به مي هسي ورته خوشحاله وی، په لیدو به یې لکه د باغچې ګلونه غوړیدلي شبیر په کټ کټ وخندل وی ویل الکه ډیر وران یې زمونږ په خندا نرګس یو څه د ځایه وخوځیده سر یې راواړوو وی ویل ډیر نه خاندی خیرتی خو به وی؟

ومی ویل شکر خیرتی ده هسي خبری مو سره کولی هغی بیا ونه کتل ما سر شبیر ته نژدی کړو او بیرته می خپله خبری ته ادامه ورکړه یاره دا خبره جدی ونیسه چې زه می صنف بدلوم کیداشی پام او فکر می بدل شی دلته خو په یو کال کی هیڅ ونه شو، سږکال نه غواړم د تیر کال په څیر تیر کړم، شبیر وویل ته لکه چې ځان هغی ته نژدی کوی ومی خندل نا هغسی خبره نده خو شبیر زر وویلی خا چې هر چیری ځی یو ځای به ځو کیدای شی ستا په حرکت زما هم خدای کار وکړی ومی خندل ومی ویل ته خو می جګر یې، چې ته نه یې هغه ځای دی رنګ شی، افرین بس چې اوس ځو یو ځای به ځو او درخواست به وکړو وخت په تیریدو د صنف خالی چوکی ډکیدی نور محصیلین هم راغلل ټولو سره مو روغ بړ وکړو د ورځ په اوږدو کې استادان هم راغلل او خپله د درس وظیفه یې ترسره کړه، همدی کی مو ورځ پای ته ورسوله رخصتیې شوه، شبیر ویل هسی دی راوستم نه درس وو او نه نوی مخونه داسی احساس می وکړو لکه پرون چې می لیدلی وی. څومره می تلوسه وه ومی ویل همداسی کیږی یو شي ته چې څومره په تمه یې هغه هغومره ښه نه وي، نو که زما مني تمه مه کوه ځان عادی ونیسه، شبیر وویل ربښتیا تا خو نن لیله هم یاده نکړه همم ولا څه یې نه وو ویلی ما هم وربانده ځان نه وو پوه کړی، شبیر وویل لکه چې خفه شوی هغه زنګ دی نه وو ځواب کړی افف خدایه شبیره ستا څومره عصاب کار کوی څومره خبرو پسی ګرځي هغه وویل زما زړه خارښت کوی کله کله ګمان کوم چې ته له ما د زړه خبری

پټوی ځکه درنه هر وخت پوښتنې کوم ورته نژدې شوم ومې ویل یار دا خبره مه کوه زما د زړه هر راز تا سره دی که پټولو ته مې خوښه کړه دا خواکې کې مې ناست يې پخدای که رانه خبر هم شې هغه وویل ایا کولی يې شې ومې ویل ولې نه خو اوس لپاره دې دا خبرې ده زړه وباسه هیڅ نشته خبری مو دومره زیاتې وې چې په خبروخبرو کې لاره هم نژدې شوه، راغبرګه مې کړه څومره خبرې کوو ګوره لاره هم خلاصه شوه شبیر وه ویل خیر خبرې خو به کوو دا ووایه چې پارک ته راځې که نه؟ ومې ویل اوس هو ستړی یم نو نن دې پارک پاتې وی سبا به ګورو هغه وویل بیخی سمده ده زه هم ستړی یم، چې په ځای پریوته ولاکه که مې ماښامه پورې څوک راپورته کړی، بس زما هم داسې حال دی زا نو چې ستړی یو، ورځو به د دواړو لارې جدا شوی هغه په خپل لار او زه په خپل لارې راروان شوم کورته په رسیدو مې خپل کوټې ته لار وکړه پړ مخ پریوتم مور مې غږ وکړو راغلې زویه څنګه وه ورځ دی ؟ ومې ویل ښه وه خو څوک نه وو راغلی د حاضرې درک هم نه وو، خا خیر که ستړتیا دی کمه شوی وی نو راځه چې ډوډی وخوری ومې ویل موری درځم اوس لږه دمه کوم، خا سمده ده، چې هر وخت دی زړه وو بیا غږ وکړه، دې خبرې وروسته همداسې لاړه، زه پروت وم فکر مې ارامه کړو او سترګې مې پټې کړی ډیر وخت ووتو سترګې مې خلاصې کړی، مازیګر تیر وو د ځای پورته شوم او دهلیز ته لاړم مور او خویندې مې ناستې وې، خوله مې زیږکې کوله لاس مې خولې ته ونیوو سترګې مې لا پټې وی، چې مور مې غږ کړو پاڅیدی؟ ومې ویل هو پاڅیدم دومره خوب دی وکړو ماته دې وویل چې څو شیبو کې درځم ساعت ته وګوره څه تایم دی ساعت ته مې وکتل ومې ویل ربښتیا وایې ناوخته هو شو نو څنګه وکړم دې خبره سره مې د مور غیږ ته ځان خطا کړو، ومې ویل داسې ستړی شوم فقط پیټې مې چلولې وی ډیر وخت پس لاړم نو ځان مې درد ونیوو هغه چې پریوتم د پورته کیدو شیمه نه وه پاتې، همداسې ویده شوم په تندی يې لاس راکیښودو وی ویل خیر زویه یو خو هوا هم لا سړه ده، کیداشی

یخ وهلی یې زه به درته ګرم چای وکړم چې لږ ښه شې، ومی ویل بس په لاسونو دی برکت شه همداسې یې وکړل چای سره می وجود لږ څه ارامه شو، نن خو څوک نه وو، درس هم تکراری وو، د لوستلو می هم څه نه لرل نو شپې ناوخته پورې می ګیم وکړو او بیا ویده شوم راتلونکې څو شپې همداسې په ارامۍ تیرې شوې، زما په ټمه راتلونکې ورځې به هم داسې تیره شي د څه خاص کیدو ټمه می تری نه لرله، خو داسې نه وو راتلونکو ورځو ما لپاره ډیر څه لرل زه یې د خپله حاله اړولم خو اوس لپاره تری زه ناخبره وم زه نه وم خبر چې نن شپه خوب به زما د ژوند وروستی د سکون خوب وي ددې وروسته به زه هیڅ د سکون خاوند نه شم زما د سکون د ناارامۍ لپاره یو څوک ټاکل شوی وه چې زما لیدل ورسره پاتی وو، نن می ځان خوب ځانګو ته ورکړو او په دمه زړه ویده شوم سهار وخته می یو ځل بیا ځان د پوهنتون تګ ته اماده کړو نن ورځ زده کړیالان ډیر وو اوس نو محصلینو د خپلو ځالو راوتی وو، صنف شروع شوی وو او درسونه هم مخته روان وو، نن زه او شبیر د تل په څیر پوهنتون ته لاړو، لومړی لکچر د ګرامر وو، استاد د ګرامر د درس لپاره د چیپټر ټولی برخې جدا کړی وې، اوس یې نو مونږ ته تشریحات راکول ناڅاپی می شبیر ته وویل الکه زره می بې واره شو، درازیده یې ډیره شوه هغه می خبره په دې بدله کړه چې استاد درس درته زړه تنګ کړو، چې په درازیدو شو ما او هغه لا په خبرو بوخت وو، چې د صنف دروازه نازکه وټاکیده، د دروازې ټاکه مونږ او استاد دروازې ته متوجې کړو، د دننه د راتګ اجازه یې وغوښته، ما هم سر دروازې ته نژدې کړو، تر څو ددې نرم غږ رضوان وویښم چې څوک ده، استاد ورته د سر په خوزولو اجازه ورکړه، زما سر جیرېیدو ته وخت پاتې نه شو د لوړ قد انجلۍ می د خوانه تیره شوه مخ می ورته ونه لیدو ځکه په چټکۍ می د مخې تیره شوه، ځان یې استاد خواته نژدې کړو خو شا یې مالومیده د ونې دنګه نرۍ ملا وه هڅه می کوله څیره یې وګورم د شا یې اندام ډیر ښه ښکاریدو همدې خبرې می تلوسه زیاته کړه ځکه غږ یې د زړکي نه کم نه

وو لیوال یې کړم چې مخ یې هم وګورم خو هغې د استاد سره خبرې روانې وې ده خبرو یې ناخبره وم بس دې ته مې تلوسه وه چې مخ راوړوې چې څوک ده او څنګه ده، خو هغه لا استاد سره لګیا وه، زه همدې سوچونو کې وم چې چې د استاد غږ مې تر غوږو شو هغه زما نوم واخیستو شبیر زر په لاس ټک راکړو د سوچونو راووتم د جلې مې پام استاد ته شو هغه حاضرې په لاس کې نیولې وه ماته یې څه وویل چې ښه ذیر شوم هغه ماته وویل دا حاضرې واخله او ددې مس نوم پکې وګوره چې شته او که نه د ځای راپورته شوم د استاد د لاسه مې حاضرې واخیسته خو زر مې د استاد بله خبره هم واوریده چې دلته یې مه لټوه، بهر ته وځه دلته لیکچر مس کیږي یا پاتې کیږي. جلې لا ما مخکې شوه زه ورپسې شوم. که څه د خبرې پوره نه وم خبر چې څه وکړم ځکه په ذهن مې همغه خوږ غږ تاویدو، استاد غږ وکړو د هر څه مې پام واختیدو بس د بهر په لورې روان شوم د دروازې به لږ مخکې تلې وو چې خاضرې مې لاس کې واړوله راوړوله حیرانې مې غږ وکړو څه ولټوم؟ زه خو پوه نه شوم هغې بیا په نرمه لهجه وویل جدیدالشمول زده کړیالانو لیست کې زما نوم ولټوه، غږ یې د نژدې نور هم ډیر خوږ وو د اوریدو سره سم مې ژر خاضرې خلاصه کړه حال دا چې هغې مخ ته مې هیڅ ونه کتل پام مې ټول خاضرې ته وو، جلې په نرم غږ بیا وویل که مهرباني وکړې او نوم مې زر ولټوې چې شته که نه د جلې بیا ځلی غږ د نورو خبرو راویستم ژر مې سر پورته کړو چې جلې وګورم چې مخ مې پورته کړو نو څه رضوان مې ولیدو نه شم یې بیانولې د هرې خبرې ووتم ساکنه پاتې شوم، هغې خبره وکړه خو اوس یې غږ نه وو په غووږ مې بنګار شو، ددې حسن دومره ډیر وو، چې خبره مې هیڅ د غوږو نه شو، خو دومره مې واوریدل چې خپله وروستۍ خبره یې وکړه ، حاضري، نوم او جدیدالشمول! دې خبرې سره یې مخ راپورته کړو او د حیرانۍ او پریشانۍ سترګې زما په سترګو وګنډلې کاته یې نه وو، د غشو ګزار وو سیده یې په زړه وویشتم سترګې نه وې د څه بله بلا وه، د رنګه زیړې بخنې لکه طبیعت په غیره

کی ژیر ګلونه غوړیدلی وی، کمانی وریځې او اوږده کتار کتار بانه سم لکه د کرن خان د سندری هغه بیت چی وایی (ده څه سره تشبی ورکړمه هیڅ پری نه پوهیږمه، د څه په شانتی تیز کوی ګزار ستا بانه) بانو یی د سترګو ښکلا نوره هم زیاته کړی وه داسی فکر می وکړو لکه ددی بانه ددی د سترګو چوکیداران ددی خدمت ته ودریدلی،هر څه وو خو زه بل چیری لاړم د حسن طلبګار ته خدای خپله خدایی ښودلی وو، همدا وو چی سترګو یی د هره کاره وویستم، د سترګو اثر یی دومره زیات وو چی نور هر څه یی شاته کړل سترګو یی په نیمه دقیقه کی د ځان کړم ، همداسی ورته په کتو شوم هغی په پسته خوله خبره خلاصه کړه او د خبری ځواب غوښتنو په باب راوکتل خو زه یی د خومارو سترګو په میخانه کی لاهو کړی وم، د ظالم لور بیا دې خوماری سترګو ښکلا ته د خط لکی هم ورکړی وه، زما خو په کتو سره وار خطا شو،هغی بیا غږ وکړو اوری؟ زر

می د ورخطایی وویل نا هوو ااا هغه ژبه می بنده بنده شوه، هغی رډي راډي وکتل ومی ویل صبر چی وی ګورم هغی بیا په حیرانی وویل څه کوی ؟

ومی ویل خو نوم دی ګورم کنه!!

په خولی یی لاس کیخودو فکر کوم مسکیدل یی پټول، زر یی وویل نو تاته زما نوم معلوم دی چی ګوری یی؟

که ریښتیا ووایم خجالته یی کړم ریښتیا یی وویل لکه د لیونو نوم په لټه کي شوم او له دی ناخبره چی نوم یی څه دی ؟

په عاجزئ می وویل خا نو ته یی ووایه ستا نوم محترم څه دی ؟

خا وایم یی زما نوم حسینا بنت عبدالله خا می وکړه او سر می ښکته کړو او په لټه کی یی شوم زما زړه او مغز هسی هم د کاره ووتلی وو خو بیا هم هسی لګیا شوم چی نوم یی ولټوم هڅه می کوله چی عادی اوسم خو نا دا کار شاید اوس له ما نه کیدو هر څه

چې وو هغه شوی وو اوس بیرته په ځان واک تر لاسه کول کړان وو، خو بیا می هم خاضری د اول نه تر اخره پوری وکته، خو نوم  می تر سترګو نه شو، ومی ویل نا!! دی کی دی نوم نشته  لهجه یې تنده کړه څنګه نشته باید همدلته اوسی هغه د نورو صنف استادانو وویل نوم به دی دی صنف کی هتمن وی، ځکه د دریم سمستر همدا دری صنفونه دی، که د زړه ووایم دی غوسی یې لک وډار کړم په مړاوی غږ می وویل خو خپله یې وګوره ،زه هو څه د سترګو کمزوری نه یم، چې ماته به دی نوم نه ښکاری، ځان می عادی ښودو خو یو پسی می بل کار خرابوو ومی ویل دی خاضری کی محبوبې په نوم څوک نشته، حسینې سترګی یې بیا په قهر راواړولی او وی ویل څه دی وویل؟

نه پوهیدم بل رقم شوی وم حال می عادی نه وو ومی ویل څه ووایم ؟

هغی وویل تا کوم نوم لټوو ؟

خوله می برابره کړه چې څه ووایم خو پوه نه شوم چې څه می ویلی وو او اوس نور څه ووایم !! په ورخطایې می بس دا خبره وکړه خو ستا نوم می ولټوو نه وو، هغی افففف وکړو او داسی خبره یې وکړه ای زما خدایه دا څه حال دی زه څه وایم او دی څه لټوی په حیرانی می وویل نو تا ویل کنه چې نوم می ولټوه، هغی قهر نور هم ډیر کړو وی ویل محترمه تا تر اوسه په حاضری کی محبوبه لټوله؟ سترګی می په حیرانی غټی کړی خوله می بنده کړه څوکه می وویل نو تا څه ویلی وو؟

بد بد یې راوکتل د ځان سره وبنکیده او غلی شان یې وویل څه خبری د کومی اندیوالی نوم یې دی چې اوس یې لټوی

ومی ویل څه بنکاری دی خیژی؟

نور يې څه ونه ویل بس دا خبره يې وکړه څه نه ته دا حاضری ماته راکړه زه يې خپله ګورم چې نوم مې شته که نه، هیڅ نه پوهیدم چې دا څه مې روان کړی هسی لګیا وم پر ځای ددی چې غلی اوسم بیا مې تری وپوښتل چې خبره خو وکړه څه وشو؟

هغې وویل زما نوم حسینا دی غلی شان مې وویل هغه خو يې خو نوم به دی هم وی نه وم خبر، هغې برګې برګې وکتل او حاضری يې زما د لاسه واخیسته د نوم په لټه کې شوه خو خدای مې یو څه حیا ساتله په ربښتیا يې حاضری کې نوم نه وو، د تشویشه يې تندی ته ټک وکړو وی ویل نو اوس به څه کوم زر مې وویل نو دی کې څه خبره ده ؟

چې تندی ټکوي د معلوماتو څانګې ته لاړه شه پوښتنه يې وکړه، د قهر او د پریشانه سترګې يې راواړولی وی ویل خپل کار سره دی کار ساته ستا زما کار سره څه ؟

دا ځل لږ په زړه ښه شوی وم ومې ویل کار نه لرم بس ومې ویل زړه دی نوم دی لټوی او که ځې حاضری مې تری واخسیته او په روانیدو مې له ځان سره وویل د ښه والی زمانه نده پاتی پخوا به خلکو د مرستې په بدل مننه کوله اوس نو ګوره خبری واوره، خپل درس مې نیمه کې پاتی شو او دی سره راغلم او خبری هم ددی دی په خبري سره د ځای راروان وم هغسی زه هم پوه شوم چې بلده نه ده که نه دومره واړی خبری ته يې دومره فکر نه کوو چې روان شو ډاډه وم چې غږ کوی او همداسی وشو تر شا يې غږ وکړو اوری!!

زه بیا هم روان وم  ددی غږ مې زړه ته لږ سکون ورکړو خو دا چې قهر يې کړی وو او خبری يې راته وکړی نو بیا هم روان وم چې ازار ور کړم بیا يې وویل ګوره تاته وایم ودریږه!

مخ مې  ورواړوو ومې ویل ماته وايې؟

د غوسی یې غبږ بندیده خو بیا یې هم وویل هو  تاته وایم یو لحظه صبر ګامونه می بیرته واړول او نژدی شوم ورته ومی ویل بیا څه دی تا خو وویل خپل کار سره دی کار لره، اوس چې روان یم د شا راپسی غږونه کوی،د ناز سره می د مخ محراب هم خفه ونیوو، په خمارو سترګو یې بیا راوکتل وی ویل نا غوسه نه کوم فقط پوښتنه می کوله چې دا معلومات څانګه چیرته ده؟

زړه کی می وویل که آدرس دی وښودو بیا نو مجبور چې صنف ته لاړ شی او د هر څه بی خبره پاتی شی، نو زر می وویل راځه زه یې به یې دروښایم، که ځای یې دروښایم شاید پیدا یې نه کړی، غلی شوه څه یې ونه ویل پوه شوم چې خبره می منی، نو زه تری مخکی شوم دی راپسی شوه، خو نه پوهیږم ولی هر څه خطا وو، زړه درزا ،فکر ، خبری او کړه وړه لاسونه می هم یو څه رپیدل زړه کی  مي وویل دا اوس څه حال شو، ایا دا مخکی د دی د راتګ څخه وو ؟

که ددی راتګ داسی بی واکه کړم کیسه به څه وی ؟

زما ذهن او زړه لا سره جوړ شوی نه وو چې غبږ یې وکړو لیدلی دی دی که هسی روان یې ؟

دی خبری یې لږ څه وڅهارولم ومی ویل تا لیدلی ؟

هغی وویل که لیدلی مې وی نو په تا می څه کول؟

افففف ددی وار په وار ځواب غوسه راوسته جلی نه وه  سمه د ټوپک مرمی وه، چې بی واره یې ډز کوو، ومی ویل چې لیدلی دی ندی نو غلی راځه راپسی خوله یې  د لری چلېده خو نه پوهیږم چې څه یې ویل، ځان سره می وویل خدایه اوس می حیا وساتی داسی نه لار غلطه کړم.خبری خو به لا هغه وخت وکړی ، خدایه دا څه په غم اخته شوم دا څه بلا ده، راتګ سره یې رانه د یو کال ځای هیر کړو، خو بیا می هم فکر کار

ګوو ځای مې شکر چې غلط نکړو، ته مې ورته یو ځل بیا وکتل بیا يې په زړه ټک راکړو په نرمه خولې مې ورته وویل دا دې ورځه غلی رانه تیره شوه، شعبې ته ننوته زه بیرون منتظر شوم، تیرې لس دقیقو ته مې فکر شو ومې ویل دا څه رقم ده، هر څه يې رانه هیر کړل، بیا مې ورته سترګو او کتو ته پام شو. ومې ویل خیر که د قهر ډکه ده، خو خوږه ده. حسن هم لرې پرې ارزی بیا مې خبره نوم ته شوه ومې ویل داسې نه بل صنف ته يې ولیږی بیا به څه ګوم اوس یو ځل مونږ ته راغله نو څنګه يې بل ځای ته ولیږي نا سترګې مې اسمان ته پورته کړی، ومې ویل وا خدایه خیر دی زموږ د صنف يې کړی. بل صنف ته يې مه لیږه. دی خبرو وروسته مې ځان ته پام شو تندی مې ګونځ کړو ومې ویل هدایته!!! ته او دعا سهار خو دی مور ته ویلی وو چې زه دعا ته ضرورت نه لرم نو څنګه اوس یو ځلی دی خوله دعا ته کړه، نه پوهیدم چې وخاندم که حیرانه شم د لسو دقیقو لیدل يې بې واره کړم د یوه ښه محصل نه يې لیونی په څیر کړنو ته کړم، لاس مې په مخ کش کړو، ومې ویل دومره دی فکر مه کوه وډ ګوه، خدای به خیر کړی، زه لا فکرونو کې وم چې د شعبې راووته یو ځل مې ورته بیا وکتل د صفتونو ډکه مې بیا خواته راراونه وه ښه راته نژدې شوه ځان مې لږ څه سم کړو خو اوس مې حال دا وو چې د ویرې مې پوښتنه هم نشوه کولی یو خو يې غوسه د پوزې په سر وه، بل ویره مې هم درلوده هغه دا که نوم يې نه وی لیکلی مجبور بل صنف ته يې ولیږی هغسې مې هم نه پیرزو کیده ځکه احساس مې وکړ چې یو څه خو پکې شته هغه د کرن خان سندره مې رایاده شوه (کراماتو نه خالی نه یمه ملګرو خیر دی که ولی نه یمه ) دا هم که خاص نه وه، نو عامه هم نه وه،ددی خبری احساس مې د هغې د لومړی کتو څخه اندازه کړی وو د هغې په لیدو مې زړه ته سل پوښتنې راغلی او لاړی همدی کې وم چې خواته مې ودریده د خیاله راووتم او پوښتنه مې تری وکړه،څنګه دی وکړل؟ څه يې وویل ؟

اوس يې زړه د نوم او د شعبې د غمه ښنه ډاډه وو په مسکا يې وویل څه به ووايې نوو ؟

نوم يې راته ولیکه زما نوم د لیسته شاته پاتې شوی وو. د ظالمې خندا هم حد کوو ددی بې شماره حسن راته سترګی وشرمولې سترګی می ښکته کړی خو نه پوهيږم چې ددی په یوه خبره چې نوم یې راته ولیکو زړه ته یې څومره خوښی وکړه، که دا په دي وخت کې ولاړه نه وی نو دی کی هیڅ شک نشته چې څو ټوپونه به می وهلی وی. خو ځان می کنترول کړو. ومی ويل خا زا ښه کار وشو، سترګی یې راواړولې څنګه ښه کار ؟

ومی ویل څه نه بس چې کار دی شوی وی نور څه نه، خا یې وکړه خطرناکه سترګی یې بیرته واړولي زړه کی می وویل الکه د خبرو یې تیریږه هسی هم د ټوپک ډز دی هسی نه د زړه په لیست کی یې د نوم ثبتولو د مخکی خپل نوم پاک کړی، راروان شوم خو په زړه می ګوړی ماتیدی نه پوهیږم هسی ورته خوشحاله وم، شبیر ته کړی هغه خبره می یاده شوه چې مینه هغه ده چې انسان د خطا کړی نه پوهیدم ددی راته یو څه خطا کړی وم،خو دومره زر چاته د مینی خطاب ورکول دا هم د منلو خبره نده یو ځل بیا می ورته وکتل شاته می راراوانه وه ښکلې سترګی یې په طبیعت کی ګنډلی وی څه خبرې ددی په څیره کی می خپله اینه ولیده حسن ، غرور، او ضد هر څه پکی وو نو لا ځان سره می وویل خیر که غرور لری تر څنګ یې حسن هم لری دا هم پوهیږی چې په هر څه ارزم ددی خبرو سره روان وم چې بیرته ټولګی ته ځان ورسوم یو ځل می بیا په غله ورووکتل هغی سر ښکته نیولی وو او شاته می راروانه وه د هغی مخکی شوم او ټولګی ته ننوتم ټول راته داسی برګ برګ کتل دا چې حالت می عادی نه وو، نو غلی راغلم شبیر خواته کیناستم . زما روسته هغه د اجازی وروسته صنف ته داخله شوه لاس کی نیولی حاضری يې میز پر سر کیخوده اوس د استاد لکچر هم پای ته رسیدلی وو. ګړی يې شمارلی تر څو د صنفه ووځی حسینی ته نرګس خپل خواکی د ځای لپاره د ناستی وویل هغه چې روانیده. نو استاد ورنه وپوښتل څنګه نوم دی

ولیکل شو یا نه ؟اوس په ټولګی کی خاموشی خپره وه اوس می کولی شو ددی او د استاد خبری په اسانی واورم حسینی ځواب ورکړه خو ولیکل شو لیست کی می نوم شاته پاتی شوی وو، استاد وویلی خا اوس کولی شی ځان را وپیژني دا چې نوم دی ولیکل شو نو اوس ددی صنف برخه یې حسینی لاس بکس د نرګس خواکی کیښودو او ځان یې استاد ورو پیژنو که څه هغه استاد ته لیګا وه خو زما ورته پوره پام وو ددی داسی روانی انګلسی ته خک پک پاتی شوم د انګلیسي دومره روانه ژبه سخت لغاتونه او پر مفهومه خبری نور هم د اغیزی لاندی راوستم، ما یې اوسه پوری د سترګو او د حسن صفت کوو دا خو لا نوره هم وتلی وه د انستیتوت د لاری یې کابل پوهنتون ته لار موندلې وه، ربښتیا هم لیاقت یې د ستاینې وړ وو، د معرفي وروسته استاد ورته د سپینګنګ صفت وکړو او بیا یې ورته ښه راغلاست وویلی، هغی د مننې وکړه، زړه کی می وویل نرګس نور خو د کار نه یې خو دا چې حسینا دی خواکی کینوله او ځای دی ورکړل نو پوره وړی دی کړم، ځکه د هغې ځای له زموږ ځای نه ډیر ښه ښکاریدو ،فقط چې سر به می وخوروو هغه ځای به ډیر نژدی شو، په اسانی می کولی شو چې ننداره یې وکړم په دی خبره نور هم خوښ شوم د استاد وخت پوره وو او د صنفه ووتو دا چې لس دقیقې وخت مو لرو نو ځینی انجونی ټولګیوالی یې خواته ورغلی او د ښه راغلاست وینا یې وکړه، خو عجیبه وه هغه جلی چې بیرون بل ډول وه اوس هغسی نه وه په خوله یې خوږه مسکا خپره وه او ټولو سره یې په خوږه لهجه خبری کولی همداسی می ورته کتل چې ده شبیر غږ د حسینی د ننداری راووستم وی ویل الکه دا خو په ربښتیا هم حسینا ده، او ربښتیا تا اوسه پوری بیرون څه کول او اوس چې راغلی نو ولی داسی غلی یې؟ څه وشو درباندی؟ بیا یې خبری شیطانی شوی وی ویل دی حسینی دی هم لکه چې زړه یوړو او وار دی خطا شو، زه بیا هم غلی وم هغه وویل یاره هسی که ووایم لا تا چې می د حسن په باب اوریدلی وو کټ مټ هغسي ښبی لری سترګی می ورواړولی ومی ویل ولا چې لری خو یې، خو!!

شبیر وویل دا خو دی ولی وکړه؟

ومی ویل خو می ځکه وکړه چې نور هم ډیر څه لری؟

لکه څه؟

پوښتنه یې وکړه ومی ویل بس یار څه ووایم هسی په لیدو یې ورخطا  شان شوم نه پوهیږم ولی شبیر وخندل وی ویل نو دا خو څه نوی خبره نده،

ومی ویل یار هغسی نه

نو څنګه سی؟ ته یې ووایه چې زه هم پوه شم هسی راته په زړه غوټی جوړوی ربښتیا سترګی یې غټی کړی ته خو بیرون هم تلی وی کنه هلته یې څه وویلی چې داسی ګډی وډی وایې؟

ما خو درنه پوښتنه هم وکړه خو تا څه ونه ویل خو اوس به حال وایې چې ولی داسی ژیړ ځبیخلی راغلی، مخ می د هغی شبیره ته واړوو ومی ویل یاره یو خو ته څومره حوصله لری هیڅ می ندی کړی ښه سم یم نه پوهیږم ولی خو نه غواړم له دی احساسه می څوک خبر کړم هغه ته منکر شوم همدی خبرو کی وو چې بل استاد راغی لیکچر یې پیل کړو نن نو ورځ د حسینی وه، هغه ځوابونه یې ورکړل چې مخکی ما ورکړل استاد یې دی ته اړ کړو چې نوم یې وپوښتي او آفرینی ووایې نوری انجونی خوارکی چې به راغلی تر یوه میاشت پوری به ګونګی ناستی وی نو زړه به می دی ته تنګ شو چې ایا دا اوس ژبه لری که نه؟خو حسینا بدله وه د هغی لومړی ورځ داسی وه لکه د تیر کال نه مونږ سره بلده وی نه یې ډار او نه یې د چا شرم کوو هغه څه چې یې په زړه وو هغه به یې په ځغرده  وویل او ددی دا جرعت په لومړی ورځ وستایل شو، غابښ په ګوته ورته ټول پاتی وو زه هم د نورو ورځو په څیر نه وم غلی ناست وم شبیر به د ځواب سره وویل یار ته به ماته ددی خبری کیسه کوی چې تا ولی وویل

چې دا نور هم ډېر څه لري، هغه د بیرون تګ به هم ووایې خا مې وکړه دا لکچر هم پای ته ورسیدو تفریحې ته یې وخت راکړ ټولې انجونې د ځای پورته شوې تر څو بیرون ووځي نرګس حسیني ته څه وویل دا چې ځای یې یو څه لري وو پوه پرې نه شوم چې څه وایې، بس د حسیني سر د ناا ویلو لپاره وخوریدو ما لکه د باز سترګې پکې ښخې کړې وې، نرګس د ځو ځل ویلو وروسته د حسیني د خوا روانه شوه، هغه په خپل ځای پاتې شوه نو ګمان کیږي چې د بیرون وتلو ته یې زړه نه وو وار په وار ټول د صنفه ووتل هلکانو د وتلو وخت کې د لرې د ښه راغلاست وویل هغې د مننې لپاره سر وخوځوو خدای شته دا خبره مې هضم نشوه یو رقم بدې ولړیده ښه وو هلکان ډېر وخت ونه درېدل د ښه راغلاست وروسته به ډېر زر ووتل اوس نو صنف خالي شوی وو، شبیر وویل نه وځو ګوره زه وړې شوی یم ومې ویل طبیعت مې جوړ ندی نه ځم ته لاړ شه هغه د لاسه کلک کړم وی ویل پوهیږم چې اوس لا ما کیسې پېښوی نو ځکه راسره نه وځې، هله نو پورته شه چې زړه مې تنګ شو مجبور وم د ځای پورته شوم څو چې وتم تر هغې مې دی ته پام وو هغې بکس کې لاس وهو شاید څه یې لټول نظر مې نور هم ټینګ کړو، چې دا څه کوی د بکس بې د سور پوښ ډایرۍ وویسته او پر ځای یې کیښوده زه هم د هیساریدو نه وم شبیر د لاسه ټینګ کړي وم شبیر هم ښه راغلاست وویل خو څه خبرې د نورو په څېر یې په خوله خندا نه وه عادې او په ټیټ غږ یې وویل چې مننه شبیر خو ورته څه نه وو ویلې فکر کوم دا چې زه وم ورسره دی لپاره یې څه خاص دلچسپې ونه ښوده، هغه په ټولګې کې پاتې شوه او موږ ترې راووتو خو کړنې یې زما په فکر کې تاویدې او راتاویدې شبیر بیا ټینګ کړم وی ویل هلکه څه شوی ؟

ته حال خو ووایه په خوله ګونګی شوی که څنګه بل وخت به دې چغ چغ کوو چاته به دې د خبرو وار نه ورکوو نن څنګه داسې بل ډول یې هغې جلې خو به څه نه وی ویلې ؟

هغه حسینا ښایم د حسینی نوم سره می بیا شبیر ته وکتل شبیر بیا وویل وا خدایه څه وایم درته ؟

همم وخوزیدم ومی ویل څه وایي ؟

ولی تا ونوریدل چی څه می وویل ؟

نا ما خو څه ندی اوریدلی څه دی وویل ؟

هغه وویل زه وایم چی حسینی درته څه ویلی څنګه داسی بل ډول ښې سهار خو کټ مټ وی تر کومه چی ښهر د حسینی سره تلی یی وضعیت دی بل رنګه بریښی سترګی می پټی کړی ومی ویل څه نه هغسی څه خاص نشته

خا چی خاص پکی نشته نو ولی یی نه وایي چی بیرون مو سره څه وویل ؟

شبیر هم ماسره په اوسیدو ضدي شوی وو، زما خوی یی اخیستې وو پرته د ځواب یی په هیڅ صورت نه پریخودم ددی لپاره چی ځان تری خلاص کړم او خپل د زړه احساس نه یی لری وساتم د حسینی هغه کړنی چی د غوسی ډکی وی ورته یادی کړی او داسی می څرګنده کړه لکه دا جلی چی می د پامه بدی راغلی وی  شبیر هم وخیار وو وی ویل صنف کی خو ښه وه، عاجزه ښکاریده ددی د عاجزې غږ سره می وویل نا نا عاجزی چیرته ده ژبه یی نده قیچی ده قیچی هغه وویل خیر دا خو کومه خبره نده ما ویل که بل څه شوی ده شبیر ده داسی ځواب رامعلومه شوه چی د خبرو یی خلاص شوم په ریښتیا نن می د حسینی وروسته د خبرو حوصله نه وه، لږ څه مو وخوړل او د صنف په لور روان شو چی صنف ته داخل شو نو هغه په خپل ځای سیخ ناسته وه لکه شور چی یی نه وی خوړلی ارامه ارامي وه. نور ټولګیوال لا نه وو راغلی هغی ته می د سترګو لاندی وکتل لګیا وه په هماغه ډایری یی څه لیکل داسی پکي بوخته وه چی زمونږ په راتګ هم پوه نه شوه یا کیدای شي چی ځان یی راباندی پوه نه

کړو، چې څوک شته که نشته پر ځای مو کیناستو هغه همځاغسې په خپل کار بوخته وه. زموږ نه پس صنف ته ټول راغلل حسینی غلی خپله ډایری بنده کړه او په بکس کی یې واچوله، درس پیل شو او تر پای رسیدو پوری ټولو به درس ویلی وی خو ما فقط دی ته کتلی نه پوهېدم چې څه خبره وه استاد د درس غبږ راباندی وکړو خو دا چې زه په خپل حال نه وم بل ډول شوم استاد رډی رډی راوکتل او وی وپوښتل چې کومه نړی کی یې څنګه داسی بدل راښکاری؟

دا چې د استاد خبری د فکره راویستې وم نو ژر می وویل نا استاد څه نه هسی لږ می سر درد کوی استاد وویل خیر لویه ستونزه نده درس ته متوجی شه

مننه او خا می وکړی او پر ځای می کیناستم دا لکچر وروستی لکچر وو، نور وخت پای ته ورسېده د رخصتۍ وخت شو د ټولو مخکې د ځای پورته شوم شبیر وویل هلکه صبر څه وشو ومی ویل هیڅ بس راځه چې ځو هغه وویل سمدا او دومره وار وکړه چې دا کتاب و کتابچې راټولی کړم دومره تلوار دی دی ومی ویل الکه سر می په درد شو نور بس دي هغه زر زر خپل بکس راټول کړل او رااروان شو په لاره هم غلی وم، ده هغه زړه خبری غوښتی چې څه ووایې خو ما ځان غلی نیولی وو، هیڅ می نه ویل هغه چې زما وضعیت ولیده نو ځان یې د هوښیارانو په څیر غلی کړو او بس د لاری ملتیا یې راسره وکړه. د عمومی سړک پوری راسره وو ده هغه ځای نه وروسته بیا زموږ لاره بیلیده، هغه به په یوی لاری شو او زه به په بلی لاری نن هم همځاغسي وشو هغه غاړی وتو او وی ویل چې کورته لاړی دوا وخوره نور می د خوا غلی تیر شو د سړک نه می لار ونیوه په لاره هم پوه نه شوم کورته ورسېدم دروازه هم زمونږ د کور لاندی همسایه خلاصه کړه د همسایه زوی حمزه نومیده عمر کی به زما همزولې وو، دا چې ډیر وخت مو سره کډ تیر کړی وو نو پاخه ملګری وو کله کله به دا هم راسره د پارک ملګرتیا کوله ستړی مشي یې وویل نوری څو پوښتنې یې وکړی دا چې زه بی حاله وم، نو ډیر غرض یې ونه کړو، زه هم تری په خاموشي خپل کورته

وختم مور ته می سلام ورکړو او خپلی کوټی ته می ځان ورسوو ځان او سر می شدیده درد کوو نه پوهیږم ولی مور ته می وویل موری وږی یم هغی وویل ته مخ لاسونه میځه زه ډوډی دروړم اوس نو مخ و لاس به چا وینځلی وی یو نفر خو ددی لګیدو چی زه یې د ځای پورته کړی وی، ډیر په سختی د خپله ځای پورته شم پورته شوم مخ لاسونه می ومینځل ډوډي می خوړله چی په همدی وخت کی می مور د چای پتنوس هم راوړو ومی ویل موری خدای دی جنتی کړه سر می ډیر درد کوی نه پوهیږم ورځ می هم ښه نه وه هسی ناحقه تلم

وی ویل ولی څه شوی؟

ولی دی ورځ  ښه نه وه ؟

چاسره هو به دی جنګ نه وی کړی؟

ومی ویل نا موري چاسره به جنګ وکړم هسی سر می درسونو په درد کړو نور هیڅ نشته خا خیر دا غټه خبره نده ارام وکړه چای سره دوا هم واچوه ځو شیبی ویده شه جوړیږی، خا می وکړه او هغی د ډوډی دسترخوان رانه یوړو د چای څو ګلاسه می وڅکل او وروسته می دوا واچوله لږ څه یې ارامه کړم همداسی په خپل ځای وغزیده تر ډیره می د هغی سترګی مخته مخته کیدی خو نه می غوښتل چی دا ارامه سکون می په ځان حرام کړم سترګی می پټي کړی او د څه ساعت لپاره ویده شوم مازیګری وخت وو چی پاڅیدم وجود می سپک شوی وو. د بد حالته راوتی وم شبیر ته می زنګ ووهو او د پارک ته د راتګ می وویل هغه انکار ونه کړو او وی ویل ته تر عمومي سرک ځان رسوه زه هم درځم پورته شوم او مخ و لاسونه می ومینځل او د کوره ووتم. رښتیا هم شبیر په څو دقیقو کی راغی دواړه پارک ته روان شو شبیر په خبری کی وویل الکه نن بل ډول وي خبری دی هم ونه کړي خیرتی ده؟ومی ویل خو هر څه سم دی. بس د هغی راتګ راته طبیعت ګډ وډ کړو نه پوهیږم دا تندر زمونږ په صنف ولویدو

خو بل صنف ته به تلی وی دا ټولی خبری می زړه د پاسه کولی فقط ددی لپاره چی شبیر می په احساس پوه نه شی هسی هغه هم ډیر وخیار وو په نیمه به پوهیدو خو نه می غوښتل چی پوه یی کړم هغه زما داسی خبری په اوریدو وویل یار ما ویل ته به یی د حسن صفت نه مړیږی ماته به څه څه وایی ستا خبری ایله ده دی فکر نه شم کولی ومی ویل د حسن یی نه وایم د خبرو یی ګیله من یم باید داسی غوسه یی نه وی کړی هغه وویل خیر نوی ده ورو ورو به ښه شی سر می وخوروو پارک هم رارسیدلی وو یو ځای ننوتو عمر تل په څیر په مستی سر وو سندری یی سر کړی وی د لری مو سلام وویلی او د ونی لاندی د ګلانو څنګ ته کیناسو عمر ته مي د چای وویل زما ګلانو ته پام شو رنګا رنګ ګلونه وه د شمال په لړیدو به په مستی د یو خوا نه بلی خواته لاړل او بیرته به خپل ټاکلی ځای ته راغلل ماته ګلانو حسینی رایاده کړه، رښتیا ښایست کی د ګلونو وتلی وه همٲغسې نازکه شونډی ګلاپی اننګی او ښایسته بدن تازه او مینه ناکه څېره نو دا ویل به د هغی د حسن توهین وی چی څوک ووایی ګلان د هغی ښایسته دی بیا می د طبیعت شمال ته فکر شو ومی ویل که حساب ونیسم نو داسی به یې چی دا ګل حسینه ده او زه ده طبیعت ازاده هوا داسی نه چی د خپل ځای یی بی ځای نکړم نا لکه چی غلط شوم داسی نه هغه می په خپله خشبو کی بندی کړی هغه خو به بیرته خپل ځای ته ستنه شی خو زه به زه پاتی نه شم د نن ورځی هغه سلوک چی شبیر سره یی زما په شتون وکړو یی زما د زړه ته ودریده لږ ناارامه شوم  چی ولی یی رفتار د نورو په نسبت ماسره بدل وو غوښتل می ووایم چی  تیر شه دومره اړینه نده خو نه پوهیدم زړه می په همٲغه دقیقه کی قید ښکاریدو احساس می بدل وو یا کیدای شي ناروغه اوسم افقف می وکړو لکه د ځان سره چی په جنګ یم  شبیر غږ کړو هدایته څه په سوچونو کی ډوب یی؟

عمر درته لګیا دی خو ته په بلی دنیا کی غرق یی د خیاله راوتم ومی کتل عمر د چای سره زما تر څنګ ولاړ وو ومی ویل عمره څنګه یی ؟

هغه په خندا وویل زه خو ښه یم،خو ستا طبیعت څه بل ډول بریښي څه شوی ؟

ومی ویل څه نه هسی د پوهنتون نه چی راغلی یم لږ څه بی طبعی یم عمر سر اسمان ته کړو، وی ویل خدایه خیر کړي لکه چی هلک بیا کوم څوک لیدلی، شبیر وخندل وی ویل ته څنګه پوه شوی؟

وی ویل ګوره دومره خو زه هم پوهیږم خیر دا ووایه چی څوک دی لیدلی کوم داسی رضوان چی د حیریدو نه دی؟

ومی ویل نا مړا دومره هم نده چی بیخی د حیریدو نه ده داسی کوم څه نه لری

نو بیا ولی داسی غلی یی؟

نه عمره داسی څه نشته هسی مخکی کی شبیر ته هم وویلی د جلی ترخو خبرو بی طبعته کړی یو ځکه می په سر درد دی نور څه نشته عمر په خندا شو وی ویل نو دی کی د سر دردی څه خبره ده هغه انجونی چی حسن یی د نورو په نسبت یو څه جیګ وی ده هغوی غرور هم بیا داسی د نورو په نسبت جیګ وی او بله دا ماته خو چی څومره ښکاری ته خو ښه حسن طلبه انسان یی ته یی خبری څنګه په زړه اخلی د حسن طلبګار خو د حسندارو هره خبره تیرووی په تا یی څنګه داسی بده اغیزه کړی ؟ عمر می کمزوری رګ د شبیر مخکی رانیوو دا چی لا مونږ مشر وو نو تجربه یی هم ډیره وه پوه شوم چی دلته بند راځی په دی نه وم خفه چی لهجه یی ترخه وه خفه په وم چی د نورو په مقابل کی یی ماسره خبری ترخی وی، ددی لپاره چی لا دی خبرو تیر شی ومی ویل همم کیدای شی ناروغه اوسم ، عمر ماته چای رامخکی کړو وی ویل خیر چی هر څه وی ته دا چای وڅکه خپله ښه کیږی د ځای څخه د پاڅیدو پر مهال یی وویلی تاسی مو خبری کوی زه می مشتریانو ته ودریږم هغه لاړو. ما او شبیر تر ډیره په خپلو کی لګیا وو خو شکر د هغه د خولی می د حسینی ذکر پر ځای نوری خبری راوستی وی د نن ورځ ټولی کیسی وکړی په کیسو کیسو کی به یی د حسینی

نوم هم واخیستو د هغې نوم به راته په زړه زلزله تیره کړه خو د نورو خبرو سره به بیرته خپله حال ته راغلم  په خبرو خبرو می ماذیګر ناوخته کړو ،همدا وو چی ډیر ژر د خپلو کورونو په لوری وغزیدو د تل په څیر هغه په خپله لاره او زه خپله لار شوم نن ورځ می ټوله په فکرونو تیره کړه کله چی شپی په بستره کی پریوتم بیا می فکر وکړو د هغې حسن په ځان کی ورک کړی وم خو دهغې ماسره داسی چلند دا می زړه ته د خطر د زنګ په څیر ښکاره شو ، خو زړه می په دی ښه کړو چی شاید لا نظره یې ښه نه یې راغلی داسی هم نه کیږی چی په لومړی نظر دی څوک څوک ویپژنی وخت په تیریدو به دی وپیژنی شاید لا څه شی چی ویریږی هغه هیڅ کومه غټه خبره نه وی په بل اړخ شوم سوچونه می لا پسی وغزیدل خو دا ځل می سوچ منفی خبرو ته نه شو پام می د هغې لومړی ځل کتو ته شو د هغې د سترګی چی کله یې راپورته کړی زه بیا په هماغه شیبه کی پاتی شوم هغه شیبه د احساسه ډکه وه زړه می ډیر پری خوږ شو په خیال کی ورسره په خبرو شوم هغه شیبه می ځانته بیخی د خپل زړه په طبه برابره کړه  هغه شیبه لا پسی رنګینه شوه دومره چی بیخی پکی ورک شوم څه وخت می ځان د خوب نړی ته وسپارو هیڅ نه یم پوه شوی سهار د الارم غږ د خوبه پورته کړم د پاڅیدو سره سم می بیت د هغې نوم یاد کړو د هغې د سمندر په څیر ژوری او شنې سترګی چی لیده یې طبیعت نوری ښکلاوی شرموی مسکی شوم ومې ویل ای نازولی ځنګه لکه چی شپی یادول دی بس نه وو چی سهار می هم مخته راځي سترګی می پټي کړی د هغې شتون احساس می زړه نور هم تازه کړو، ژر می لا ځان سره وویلی یادول دی دومره سکون لری ستا خبری به لا څومره راحت ورکونکی وی له خیره چی هر څومره زر کیږی ځان به درته ثابتوم چی ستا د حسن په معیار برابر خدای ماته پوه راکړی او که ته هم پوهیږی نو دا به درته معلومه وی چی د حسن په مقابل کی ده علم زیات قدر وی دی خبرو می زړه ډیر خوښ کړو غوښتل می د حسن ملکه د علم پوهی په واسطه راماته کړم او همدی ارادی سره د ځای پاڅیدم حمام

می وکړو او لاړم پوهنتون ته شبیر می هم د لاری ملتیا وکړه دواړه په خبرو خبرو صنف ته ورسیدو کله چې ننوتو صنف لا خالی وو څوک لا نه وو راغلی یو نیم کسان وو خو ډیر لا نه وو راغلی خو څوکه څوکه صنف د ټولګیوالو ډک شو خو هغه چی ورته په تمه وم رانغله، کړکي ته می مخ نژدی کړو ومی ویل شاید راشی خو پر ځای ددی چی هغه راشی پر ځای یی استاد راغی او لکچر یی شروع کړو زما زړه بیا هم ددی انتظار کوو چی شاید راشی او دی انتظار کې به می د خوا کړکي ته وکتل خو بیرون خاموشي خوره وه، هیڅ څوک نه وو پرته ده مرغیو چی په آزاده فضا کې چغیدي پام می لکچر ته کړو چی سترګی می بیا د کړکي په لور ونیوی په منډه راروانه انجلی می ولیده اوتره اوتره راروانه ده لاس یی کی چیتری نیولی دی او په بل لاس کی یی چتری دلته نژدی کیدو سره یی چتری وتړله د چتری د لیرې کیدو سره پوه شوم بل څوک نه هماغه ده چی ورته انتظار وم، ښکته پورته یی وکتل د ورخطایی یی ګوتی په خولی کی نیولی وی د لاس ساعت ته یی وکتل او بیا ی یی ګامونه ګړندی کړل ربښتیا هم په کتو ورته پاتی شوم د لری مالومیده چې زړه یی بی واره درزیږی او ورخطا ده، ددی څیری ته می کتل د ورخطایی سره یی په څیره کی معصومیت هم وو، پرون په شان شیشکی نه، ومی خندل بیا می وویل جلی ته خو لا معصومیت هم لری مکوه دا هره ورځې نوی څیری مه راښکاره کوه ما به ډیر غرک کړی هغه زما په مخ کی تیره شوه صنف ته به راتله مخ می د کړکي راواړوو او دی ته انتظار شوم چې اوس به ورته استاد څه وایی ربښتیا راغله اجازه یی وغوښته استاد چی په لکچر کی بوخت وو دومره یی وویل ته د راتګ وخت نه پیژنی او بیا یی د ناستی اجازه ورکړه، حسینی سر ټیټ ونیوو او په خپل ځای کیناسته دا چی اراده می لا سهاره ځان سره کړی وه چی هغه ته به ځان ثابتوم همدا وو چی ده استاد وروسته زه تشریح لپاره پورته شوم تل په څیر می ربښتیا هم ښه تشریح وکړه چی استاد می هم ستاینه وکړه د تشریح په جریان کی می هغی ته هم وکتل چی ګوندی زما د تشریح څه متاثره شو که نه ،خو څه می ولیدل چی

هغې سر ټیټ نیولی وو، ددې داسې ارامه ناستې اندیښمن کړم سودا مې شوه کله چې تشریح خلاصه شوه په خپل ځای کیناستم خو نه پوهیږم سترګې مې ده هغې په لور وې هغې ډیر وخت وروسته زما لوری ته وکتل سترګو یې نن بل رنګ حال ویل نن یې سترګې څه نمجنې شان وې څېره یې هم مړاوې وه نه پوهیږم اندیښنه مې نوره هم زیاته شوه خو بدبختي دا وه چې پوښتنه مې هم نه شوه کولی چې څه شوي خو بیا مې زر د هغه استاد خبرو ته پام شو شاید د استاد په خبرو خفه شوې وه، د هغې ده دومره خفګان په لیدو مې وویلی ته په زړه دومره حساسه یې په دومره واړه خبره خفه شوې مکوه دا خو ژوند دی ډیرې خبرې راځي ژوند کې ته به هرې خبرې ته ژاړې داسې نو نه کیږي ما لا ځان سره خبرې اړولې رااړولې چې ساعت پای ته ورسیدو د هغې سترګې مې بیا ونه لیدو او که ووایم د هغې خفه سترګو لیدو وروسته مې بیا زړه ونشو د هغې په طرف وګورم ځکه هغه لیدو ربښتیا هم زړه را خفه کړو هر څه مې حیر شو بس همدا مې په ذهن خوره شوه دویم ساعت هم په تیر شو خو دې یوه خبره هم ده خولې ونه ویسته همداسې چوپه ناسته وه تفریح ته هم ونه وته، وروستی ساعت یې هم په ارامۍ تیروو خو نه پوهیږم ماته یې ارامي خوند نه راکوو پلمه مې لټوله چې څنګه یې دا ارامي په خبرو ماته کړم همدا وو چې کله استاد په وروستي ساعت کې وویل که څه ستونزه په درس کې لرئ نو د صنف ګروپ کې یې ووایي زه به مو مشکل حل کړم ماته همدا موقه ښکاره شوه استاد ته مخاطب شوم ومې ویل استاد هغې کې ځینې نفر ندي ایډ شوي اشاره مې دې ته وه، خو هغې دا خبره لکه هیڅ وانوریده ځان یې غلی ونیوو زه هم ضدي وم بیا مې خپله وویل لکه حسینا نشته ګروپ کې حسینا بیا وخوځېده مخ یې راواړوو وې ویل نا زه مشکل نه لرم او که څه مشکل مې درلودو نو له نرګسه به یې وپوښتم، ددې داسې مخامخ ځواب خاموشه کړم یو ځل مې ورته وکتل بس دومره مې وویل څنګه چې دې خوښه وي، نور مې په خپل ځای کیناستم ځان سره مې وویل نرګس داسې شی دی چې ستا مشکل به درته حل کړي

هغه په څه پوهیږي چې ته به د هغې پوښتنه وکړی زړه می ددی خبرو خفه کوو نه پوهېدم ولی داسی عمل کوم .ددی دجدی کړنو سره ولی دومره مړاوی کیږم باید عادی یې واخلم خو داسی نه کېدل زه یې هری خبری ته متوجی وم ددی ده نن داسی سلوک بیا په زړه داغی کړم همدی سوچ کی رخصت هم شو او خپلو خپلو کورونو ته روان شو شبیر بیا غلی وو بس تګ وخت کی یې وویل بیا راځه پارک ته څو خبری به وکړو نه پوهیږم خا می وکړه که نا. کورته راروان شوم په ذهن یې راته ځان راخور کړی وو، که هر څه می کول عادی حالت ته نه راتلم، ومی ویل ته ولی لا ماسره داسی چلند کوی چې کله می دی نمجنی سترګی ولیدی نو په رښتیا خواشنی شوم زړه می بل ډول شو ما خو یوازی غوښتل کی دا خاموشی دی ماته کړم د ګروپ خبره می وچیړله بل کوم مطلب می نه وو نه پوهیږم ولی غواړم تاته ځان ثابته کړم او نه پوهیږم ته ولی داسی بد ګمانه یې ایا په ما کی داسی کوم بد څه شته چې زه یې لا نورو جلا کړی یم او ستا د قهر وار ته یې برابر کړی یم ما تر اوسه یوه خبره په ځان نده منلی نه می د چا خبره تیره کړی خو ولی ته چې راغلی زه برعکس شوی یم ستا خبری تیروم زه ولی داسی کوم اوس دی ځان سره په جنګ کړی یم ، دی ته دی هیران کړی یم چې تاسره څه ډول چلند وکړم چې ته د نورو په څیر ماسره هم اوسی دومره بد به هم نه یم ته موقه خو راکه په سترګو می غبرګ لاسونه کیخودل ومی ویل که نه تیر شه ددی ده هر څه څخه پوهنتون د انجونو ډک دی چې هر رقم غواړی شته یوازی دا نده، نه پوهیدم چې څه کوم ځان ته دلاسه ورکوم یا هم تصمیم نیسم چې لا دی دی تیر شم سر می بیا په درد شو دی خبرو په تشویش کی ګیر وم چې مور می غږ وکړو زویه راغلی یې؟

څنګه نه یم یوه شوی د فکرونو نړی راووتم او د مور خبری ته می پام شو، ومی ویل وخته راغلی یم سر می درد کوی، ځکه ارامه پروتم مور می وویل پرون دی هم سر درد کوو نن هم که څه ستونزه لری نو ډاکټر ته لاړ شه، دوامداره سرخوږی ښه نه یې

ځان سره مې وویل سرخوږی خو راته هغې بلا راپیدا کړی، کنه اوسه پورې خو ښه وم مور مې پوښتنه وکړه څه بنګیږی څه خبره ده؟

ورته ومې کتل ومې ویل نا موری څه خو مې ندی ویلې موری ستونزه نشته بس کیداشي دا څه وخت د درسونو لری وم نو اوس چې یو ځل درسونه شول نو په سر یې درد راوستو خا خیر زوی داسې وکه دوا وخوره ښه به شي. ومې ویل سمده هغه خو لاړه خو زما فکر بیا خبرو ته شو عجیبه لار کې بند پاتې وم، نه مې د لریوالی توبه ویستی شوه او نه یې د دوستی په چل پوهیدم عجیبه خبره وه، سر یې معلوم نه وو، خو زه یې ناارامه کړی وم، ډیر وخت فکرونو کې ګیر وم یو وخت ګورم مازیګر اذانونه وشو هیران هیران مې ساعت ته وکتل رښتیا هم د څلورو خبره تیره وه، زړه مې نه کیدو د ځای پورته شم خو د شبیر خبری مې په ذهن کې وی چې ویلی یې وو چې پارک ته راشه ومې ویل که لاړ نه شم نو خفه به شی امکان لری پام دی بدل شی، د ځای پورته شوم او د پارک په لوری روان شوم تصادف ته ګوره کله چې عمومی سړک ته ورسیدم نو شبیر راپسې د شا غږ وکړو وی ویل الکه هدایته زما فکری نړی اوس هم جوړه نه وه، خو چې پام مې وکړو شبیر وو غاړه یې راکړه وی ویل څنګه یې سړیا ؟

فکر مکر دی جوړ شو که نه، سهار نه خو په بله نړی کې ګرځی په مړاوی غږ مې وویل کومه دی یار هماغسې یم نه پوهیږم څه وشو راباندی هغه وویل ولی بیا څه وشو رښتیا د حسینی خبرو خو نه یې غوسه کړی؟

ده هغې نوم یې بیا مخامخ کړو چاسره چې په خیالونو کې جنګیدم ومې ویل هماغه کنه دا اوس څه بلا ده او بلا داسې بلا چې زه یې هیران کړی یم نه پوهیږم څه وکړم او څه نه هغه وویل ورو‌ره څه ګول غواړی دا وو‌ایه که دوستی غواړی نو دا خو څه لومړنی انجلی نده چې ستا ملګری دی شی او که د ده دښمنی خبره دی زړه وی نو زه به

درته ووایم انجلی ده څه ځان به سموی ورسره او که ځان هم سم کړی نو بیا هم دا پوښتنه راځی چی خوارکی څه کړی ؟

زر می وویل زه یې په بلا وهم هیڅ نه غواړم هغی ته نژدی شم هیڅ اړتیا نشته او ته چوپ شه خوارکی لفظ مه کاروه هغی سره دا نه ښایي داسی لګیا یې لکه په رښتیا چی عاجزه وی عاجزی یې ټولو ته معلومه شبیر می بیا د زړه ده حاله لری وساتو او فکر می ورته همداسی وانګیروو چی زه ورته غوسه یم اصله غوسه خو ځانته وم چی هغه څه کمی ده چی هغه لا ماسره داسی کوی شبیر وویل یار تاته نو زه څه ووایم هغه خبری چې یې وکړی کیداشی طبعیت یې همداسی وی اوس د چا طبیعت لپاره خو د هغی دښمن کیدلی نه شو، تیریږه تری، هسی فکر دی مه خرابوه خبرو خبرو کی پارک ته ورسیدو د تل په څیر د ونی سیوری او د عمر د لاس چای فکر راجوړ کړو سندری هم په زوره لریدلی وی زه هماغه شان ارامه وم چی شبیر وویل وا الکه بیا څه ته غلی بیا هو به هماغو خبرو کی ګیر پاتی نه یې؟

ومی ویل نا ګیر پاتی کیدو خبره نه ده زه هم نه غواړم چی ګیر پاتی شم د خدای ازاده بنده یم، او ازادی کی اوسیدل غواړم بیشکه چی داسی ده نو خوښ او ارامه اوسه ده ځانه دی راته مجنون جوړ کړی ده جلی په خبرو خفه کیږی کله کله خو می شک شی داسی چلند کوی لکه یو عاشق چی یې ده محبوب په باب کوی په هره خبره یې خفه کیږی په عادی خبره یې هم زړه خوری ته هم راته هغسی ښکاری پوه شوم شبیر هم زما حساسیت چی زه یې د حسینی په قهر خبره ښایم لیدلی نه می غوښتل دومره زر ورته د زړه حال ووایم نو خبره می داسی بدله کړه یره شبیره خبهر چیرته وی چیرته یې ویسی داسی هیڅ نشته هغه جلی په یوه خبره نه ارزی هیله کوم ماته یې نوره مه یادوه تاته خو معلومه ده اوس لپاره ده لیله سره یم بیا ولی هر ځل ته ده هغی په ذکر زما مغزه خراب کړی هغه وویل ښا خیر وبښه هلک لږ څه د خبری واوختیدو زر می خپله خبره لا پسی اوږده کړه ومی ویل څه لیله ده هری خبری سره خوښی راښځی رښتیا چی

په ارزښت مې پوهیږی او یو دا بدبخته چې راغلی لا نده سرګردانه یې کړم تر ډیره مو په پارک کی همدا موضوع وغږوله ډېره پارک کې ناست وو تر ډیره مې هڅه وکړه چې شبیر د خپل زړه راز چی څه غواړی لری وساتو هری خبری کی می د حسینې په مقابل کی داسې ظاهره کړه چی لا هغې لری یم او نه غواړم ورته نژدی یم خبری مې ټولی برعکس وی، خو نه پوهیږم هغه می تر کومی لا خپله سوچه لری وساتو ده هغې به یو الله خبر وو، د ماښام کېدو نه مخکی مو ځانونه کورونو ته ورسوو، شبیر سره کړو خبرو می پام لږ څه بدل کړو په یوه خبره خوښ وم چی شبیر مې د زړه په احساس پوه نه کړو او دا می ځان سره وعده وکړه چی تر څو مې د ځان سره ملګری کړی نه وی تر هغې هیڅ څوک نه خبروم کورته په رسیدو هم تر ډیره عادی وم، ماخوستن خپلی کوټی ته راغلم فکر می نور هم ارامه شوی وو، عادی وم نو ومی ویل لږ درس به تکرار کړم چی کله می درس راوخیستو او تکراروو می چې یو ځل مې د هغې کاته رایاد شو ځان سره په خندا شوم ومی ویل بیا می مخته راغلی انجلی ته ډیره بل ډول یې خا، سترګو په څیر دی یاد هم خمار لری انسان بل طرفته ځان سره وړی هر څه نه برخمنه یې څه خبری خدای بعضی وخت ټولی پیرزوګانی په یو نفر کوی، اوس تاته ګوره ښکلا ، لیاقت،او پوه تاته درکړی خو نه پوهیږم ولی دا بد سلوک دی ماته په برخه رسیدلی نه پوهیږم لا تا به کله ښه ووینم او که نه خو زه به می خپل پوره کوشش کوم چی ستا نظر چی زما په اړه ته لری لری کړم همددی څو خبرې وی چی په ذهن کی تلی راتلی نور خو هسی هم څه نه وو، کتاب می وتړه اوږده ساه می واخیسته او ومی ویل بس شو نور کتاب می سرته کیخودو او پریوتم  او همداسی می ځان خوب ته ورسوو، نه پوهیږم څومره شپه تیره شوی وه چی ناڅاپي د خوبه ویښ شوم، د شپې خاموشی د ساعت ستنو ته غږ ښښلی وو، د ستنی ټک ټک ښتو د ساعت ستنه د دوو تیره وه شپه ښه پخه شوی وه، ناڅاپي پاڅیدو هم دلیل لرو هغه ده چی په خوب کی هم راسره مخ شوی وه داسی ګمان می وکړو ماته ډیره غوسه ده او

په قهر راسره غریږی، چی ناڅاپي یې د خوبه پورته کړم ومی ویل وا بلاکی ته می اوس خوب ته هم نه پریدی، تاسره زه څه وکړم ناڅاپي پاڅیدل او د خوبه خرابیدل راته د زړه درزه زیاته کړه، بیرته می سر کیخودو او په زوره می سترګی پتی کړی، څه وخت وروسته ویده شوی وم سهار بیا د پوهنتون تګ وو، د نورو ورځو په څیر نن هم لاړم خو،خو بیا هم زړه سره څه کوی د ډیر د قابو کولو وروسته به یې بیا هم د هغې ط دا چی شبیر ته خپل احساس څرګند نه کړم په احساساتو می کنترول کوو ،هغه د نورو ورځو په څیر ارامه او عادی وه زما لوری ته یې هیڅ نه کتل، سر یې ټیټ نیولی وو، په خپلو درسونو کی بوخته وه، چی کله می خوا و شا وکتل نو څه ګورم چی زما په څیر نور زده کړیالان هم ورته په غلچکو سترګو وګوری او بیا زر ورنه سترګی لری کړی، خو هغه د ځانه هیڅ اګاه نه وه چی څوک ورته په ځنګه سترګو ته ګوری، خیر زما خو په زړه کي ورته ډیری خبری پرتی وی نو ددی نورو کته راباندی بد ولګیدل نه پوهیږم ولی کتل یې هغې ته او بده اغیزه یې پر ما کوله، شبیر ته می وویل الکه دی هلکانو ته وګوره دا دی جلی ته ډیر نه ګوری که ماته داسی ښکاری. هغه چی زما خبری په وینا وکتل نو وی ویل ګوری هو، خو مونږ ته یې څه؟ تیرېږه تری خدای سترګی ورکړی پتی خو پری نشو لګولی، ومی ویل ربښتیا وایې چی پتی پری نه شو لګولی، خو نه پوهیږم ددی خلکو کاته راباندی بدی لږی داسی احساس می کوو لکه دوی چی ماسره بد کوی، شبیر مخ راوړوو وی ویل پریدا یې چی څه کوی کوی دی پروِن یې هم زړه د بل ځای ډک وو پر تا یې تش کړو، نن هم داسی څه ونه کړی، ور ګوری خو ټول داسی نه حساب یې پر تا کړی، ومی ویل ربښتیا دی وویل هسی نه هم د عصابو داسي جوړه نه ښکاری لیونی شان ده، شبیر زما خبرو ته په خندا وو زمونږ خبری پای ته ورسیدې چی وروستې ځل می بیا ور و کتل دا ځل یې سترګی راپورته کړی زما په طرف یې وکتل اخ نو څه وویم د سترګو خو می مخکی هم ډیری خبری کړی خو دی سترګو کی بلاکی څه اثر لری غشی غشی بانه یې وار په وار

وراپول زړه یې رانه بوټ ووستو، زر می لاندی وکتل او داسی می وروښودو چی تصادف می درته پام شو خو نه پوهیږم داسی ګمان می کوو چی اوس هم ماته ګوری یا هم زړه کی یې څه شته خو بیا می وویل کاش دومره لا ښه وی چی ماته دی کومه خبره د کولو لرلی ته خو ایله غوسه او قهر کوی ځان می مصروفه کړو، بیا می ورته ونه کتل چی څه کوی او که نه د تفریح ساعت کی هم د نورو ورځو په څیر په خپلی ډایری کی بوخته وه، نه پوهیږم ولی داسی کوی نوری انجونی په صنف کی کمی خو بهر ډیرې لیدل کیږي او دا لکه څریښ په خپل ځای ناسته وی یا هو یې د عمومی خلکو بدی راځی او یا په حسن ډیره مغروره ده، هسی دا خبره یې زما خوښه شوه په صنف کی د هلکانو لیدل راباندی ښه نه لګیدل نو دا چی بیرون تلی په باغچه کی کیناستی نورو هلکانو لیدلی نو شاید یو څه رانه شوی وی، څکه ماته ځان معلوم وو کومه خبره چی به راباندې بدی لریده نو بیا می په ځان کنترول د لاسه ورکوو. هغي ته به مي بیا زړه خوړو خو زا ښه وو  هغی خبرو ته یې اړتیا نه وه پریښی،تفریح کی می بیا هم ددی په اړه لږ څه فکر وکړو هغه کاتو باندی می زړه ښه کوو ومی ویل داسی کتل یې څه معنا که زه ورګورم خو خیر زما زړه کی ډیری خبری دی نو دا راته ولی ګوری ددی خو به په زړه څه نه وی چی ویل یې غواړی بیا می وویل نا شاید تصادف یې کتلی وی که زړه یې وی نو د ګروپ او د نمبر خبره به یې په چټکی سره منلی وی خو هغی داسی ونه کړل ځان یې جلا وښودو، زما زړه وو کله یې راته یو څه ویل کله بل څه دا چی دا خبره ما مخکی هم کړی چی کرن خان دا ټوله سندره همدی حسینی ته ویلی وه دا ځل سره می د سندری هغه بیت رایاد شو چی وایی (انکار کوی نه سم کوی اقرار ستا بانه، په دعا زړه کی وی هر وخت ستا نه ځار ستا بانه) خیر که هر رنګه کاته یې وو زما مایوسه زړه پری ډیر خوښ شوم او یو څه هیله یې هم راته په زړه کی پیدا کړه چی تل به داسی نه وی راسره  که دا وهم هم وو چی دا ماته راګوری نو دا وهم هم ډیر د حسینی په څیر حسینه وو، زما زړه یې په هوا کوو، تفریح ختمه شوه د حسینی په

فکرونو کې ډوب د صنف په لوری وغزیدم فکرونه مې بیخې د حده وتلی وو بېرته راتګک راته ستونزمن ښکاریدل شبیر راته څه وویلی خو سم پوه نه شوم زه يې پریښودم او هغه رانه ستون شو، خو زه په خپلو فکرونو کې دومره تلی وم چې هیڅ مې ونه پوښتل چې چیرته ځې په یوازې ځان ټولګی ته راغلم خو لا وخت وو صنف کې یوازې وه، اوخوا دیخوا مې وکتل ځان سره مې وویلی څوک لا ندی راغلی خو نه پوهیږم لومړی ځل يې وو چې غږ يې وکړو نا تر اوسه لا ندی راغلی حیران شوم زر مې شاته وکتل څوک نه وو هغه لا ماسره مخاطب وه ساکته شان شوم په خپل ځای مې کیناستم خو باید داسې مې نه وی کړی خدای موقه درکړی او ګوره هغه هم غواړی یو څه وايي داسې غلی مه اوسه زړه مې داسې په وینا وو همدا وو چې ومې ویل همممم ماته وايي؟ ولی ته نور څوک هم په صنف کې وینی؟ نن مې د زړه خبره تر خولی راغله ومې ویل همم هسی خو څوک نشته خو حیران په دی شوم چې ته څنګه ماته خبره کوی ته چې راغلی يې همدا قهر او غوسه کوی راته نه پوهیږم څه بد مې درته درسولی چې چلند دی داسې جدی دی هغې د خپل ځای نه راوکتل وی ویل که ووایم زما د خبرو علت هم دا دی بیا مطلب ؟ مطلب دا چې ښښه غواړم پرون مې شاید تیری وکړو خو اصلا باید تا هم داسې نه وی کړی ښه پوه شوی چې استاد ټولو مخکی ورټلم ده هغې خبری ته مې وار پرینخودو ومې ویل خا بیا دی غوسه پر ما سړوله مخ يې رانه واړو خو وی ویل خیر ښښه کوه فکر مې وکړو خوب وینم هغه او ښښه دا راته عجیبه غوندی ښکاره کیده، پر ځای ددی چې څه ووایم خاموشه شوم سترګی مې پټي کړی دا احساس ډیر زورو وو، زه يې په حقیقت شکی کړم یو وخت مې د شبیر لاس په خپل لاس احساس کړو هغې خبره کوله د هدایته څنګه داسې بیړه دی وه درته ومې ویل صبر چې چیتر مې پاتی شوی ته بیا هم صنف ته راغلی وی زر مې سترګی خلاصې کړی هر څه بدل وو خواکی مې ناست شبیر په خبرو سر وو ددی لپاره ده حسینی خبری رختیا دی که نه د هغې په لوری وکتل هغې سترګی زما په لوری ګنډلی وی

شايد هغې ده خپلې خبرې ځواب غوښتو اوس مې خيال په حقيقت بدل شو دې کې هيڅ شک نه وو چې هغې لا ښښنه غوښتې وه نه پوهيږم ډير د خوښۍ ورخطا شان شوم سترګې مې راوړولې شبير لا تر اوسه په خبرو بوخت وو چې ومې ويل ښښنه غواړم دا هغه خبره وه چې حسيني ماته کړې وه خو شبير ګمان وکړو چې زه لا هغه ښښنه غواړم هغه زر وويلې بيا داسې ونه کړې، نور غلې شوو ځکه نن وروستی ساعت ده ليسنينګ وو استاد خپلې خبرې کولې خو زما په زړه بيا د حسينې کړنې وې د هغې ښښنه راته ده مينې ډک غزل ښکاريدو د هغې خبرې لکه د موسيقۍ خوږه نغمه دې دواړو مې په غوږنو خپل سازونه غږول په دې دنيا کې نه وم نن مې ورته د حده زيات وکتل خو هغې بيا راته ونه کتل ده همدې ساعت سره ورځ پای ته ورسيده نن ورځ ده نورو ورځو په پرتله ډيره ښه وه،لا يو نامعلومه احساس سره د ټولګې راوتوو زړه کې مې د حسينې ښښنې نوی هيلو ته لار ورکړې وه، خو ده شبير خبرو ده حسينې د خياله راووستم شبير وويل نن ورځ خو ښه وه ما بې واره غږ وکړو خو نن ډيره ښه ورځ وه هغه وخندل ياره ستا په مزاج هم ولاکه نن سبا څو پوه شې ساعت کې خوشحاله شې ساعت کې درباندې پيريان کينې زړه کې مې وويلې خو د هغې پيرياني پيريان دې چې داسې يې کړې يم خو په خولې مې بيا داسې خبره وکړه خدا يار پريدا دا خبرې دا وايه چې پارک ته خو به ځو کنه نن مې طبيعت ډير ښه دې شبير وويل بيخي ښه خبره ده. په خپل ټايم به ورشو رښتيا هماغسې مو وکړل. د تل په څير په خپل وخت مو ځان پارک ته ورسوو، نن عمر بيا سندرو ته زور ورکړی وو، نن يې بيا سندرې ته زور ورکړی وو، د لرې مې د سندرو غږ کې سترګې واوريدې نو يو ځل بيا د حسينې کاته مې مخته مخته شول نو يو بيل احساس راسره مل شو خيالونو يې د هر چا جلا کړم نه پوهيږم څه خيالونه وو خو دومره پوه وم چې د خيالونو مخه د حسينې طرفته وه، چې ناڅاپي راباندې شبير غږ وکړو، څه وشو يار څنګه ودريدې؟

مخ ته می وروه کتل بیا می ځانته وکتل ربښتیا هغه رانه ډیر مخکی شوی وو، ومی ویل نا یار! څه نه قدمونه می واخیستل او ځان می ورته ورسوو، په خپل ځای کیناسو په عمر می غږ وکړو سړیا دا دی څه لږولی څنګه نن په سترګو مین شوې یې؟

هغه وویل بس د چا سترګی رایادی شوی تاسی یې هم واوری ممکن تاسی ته هم د چا سترګی دریادی کړی، شبیر غلی شان ماته وویل لکه چی کومه ملګری وریاده شوې دواړه دی خبری سره ومسکیدو، چای یې راوړو هغه مو څکو چی زه بیا سندرو په اوریدو په فکر کی شوم، هغه کاته یې ډیر عجیبه وو، ځان سره می وویل حسینی ستا خبرو ته اړتیا نشته ته په سترګو ګوزار کوی دا څنګه سترګی خدای درکړی او بیا تاته دی هم خدای خیر درکړی ته ورته ددی دنیا ښایست هم ورکوی نه یې پریدی چی ساده پاتی شي، د سترګو خط دی د سرې وار خطا کوی، شبیر بیا غږ وکړو الکه تا خو ویل چې طبیعت دی ښه دی دا دی ښه طبیعت دی چی راغلی یې غلی یې یاره خبری وکړه دا خاموشي درسره هیڅ ښه نه ښکاری د فکری نړی یې راووستم. ومی ویل یار ته یو څه ووایه تر څو به زه لګیا یم. هغه وویل ماسره که د خبرو څه وی نو ویلی به می وای،ومی ویل چی نوی څه نشته زاړی خو ډیری کیسی دی راځه چی هغه تازه کړو ربښتیا خپلی خاطری مو شروع کړی تر ډیره سره لګیا وو، ښی کیسی مو سره وکړی شبیر وویل دغسی اوس دی راته زړه ښه کړو دا څو ورځې بل ډول وی، نو زما هم درسره وضعیت خراب وو دا دی چی ته ښه شوی اوس زه هم خوښ یم ومی ویل مننه یار یاران دی ژوندی وی هر څه اسانه دی،د هغه په وینا فکر می ښه وو، خو هغه داسی نه وو خبر چی فکر می د چا ده وجی ښه وو، نن بیخی د هغی یوی خبری اسانی کړی وم ځان می راته د اسمانونو په فضا کی ښکاریدو ده شبیر خبرو بیا د خیاله راووستم هغه ویل یار چی ته خوشحاله یې دا راته ده زړه نه خوښی رابښي نه پوهیږم تا خفه نه شم لیدلی دی خبر یې لږ څه خفه کړم هغه ده زړه لګیا وو خو ما لا هغه خپله خوښی پټوله ، دی خبری می زړه لږ ناارامه کړو خو زر می ځان

ته په دی قناعت وکړو چې کله می باور وموندو چې خو هر څه سم دی تر ټولو ده مخه می دا راز مور او شبیر ته وامی ځکه په ژوند کی می دا دوه نفره د هر چا مهمه وه هغه ته می وویلی ستا پیرزوینه ده لادی خبری دی احسان منده یم او یوازی ستا لپاره به تل هڅه کوم چې خوښ اوسم هغه وویل دغسی اوس دی ده سرېتوب خبره وکړه تل خوښ اوسی همچنان، لا دی څو خبرو وروسته می وویلی بس دی لاړ به شوو د ځای راجیګ شو او د کور په طرف راروان شو تر عمومي سړکه یو ځای وو، بیا د مخه ښې وروسته د کورونو په طرف راروان شوم، خو په لاره می په زړه خبری ګرځیدی خو دا خبری پټی وی نه مې غوښتل چې بیان یې وکړم. ځکه بیان د هغی خبری کیږی چې دلیل او وجه ولری نو ماسره یې نه علت او نه یې دلیل وو، هغه څه چې ماته یې د زړه خوښی رابښلی وه د هغی سره زما اړیکه نامعلومه وه نو ځکه می هر څه پټ په زړه وساتل کورته د رسیدو سره می د مور غیږ ونیوه. هغه په لمانځه ناسته وه د دعا وروسته یې د خولی چوففف راباندی واچوو، په تندی یې ښکل کړم او وی ویل پخیر راغلې سترګی می پټی کړی او د سر په خوځولو می وویل هو موری دا دی راغلم غیږ می نوره هم کلکه کړه هغی وویل څنګه یې ؟

ومی ویل ښه یم خو ولی دی پوښتنه وکړه؟

زه خو دی رک روغ په غیږ کی پروت یم، هغی وویل شکر چې ښه یې دا څو ورځې دې زه نه وم یاده کړی، رابه غلی او په کوټه به دی ننوتی، ومی ویل موری دا څه رقم خبری کوی ؟

هغی وویل ځکه می وویل چې زما زوی ماسره ډیره مینه لری هغه هره ورځ زما په غیږ کی سر کیږدی او ماسره خوږې خوږی خبری کوی، مینه راسره کوی او د پوهنتون خبری راسره کوی چې څه وشو او څنګه وشو، خو دا څو ورځی دا خبری نه وې ومی ویل موری داسی کومه خبره نه وه او نه دی خدای نخواسته مینه کمه

شوی، خو بس څه واویم؟ ووایه چې څه دې په زړه وی؟ خبره می تر خولی راغله خو بیرته می تیره کړه نه می غوښتل لا اوس نه ااعلان وکړم مخته خدای زده څه پیښیږی هغی می مخ ته کتل چې ومی ویل نا موری څه نشته هسی درسونو کی بوخت وم نور څه نشته ما لا دا خبری لا مور سره نه وی خلاصی کړی چې پلار می راغلی چې کله یې زما سر د مور په غیږ کی ولیدو نو وی ویل ده مور او د زوی خوږی خبری روانی دی مور می وویل زوی می دی کنه د زړه خبری مو کولی هغه په مسکا وویل د ښځو خو د غیبته بل کار نه وی او دی زوی ته دی ګوره په غیږ کی یې لکه د ماشومانو سر ایښی او ستا غیبتی اوری مور می وویل نا غیبت خبره نه وه. هسی د مور او د زوی خبری وی ما پکی وویل دی ته مینه وایې پلار می په توشک کیناسو وی ویل ښځی داسی مینه خو دی ماسره نده کړې، لکه څنګه چې دې زوی سره کوی. هغه لګه وشرمیده په مړاوی غږ یې وویل سړیا الک ناست دی، پلار مې وویل ناست دی وی نو لا ما پیدا دی زه خو تری نه یم پیدا چې شرم وکړم. دواړو وخندل مور ته می خوله نژدی کړه ومی ویل سړی خو دی ده مینی خبری هم کولی شی، هغی دی خبری سره په کړس کړس وخندل او په تندی یې ټک راکړو. وی ویل شیطانه زه نور تری جیګ شوم او خپلی کوټی ته لاړم. ده هغی خبرو سره می ځان مشغولوو چې موبایل می غږ پورته کړو پس د څو ورځو می لیله ځان ظاهره کړو چې کله می تلیفون ځواب کړو ده احوال وروسته یې دا ده څو ورځو پوښتنه وکړه نن سبا نه ښکاری او نه مو صنف ته راځی. خیرتی ده، ومی ویل هو خیرتی ده، بس درسونه سخت شوی ځکه نشم کولی درشم خیر که کومه ورځ می وخت پیدا کړو در به شم. هغی وویل سمده زما هم ځینې پوښتنې دی هغه هم به راته ځواب کړی. ومی ویل په سترګړ نوری یې څو خبری وکړې او د خدای پامانی وروسته یې زنګ قطی کړو اوس نو شپه شوی وه. ډوډی هم تیاره وه هغی خوړولو وروسته خپل اتاق ته راغلم زړه می ده نورو ورځو په نسبت ډیر خوشحاله وو دا زړه به می د هغی نوم سره په درزا شوه نه می

غوښتل خو بیا هم ما زړه بایللی وو هغې پرته د خبرو کولو زما زړه غله کړی وو په یو نظر یې د ځانه پردی کړی وم دا څو ورځي زړه نا زړه وم چې نشم کولی د هغه مغروری زړه لاسته راوړم خو ده نن ورځي ښښنی یې راته ډیر امیدونه زړه کې پیدا کړل هغه خبره مې په یاد شوه چې ویل به مې زه بې منزله مسافر یم اوس راته منزل په ښکاره کیدو وو خو نه پوهیږم اوس هم زړه نا زړه وم ځان مې ده هغې د مینې قابله نه ګڼو اوس هم راته ځان ډیر ټیټ ښکاریدو ګمان مې نه راتلو دا څنګه چې یم داسې به مې قبول کړی دی ګمان مې په زړه کې سل شکونه راوچول یوه ښښنه ددی معنا نه لری چې تاته دی په زړه کې هم ځای درکړی تر هغې چې ځان دی ده هغې په معیار نه وی برابر کړی ورته د زړه حال مه وایه داسې نه ده اظهار د مخې انکار سره مخ شی نن شپه چې مې څومره فکر کړی وو چې دا شپه به ارامه وی هماغمره راباندی غم شوه نن مې ده نورو شپو زیات فکر وکړو، نن یې د ښکلا اثر نه وو نن یې د لاسه ورکولو ویریدم نا کله چې به مې ده هغې د لاسه تګ خبره وکړه زړه به مې ډیر ناارامه شو ده ډیر سوچ وروسته مې په دی قناعت ځانته وکړو چې تر هغې به ورته ده مینې اظهار نه کوی چې تر څو یې په معیار نه یې برابر شوی او تر نظره یې ښه نه یې راغلی دلته مې مینه هم وه خو د هغې د لاسه ورکولو ویره هم وه، چې په هیڅ صورت مې هم نه غوښتل ده لاسه یې وکړم، تر ډیره داسې ناست وم فکرونه مې کول همدی فکرونو کې ویده شوی. راتلونکی څو ورځی مې په هم دی سوچونو تیری کړی چې داسې کوم کار وکړم چې ده هغې ده مینې قابله شوم، ده هغې توجو خپله کړم او بیا ده همدی توجو ده لاری وکولی شم هغه خپله کړم، همدا وو چې ده هغې وړی وړی خبری ته هم ډیر زیر کیدم ده هغې د خوښی ده هغې قهر په هر څه مې ځان پوهوو خو ده لری دا کار راته ډیر ستونزمن وو خو څه مې کړی وی نژدی هم نه شوم ورتلی او ده هغې عادتونه هم داسې نه وو چې زر یې په طبیعت پوه شوی وی چې دا په څه خوشحالیږی په څه خفه کیږی درس ته به راتله  بس په قراره به په خپل ځای ناسته وه، تفریح ته

هم نه وتله، بس دا وه او ډایری وه نه پوهیږم چې څه یې پکې لیکل د هر څه به بې خبره وه. کله کله به می سودا شوه. چې دا دی کې څه لیکې چې د هره کاره یې ویستی ده، هغې ته به می هم کله کله پټ پټ په غله وکتل ده هغې لوستل هم ناشونی وو. خو ما خپله هڅه نه پرېښوده کوشش می کوو چې ده زړه یې خبرداره اوسم هره واړه واړه خبره به می ورته یاد ساتله کله چې به کورته لاړم نو دا خبره به می د یادابنت په کتابچه کې ځان سره لیکله او بیا به می کوشش کوو چې دی خبری سره ځان عادت کړم تر ډیره موده می دا کار وکړو ډیری واړی غټې خبری می یادابنت کړی او لا هغو خبرو سره می ځان عادت کړو ورو ورو می ځان د هغې په رنګ رنګوو ورو ورو می د هغې ده زړه په خبرو ځان خبروو نن ورځې می هم خپل کوشش کوو هغې ته می کتل او ده هغې خبری می یادابنت کولی نن وروستی ساعت ده ساعت د ثقافت وو. استاد ده کومې ستونزی لا امله نه وو راغلی ددی پر ځای چې لکچر مو مس نه شی پر ځای یې بل استاد صنف ته راغی هغه ده درس په باب څو خبری وکړی خو نور یې وغوښتل چې ده دین په اړه اضافی معلومات یو لا بل سره شریک کړو ترڅو له هغه خبرو اګاه شو چې نور پری پوهیږی زما په شمول ټولو هغه معلومات شریک کړل چې نورو ته جالب وو نوبت ده حسینې وو ما تراوسه ګمان نه کوو چې حسینه دی هم ده دین په باب دومره وپوهیږی زما د اندزی څخه زیاته پوهیده هر مثال یې لا ایات او حدیث سره ثابوتوو، ډیر ورته حیران شوم،ده هغې په دین دومره عقیده او باور بیخی ډیر حیران کړم هره خبره یې نوی وی هر معلومات یې خوندور وو، ربښتیا ووایم دا هغه شیبه وه چې احساس می وکړو زه ربښتیا ددی قابله نه یم زه می ده خدای چې زه یې پیدا کړی او دومره ستر نعمتونه یې رابښلی ده هغه په قدر نه پوهیږم زه به یې ده بنده په قدر څه پوه شم، د حیسنی خبری د ټولو زیاتی ده عقیدی او ده خدای سره د مینی ډکې وی، دی خبرو یې زړه لکه ده ژمی سړه واوره داسی ده امیدونو یخ کړو هر امید می ساه په ورکولو راته ښکاره شو، حسینه ده دین او په ایمان قوی انجلی وه، ما چې

تر اوسه په خپله لمونځ هم نه کوو زما او ده هغی برابری ده څه شوه زه ده هغی قابله نه یم دا راته نن ده حیسنی خبرو په واضع توګه په ډاکه کړه، همدا خبری وی چی زما ده احساساتو حتمولو لپاره کافی وی په مړاوی ځان می کورته ځان ورسوو او سیدا خپلی کوټی ته لاړم ستړی وم بیګ می یو بغل ته کیخودو، ځان سره می په مړاوی غږ وویلی حسینی دا ولی نصیب تا لا ما لری ګرځوی پوهیږم،خپله هڅه کوم کنه چی ستا قابله شم ته به نه یی خبره خو زه می خپل هڅه کوم، خو بیا هم کمی پاتی ده داسی نه زه همدا په کمی پوره کولو پاتی شم زه به کله ستا قابله شم که نه دا هسی خواری ده چی زه یی کوم، زړه می ماتیږی چی تر دومره کوښښونو هم شاته یم دا خبری می په زړه بار کیږی هر چا می پتي کړی داسی نه همداسی می په زړه پاتی شی دا فاصیلی به کمی کړم که نه؟ زړه می دی خبرو وخوږو نه پوهیدم څه وکړم ده هغی لپاره می هر څه ته غاړه ایخی وه خو امتحان می ورځ تر بلی سختیدو او دا سختی تر اوسه نامعلومه وه چی سر نیسی او که نه حیران وم څه وکړم همدی سوچونو کی می ساعت ته وکتل د دوه تیری وی د ځای پورته شوم ومی ویل تا لپاره هر څه کوم هره سختی تیروم او دا خو لا هغه لار ده چی باید مخکی پری تلی وی خو اوس ناوخته نه دی ستا غوښتنه به ستا ده رب نه کوم ځکه هغه ورکونکی ذات دی ما به نه ده خپل دره نه ناامیده کوی، ستا په باور زما باور دی ستا په عقیده زما عقیده ده.لاړم اودس مې وکړو او په جاینماز ودریدم په لمانځه ولاړم وم، چی مور می کوټی ته راننوته زه یی لومړی ځل په خپلی خوښی او په رضا د خدای په عبادت ولید، نو دیوال ته یی تکیه وکړه او د خولی یی غږ وختو الله شکر چی زوی مې پرته د وینا په لمونځ ولاړ دی، ما می خپل عبادت قایمه ساتلی وو، هغی راته په دیوال تکیه وهلی ولاړه وه، تر څو چی می لمونځ خلاصه کړي او دعا می کوله هغه راغله او خواکی می کیناسته او وی ویل زویه دا څه ګورم چی نن دی زما او د پلار د وینا پرته پر جای نماز وینم ، نه پوهیږم څه وکړم زړه می د خوښی نور وار نه کوی دا هدایت د کومه درته وشو، چی د خدای او د هغه د حقه یی اګاه کړی ما

لا دعا کوله دعا کې مې خدای ته وویل چې خدایه زه ستا هغه بنده چې ټول عمر یې هوایي تیر کړی نن که دلته ده بل چا په عقیده راغلی یم خو غوښتونکی مې هم دا ته یې هغه دی وسیله کړه،او زه دی تر خپلی سجدی راوستم خو خدایه دا چې زه یې تر ستا دره راوستی یم دا مې د ژوند هغه برخه کړه چې ایمان مې ورسره کامله شي. لاسونه مې پر مخ راتاوو کړل او مور ته مې وکتل هغې اوس هم هیراني هیراني راکتل پر سترګو کې مې ورته سترګې خښې کړې ومې ویل موری څنګه ډیر ژور کاته کوې څه شوی ؟

هغې وویل داسې شیبه زه هره ورځ نه وینم چې ته دې پرته د وینا عبادت وکړی، ومې خندل موری په یوی کې مې هم نه پریدی، هره ورځ وایي لمونځ نه کوی چې نن مې وکړو نن دا خبره کوی هغې وویل نا خبری نه کوم زه خو شکر وباسم چې تا په عبادت ګورم خدای پاک دې تل همداسی لره، خو دا ووایه چې دا ناڅاپي داسې کیدلو کې څه خبره ده، سترګې مې مړاوی شوی ومې ویل موری ده خدای یادول هم دلیل غواړی؟ هو ولی نه بنده خدای تر ډیره هغه وخت یادوی چې کله ډیر نارامه وی یا هم مشکل کې وی زر مې وویلې موری که ربښتیا ووایم ما ګمان کوو زما ژوند کامله دی خو داسې ندی زه نیمګړی یم زه غواړم کامله شم او اوس داسی عقیده لرم چې دا کار به ډیر ژر شونی شي هغې وویل هر کار چې پیل یې ده الله لا نامه وشي داسې فکر وکړه هغه کار وشو زړه مې ده مور په خبره ډیر خوشحاله شو څو ورځې همداسې په خپله خبره ولاړ پاتې شوم، دا عهد مې تر سبا همداسی قایمه وساتو ربښتیا ده لمونځ وروسته د هغې غوښتنه دی خبری زړه ته ډیر سکون راکړوو چې زه هغه لا داسی چا غواړم چې ده پادشاهانو پادشاه دی زما ده زړه عرضه به ده خدای په دربار کې قبولی اخلی ډیر خوښ وم سهار لمونځ په ادا کولو مې ده نن ورځی پیل وکړو او لکه ده نورو ورځو په څیر ده هغې دیدن لپاره مې ځان تیار کړو نن مې بیا هم د نورو ورځو په څیر ورته انتظار کوو کړکی ته مې سترګې ګنډلی وی د هغې په منډه راتګ او ده سپین رخساره

چترۍ ښکته کول دا مې سم عادت شوی وو خو هغه ده خپل وخته ناوخته شوه ساعت ته مې وکتل وخت پوره وو خو د هغې لا تر اوسه درک نه وو لګیدلی همدی سوچ کې وم چې شبیر راباندی غږ وکړو هلکه هدایته ځنګه داسی بل رقم یې؟

ومې ویل نا څه نشته هسی مې زړه نا ارامه دی، چې دا ولی هغه وویل ستا زړه په قراره نه شو، همداسی اوتره دی،خبره مې خولی سرته راغله خو بیرته مې خپله خبره بدله کړه ومې ویل شبیر ته ولی لا ما لاس نه اخلی ؟

هغه وخندل وی ویل هغه ځکه چې ستا کړنی بدلی دی ؟ دومره زر مې نه غوښتل چې د زړه په حال یې پوه کړم په سر مې ورته ټس ورکړو ومې ویل یو خو دی ستا دا فلسفی ورکې شی چې زه ورنه بیغمه شم هغه وخندل وی ویل زا بچو ته یې مه وایه خو زه به هتمن ځان خبروم چې کیسه څه ده، چې اخر دا ستا په زړه څه تیریږی چې تل ناارامه وی، ومې ویل ته ډیری خبری مه کوه همدی کې مې بیا ده کړکی په لوری وکتل چې رارونه خو نده، خو ده هغې درک نه وو. شبیر وویلی نن داسی کړکی ته ډیر ګوری ځوک خو به ولاړه نه وی د ځای پورته شو اخوا دیخوا یې وکتل ومې ویل افففف شبیره دا په تا څه شوی ولی تنګول کوی هیڅ نشته پام مې دی بلی خواته کړو سترګی مې د هغې ناستی ځای ته وګنډو، همداسی برګ وم کله به مې ساعت ته وکتل او کله به مې د هغې ځای ته تش ځای او حالی چوکی هیڅ خوند نه کوو، د کړکي په لوری مې هم نه شو کتلی انتظار مې ډیر وکړو خو انتظار مې سر ونه نیوو ده صنف نفر پوره شو ددی پر ځای بله صنفی کیناسته زړه مې بل رقم شو سترګی مې پټی کړی او مخ مې راوړوو د هغې پر ځای د بلی ناستی هیڅ خوند رانکړو، شبیر وویلی نن لکه چې ستا دښمنه نه راځی ځای یې خالی دی دده خبری هم راباندی ښی ونه لږیدی غلی شوم څه مې ونه ویل خو د زړه مې یو الله خبر وو همدی کې د قدمونو غږ شو ټول خاموشه شول ما فکر وکړو اوس به د دروازی را دننه شي او انتظار به مې خلاص شی هو نا داسی نه وو د حسینی پر ځای استاد صنف ته را داخل شو، زما یې فکر

نور هم خراب کړو، چې زه د څه په تمه وم او دا څه وشو د استاد لکچر هم شروع شو، هو ما می انتظار ته د پای ټکی کینخود دروازی ته می غوږ نیولی وو، چې اوس به را دننه کیږی هو وخت زما نظر غلط ثابته کړو، زما د راتګ امید یې پای ته ورسوو د استاد لکچر هم پای ته ورسیدو، لاری لاری ته کتل می هیڅ ګټه ونه کړه، زړه می یو رقم شو لکه خفګان چې پری غالبه وکړی او په خپل ځای بند پاتی شی، ساکته شوم پر لا پسی استادان راغلل خپل لکچری یې ورکړی، هو د هغی پته ونه لګېده،ډیر د قهره به می لاس موټی کړو او د خولی به می اخخ وویستو ده هغی نشتون می زړه هیڅ نه قبلوو استاد لکچر پای ته ورسیدو وخت د تفریح شوو، ټول د صنفه ووتل د ډیره قهره می سر په میز کیخودو نن شبیر هم ده ځانه غماز جوړ کړی وو داسی خبری یې کولی چې په زخمی زړه کی به یې نور هم داغونه کیښودل هغه د ځای نه د پاڅیدو په وخت کی وویلی یاره هدایته چې دا حسینه به ولی نه وی راغلی دا به ولی راغلی ؟څه مشکل هو به نه وی ورته پیښ شوی، که داسی نه ناروغه شوی یې په دی خبرو راته د زړه سودا نوره هم زیاته کړه سر می بیا پورته کړو دهغی ځای ته می وکتل خو ده شبیر په مخ کی می ځان عادی وښودو، ومی ویل ولاکه پوه شم هغه خبره عادی کړی وه ژر یې وویل درځه چې ورځو بیرون، ومی ویل پریدا می زړه می نه دی هغه بیا زور وکړو وی ویل راځه نو چې ووځو دلته به یوازی څه وکړی ومی ویل نه ځم کنه ولی می ځوریوی، سترګی می سری شوی په غمجنی غږ می بیا وویل نه ځم کنه مه شله کیږه زما داسی چلند ده حیرانیدو وو لکه شبیر چې یې په نن ورځ حیرانه کړو نورو ورځو به یې لا خبرو ښکاریده چې ټوکی کوی خو نن یو څه جدی شو هغه وویل ندی ځوروم هو داسی دی پریدم هم نه د لاسه یې کلک کړم او روان یې کړم ما یې ځای ته کتل تر څو چې ونه وتم بهر یې  په بڼ کی د ونی لاندی کینولم وی ویل څه وشو ؟

ومې ویل زړه مې تنګ دی ولې څه شوی ؟ نه څه ندی شوی هسې مې ځان راته جوړ نه ښکاری هغه وویل یو څه خو به شوی وی هسې خو څوک نه خفه کیږی ومې ویل څه نه ددې لپاره چې خپل احساس ورنه پټ کړم ومې ویل خا ته اوسه زه یو ځل لیله خواته ورځم هغه ده لیله نوم سره خبره په مسخرې واخیسته وی ویل خو دا به دې مخکې ویلې وی زه هم لوده یم په خبره نه رسیږم راځه چې ودې رسولم ورته په نه زړه یې روان کړم هیڅ مې ورته نه شو ویلی کله چې صنف ته ورسیدو نو اګاه شو چې هغه په صنف کې نشته شکر مې وویستو چې شبیر د خولې نه خو خدای خلاص کړم خو زما نصیب نن هیڅ لا ماسره یاری نه کوله په دهلیز کې راسره مخ شوه شبیر ورته سلام وویلی او بیا یې ورته داسې وویلې دی ته دی څه ویلې چې داسې خفه دی ؟هغه حیرانه شوه په ځای ددې چې څه ووایي ومې ویل ته اوس مونږ پریدی که نه شبیر وخندل وی ویل خا دا دی لاړم درنه بې وفا انسانه! هغه له دی خبرې سره روان شو، لیله لا څیری خفه ښکاریده ومې ویل څنګه یې ؟ ښه یم ستا خیر غواړم پوهیږی ولې ځکه نن سبا خو دی احوال نه نه خبریږم، بس همدا خیر غوښتنه راته پاتې ده پوه شوم خفه ده ومې ویل خیر ښښنه کوه هغې وویل ده انتظار ده زوره خبر نه یې ځکه داسې په اسانې داسې خبره کوې که خبر وی داسې به دې نه ویل ده هغې هغسې خبره په داسې حساس وخت کې داسې وی لکه زما په زخم چې مالګې وشیندی دومره یې ودرولم خو درد مې په زړه تیر کړو د هغې نه راتګ هسې هم خفه کړی وم اوس ددې خبرو نور هم بدتر کړم هغې ته مې څه ونه ویل خو غلې ترې راروان شوم، ځان مې لرې ځای ته ورسوو خپل درد مې په ژړا واړوو ومې ویل خدایه دا ماسره څه روان دی، ولې هرې خوا همدا زه ځوریږم ولې مې درد هره ورځ زیاتیږی او خلک پر ځای ددې چې دا درد راته راکم کړی تیرې مې نور هم ځوروی، ژړا مې دی خبرو سره زیاته شوه ده لیله خبرو رښتیا هم ډیر ودردولم هغې خبره چې وایي تا ده انتظار زور ندی لیدلی نو دا اوس چې په ما تیریږی دا څه شی دی دا زور ندی زما لا زړه خبره

نه يې او خبرې کوې، نه پوهيږم تر کومه به هغې ځای کې ناست وم چې د شبير زنګ
اړ کړم چې بيرته صنف ته لاړ شم سترګې مې ده اوښکو پاکې کړې او ده صنف په
لورې روان شوم خو زړه مې اوس هم ډک وو او تر کوره همداسې ډک پاتې شو نن
مې په زړه ډيرې ګيلې وې نن ظلم شوی وو او ورسره ده ليله خبرې ډيره بل ډول
لانجه وه د شبير خبرې مې مخته کيدې هغه ماته لا اوله ويلې وو دا کار ښه نه ده هرې
خبرې به مې مخته زما او د حسيني مينې کيسه ودروله چې د شروع کيدو ده مخته پای
مومې حيران دې ته وم څه وکړم هغې ته ستون شم چې لا مخکې مې په انتظار وه يا
هغه چاته لاړ شم چې زه ورته لارې څارم سترګې مې ده اوښکو ډکې شوې ومې ويل
زه ولې قرباني ورکړم او داسې انسان سره لاړ شم چې هيڅ ورسره مينه نه لرم ولې ده
هغې حق کې ناحقي وکړم دا خو ګناه ده شبير مې بيا مخته شو هغه خبره چې لا اوله
يې ماته کړې وه چې زړه مه ماتوه، خو ما خو ده چا زړه ندې مات کړې ما خو نه
وو ويلې ماسره مينه وکه ما خو تل ده يوې ښې ملګرې په صفت ورته کتلې دې کې
زما ګناه څع ده خو نه قناعت کيدو راپاريدلی زړه وو سل دليله يې راته وړاندې کړل لا
هرې خوا يې ملامتولم حق حيران وو يو زړه مې وشو ليله ته زنګ ووهه هر څه ورته
ووايه او بيا ورنه ښښنه وغواړه خپل ضمير دې ارامه کړه هممم همدا ښه خبره ده اوس
هم لا سرې وخت دې هيڅ ندې شوې پوه به شې هغسې وخياره ده تليفون مې
واخيستو کله چې مې زنګ ته نمبر ده موبايل په سکرين راوستو نو زړه مې بيا هم قبوله
نه کړه هغه بيا نوې خبره راته وکړه چې ته څنګه کولی شې داسې ناڅاپې ده چا هيلې
خاورې کړې ايا هغې به تاته هيلې نه وې زړه کې لرلې لکه ته چې يې حسيني ته زړه
کې لرې، ايا هغه به په يوه ښښنه تا وبښي داسې نه کيږې اول يو چاته هيلې ورکول او
بيا يې داسې په يو زنګ ځوابول دا ده کوم ځای انصاف شو خدای به هم تا دې لپاره
ونه ښښي او چې خدای ونه ښښلې نو هغه هر څه حير که چې ستا ده خوښې دې يا ته
ورته اړتيا لرې موبايل مې لاس کې پاتې شو خيالونه مې بدل شو دا خبرې هم په خپل

ځای وی زه داسی نه شم کولی هسی که پام وکړم داسی ناڅاپی هغه زما مینه رد کړی چی څومره احساس ورته زړه کی لرم نو پر ما به څه تیر شی سر می دی خبرو راوتوروو موبایل می یو کونج ته بنته کړو په بستره پریوتم خبرو ده اوریدو نه وم نور زړه می بی واره درزیدو په زړه می لاس کیخودو ځان ته می دلاسه ورکوله خو هغه به بیا ددی کړنو زور د حسینی او زما ده مینی ویستو ماته به یی ددی خبری اشاره کوله چی که زړه دی مات کړو ستا به هم زړه ماتیږی که ده بل هیلی دی ویجاړی کړی ستا هیلی به هم ځاله جوړه نکړی دی خبری احساس می وجود خاوری کووو ما ده هغی یوی ورځی جدایی لیدلی وه نه می غوښتل چی نوره لا دی زیاته جدایی وګورم، زړه باندی می لاس کیخودو ومی ویل نا داسی مه وایه زه بیشکه ګنهګار یم ما تیروته کړی خو ددی دا پیله نشی کیدی چی ما دی څوک ده حسینی جلا کړی لیله ده زه به یی پوهه کړم زاری به ورته وکړم لاسونه به ورته جوړه کړم په به شی چی زه ده هغی قابله نه یم خو دا کار اوس نه کوم څه موده تیره شی نه به یی زنګ ځوابوم نه به ورسره ګورم چی زړه یی رانه تور شو بیا به خپله حقیقت وپیژنی همداسی به  وکړم، زړه می لږ څه ارامه کړو که نه دی بدبخت نه پریخودم چی سترګی پټی کړم، ډیر په سختی می دا سترګی پټی کړی ویده شوم سهار بیا می دی غم لړلی زنده ګی ته سترګی وغړولی، هغه خبری می بیا په زړه شوی خو زر می بیا پام حسینی لیدو ته شو سترګی می وځلیدی خوښ شوم مسکا می پر مخ خپره کړه روښانه سترګی می بیا د هغی په نوم پټی کړی هغه می بیا ځانته مخامخ کړه نو هغه بیت می په یاد شو چی وایی

زما د زړه غمونه ده ګلونو نه ښایسته دی

زما زړګی ساتی باغ و بهار ستا بانه

ربښتیا یی ویلی زما زړه کی زخم هم دی جوړ کړی وو او زما ده زړه ټکور هم دی سره وو، ژر د ځایه پورته شوم او د پوهنتون په طرف روان شوم، ددی ده دیدن تلوسه

مې په زړه غلبه کوله خو نن دې لاری غمازتوب کوو هیڅ نه خلاصیده که هر څه مې وکړل بیا هم ډیر په ځوریدو خپل ځای ته ورسیدم بیا هم ټولګی خالی وو هیڅ څوک نه وو ساعت ته مې وکتل لا وخت وو شبیر هم زنګ ووهوو ده پوهنتون پوښتنه یې کوله که ویلی مې ویلی وی چې راغلی یم شاید خفه شوی وی ورته منکر شوم ومې ویل زه لږ مصروفه یم نن یوازې لاړ شه هغه نوری پوښتنې ونه کړی زر مې بیګ راواخیستو او صنفه ووتم ومې ویل که اوس یې ددی دروغو وروسته دلته ولیدی نو بیا به ډیر ورته کم راشی لا بیګ سره ووتم، بیرون چې لا دهلیزه ووتم نو په باغچه کې مې په سرو ګلانو سترګې ولږیدی په لیدو یې په خپل ځای ودریدم د حسینې هرکلې مې سترګو ته شو د ګل څانګې ته مې لاس کړو هغه مې وشکوو او بیرته مې ګامونه ده ټولګی په لوری ستانه کړل صنف ته چې ورسیدم نو د هغې خالی چوکۍ ته نژدی شوم په چوکۍ مې ورته هغه د خشبو ډک ګلاب ددی ده هرکلی په باب کیخودو کله چې ده کیخودو وروسته راوان شوم بیا مې هم زړه ونه منله چې داسې نه بله خبره جوړه شي بیرته ستون شوم او ګل مې د ځای راپورته کړو او د هغې ده پښو په ځای کې مې په ځمکه وغورځوو، او په بیړه د صنفه ووتم، ځان مې داسې ځای ته برابر کړو چې زه وکولی شم د خپل ځای ده لری نندارە وکړم خو ما څوک ونه ګوری او با دا چې ده ګل شک راباندی ونه کړی ده لری لری مې ده صنف ننداره کوله په وار وار سره ټول ټولګیوال ده ټولګی په لور روان وو یو وخت مې شبیر هم تر سترګو شو بیچاره زما پرته یوازې یوازې روان وو ومې ویلی حسینې زما ده مینې به دومره قدر وکړی که نه ما ستا لپاره څه څه ونه کړل خپل ملګری چې ماته ده وروره هم زیات دی هغه مې یوازې پریښې ای خې نو څه څه دی ونه کړل خو خدای خبر ته چیرته یې ګلاب او دا ژوندی ګلاب دواړه دی سترګې په لاره یو راشه، سترګو ته مې رپ ورکړو، رښتیا مې تر سترګو شوه، نازکه په لار روانه وه هغه چترې هغه چیپتر او ده هغې کاږه واږه قدمونه اخ لا دی نندارې خو زه بې خبره وم ما خو به تل د کړکۍ نه ده

تیریدو په وخت لیدی په لار خو می ده لومړی ځل لپاره ولیدی دا تګ خو دی لا خوند کوی ددی لیدو راته پرونی ټولی خبری سوچونو هیر کړل همداسی می ده هغی په لوری څو ګامونه واخیستل چی زر می ځان هسار کړو ودریدم هغه چی کله ټولګی لپاره دهلیز ته ننواته ده ځای راروان شوم په مدهوشه ځان می قدمونه واخیستل او د ټولګی په لوری روان شوم،ده هغی لا نژدو نندارې می سترګی روښانه کولی، زړه می بې واره په ټوپونو وو، هیڅ نه پوهیږم چی څه رقم ټولګی ته ورسیدم شبیر چی لا ورایه یې لیدلی وم راته سترګی په لار وو کله چی ننوتم نو لومړی می هغی طرفته وکتل نه پوهیږم څه خبره روانه وه هغی لا نرګس سره مرکه کوله خو چی زه یې ولیدم نو غشی بانه یې د سترګو پورته کړل او زما لوری ته یې وکتل بڼو ته په کتو یې ده سندرې بل بیت رایاد شو چی وایې  وایې

دا څوکې یې زما په زړه کې ښخې که چی سرې شی

سینګار دی خو لږ نور غواړی سینګار ستا بانه

نن یې بڼو حد کړی وو نه پوهیږم یا یې پرې څه فساده کړی وه، نن ده نورو ورځو ډیر ګڼ ښکاریدل مسکی شان شوم هغی زر سترګی زما خوانه لرې کړی، زه هم اوس ده شبیر خواته نژدی شوی وم هغه په بیړه وویلی ته چیرته وی چی نن دی یوازې پریښې وم نن می زړه جوړ وو په خندا ور غاړی وتم او ومی ویل یاره ښښنه کوه ډیر اړین کار وو باید وخته می حرکت کړی وی هغه وویلی کار دی څنګه شو د اوږی بیګ می لا اوږی ښکته کړو او ده میز په سر کیخودو سره می بیا ده هغی په طرف وکتل هغی زما ده لاس ګل په خپل میز ایښی وو او خپل سپین نازکه لاس  ورته په سر ایښی وو نور هم خوشحاله شوم سترګی می شبیر ته واړولی ومی ویل بس داسی فکر وکړه لکه کار چی می خلاص کړی وی هغه بیچاره هم زر وویلی زا خدای دی وکړی په ځای کیناستو، استاد راغی او درس مو پیل کړو، خو زه به چا منی کړی وی ما

پرونی تنده ماتوله هیڅ یې په لیدو نه مړیدم همداسې مې ورته کتل په کتو کتو به مې ځان ته خپله خوږه دنیا سترګو ته شوه، چې ډیره خوږه وه په مستۍ به شوم، ځان به رانه ورک شو همدا وو چې ځان سره به په خندا شوم، دا ښه چوکۍ مخ مې دی خوا وو کنه دا خندا او هغې ته کتل به هم په سوال وی نن مې ورته د عادي ورځو ډیر وکتل پرونی غچ مې هم تیری واخیستو او هغه سودا چې شبیر راته په زړه کې جوړه کړې وه چې مریضه نه اوسې هغه هم یو څه ختمه شوه په وروستي ساعت کې زما ده زړه پوښتنه ورنه نرګس وکړه وی ویل وا جلې پرون نه وې خیرتی وه؟ خو خیرتی وه بس درس مې ویلې ازموینې هم په سر دی ویریږم د انستیتوت په ازموینې یو رقم وی ددې ځای شاید توپیر ولرې ددې نازکه خبرو زړه کې لاری جوړولې هغه ولې دومره حسینه وه دومره حسن او دومره ښایست ده یو انسان سره نه ښایي، سترګې مې تاوې کړې ځان سره مې وویلې څه کوی داسې نه ده نظره یې کړې توففف مې وکړل او سترګې مې پنا کړې. نن ده حده زیات خوښ وم ځکه خو بعد ده پوهنتون نه لاړو پارک ته ربښتیا نن مو پس ده ډیر وخته فوټبال هم وکړو ربښتیا وایي چې زړه دی ونلرې ته جوړ انسان یې زه هم نن ده هرې نګاه نه جوړ وم نن مې ځان ډیر راحته احساسوو تر ډیره ورسره لیکا وم ماذیګر ناوخته ورنه ده کور په طرف راروان شوم خو دا چې ناوخته شوی وو په لار کې راباندې ده ماښام اذان وشو نه پوهیدم د اذان په اوریدو په خپل ځای ودریدم بیا راته حسینه مخته شوه زر مې لاسونه دعا لپاره پورته کړل، لومړې مې اذان تکرار کړو او بیا مې ده خدایه خپله هغه دعا چې لا ټولو پټه وه وغوښته، ده امین ویلو وروسته مې ګامونه د جماعت په طرف ورتاوو کړل او روان شوم دا به لومړې ځل وو چې پرته د پل چا خپله جماعت ته راغلم او په لمانځه ودریدم د لمونځ د خلاصیدو سره مې ولیدل چې پلار مې په صفت کې راسره ولاړ دی، کله چې مې سترګې پرې ولږیدی زر مې وویل سلام پلار جانه ته هم راغلی یې؟

هغه په خندا وویل زه هو هره ورځ راځم ته څنګه راغلی یې؟

ومې ویل ولې نه شم راتلی؟

هغه وویل ولې نه، راتلی شې هو باور می نه راځی بل وخت به زما په وینا راتلی نن څنګه بې وینا راغلی یې، ګمان کوم مور دی رالیږلی یې ومې ویل نا پلاره د خدای عبادت وینا نه غواړی چې کله دی زړه وغواړی هغه وخت راتلی شې، هغه مې خواته نژدې شو وې ویل خو زه غواړم تل راشې د خدای یاد دی هر وخت تر دې ځای را ورسوی او خپله بندګي دې ښکاره کړی، ومې ویل ولې نه پلاره هغه وویل راځه چې ځو کورته نن دې په لیدو خوښ شوم دا خوښي غواړم شریکه کړم، ربښتیا پلار کورته په راتګ مور جانې ته وویل چې هدایت د خپلو جماعت ته راغلی وو، هغه هم حیرانه شوه او ماته یې وکتل وې ویل سرپا هلک مخکې نه په لمانځه راغلی، کور کې یې هم کوی پلار وویل ښه خبره ده، خو نن جماعت ته راتګ یې ډیر خوښ کړم د پلار خوښې په نیک اولاد کې ده چې ورته پاتې کیږی مور مې وویل بیشکه زموږ اولادونه نیک دې خیر که نیکه لار ورته لږ وروسته مالومیږي د انسان همدا ښه دی چې اخر هم خپل لاره او مسیر معلوم کړی، سر ګردانه هر څوک وی هو تر هغې چې خپل منزل یې نه وی پیدا کړی چې منزل یې پیدا کړو بیا د خطا کیدو امکان ډیر سخت وی. د مور هره خبره مې ده ژوند حقیقت بیانوو نه پوهیږم دا میندې ده اولادونو لا زړونو څنګه خبریږی زه خو تر اوسه ده هغې مغروری په زړه پوه نه شوم چې څه غواړی ښه مین یم خو تر اوسه مې ددې جرعت ندې کړی چې ورته یو څه ووایم په سوچونو کې ډوب ناست وم چې غږ راباندې وشو ومې ویل همم سترګې مې پورته کړی خور مې وه د لاسونو مینځلو اوبه یې راوړی ومې ویل زما لاسونه پاک دی. هغه لاړه او ډوډې یې راوړه ډوډې مې وخوړه ټول لا ناست وو، چې زه د ځای راپورته شوم ومې ویل نن ډیر ستړی شوی یم غواړم ارام وکړم د اجازې وروسته بیا راغلم ، پر ځای مې وغزیدم او وروستۍ فکر چې زما په ذهن کې ووهغه خبره مې بیا یاده کړه، چې ولې تر اوسه ورنه لری یم ولې ورته ده زړه حال نه وایم ایا دومره ورنه ویریږم مسکې

شان شوم ومې ویل نا ویرې خبره خو نده اصلا لا انکاره یې ویریږم که نه وخته به مې ورته ده زړه حال ویلی وی څه وکړم تر څو به ورته داسې لرې لرې نه ګوري تر څو به یې څاري کله خو به یې خواته ورځي کله خو به یې ده زړه ده خبرې ځان خبروی همم غواړم خو ډیر خو اوس نه اوس یې سم وخت نه دی دا ازموینې تیرې شی چې کله پکې اول شوم او ده استادانو لخوا هم وستایل شم نو شاید هغه وخت مې دا ده هغې قابل کیدو خنډ ده زړه ووځي، نوره خو مې کومه کمې ځان کې نده پریځې لیله کیسه مې هم شاته کړې نور به کمې راکې نه وی بس دا اول نمرګې خپله کړم بیا مې لار څوک نه شی نیولی دی خبرې مو مې زړه په مستې کړو زر مې موبایل راوخیستو او موسیقي مې لږوله او په دومره اواز چې د هر څه بې خبره شم او همداسې وشو ځان مې ښه ستړی کړو او نصیب ته ګوره هره سندره ماته زما د کیسې په څیر ښکاریده هغه که په هر انداز ویل شوی وه، خو ماته داسې ښکاریده لکه زما د مینې داستان ماته د ترنم په شکل غږوي، همدی داستان د ځان سره خوبې نړۍ ته یوړلم، دومره مې وکړل چې اواز یې بند کړم او سترګې پټې کړم نوی سهار زما د ویخیدو انتظار کوو د لمانځه وروسته د کوټې کړکي ته ودریدم نن بیا کوچنی شهزادګۍ ښوونځي په لور روانې وې نه پوهیږم خو په کتو یې خوند اخلم، ښوونځي او زده کړه او افغان ماشومان چې لا څه رنګې دورې څخه راتیر شوی خو بیا هم روانې دی، د نوی لټون په لور زړه ته سکون رابښې ډیر ساعت ورته ولاړ وم، چې مور مې د چای غږ وکړو لاړم چای مې وڅکو او ځان مې د تګ لپاره اماده کړو، نن پوهنتون کې ده درسه زیات تشویش وو، هر چا غوښتل شل فیصده ازموینو لپاره خپل نوټونه پوره کړې هر چا خپله وسه کولې هغه هم بوخته وه دا چې په لومړیو ورځو کې نه وه نو هماغه نوټونه یې لټول ما هڅه کوله چې لا ما یې وغواړی خو ده هغې کبر معلوم وو، چاته یې څه ونه ویل خو بوخته وه څو ورځو وروسته ازمونې ډیر په زحمت پای ته ورسیدې ماته بیا ډیره سخته وه هم دیدن او هم زحمت دا کار د نورو په پرتله ډیر ګران وو، خو دا چې ورته خوښه کړې

مې وه نو شپې به تر ناوخته درس ته ناست وم، سهار به مې سترګې نه خلاصیدې خو چې کله به مې د هغې نوم یاد کړو نو ده خوبه پاڅیدل به هم راته اسانه وو ده خوب نو بیا د هغې د دیدن په مقابل کې هیڅ نه و ورځې همداسې تیریدې سبا ته مو د شل فیصده امتحانونو وروسته نتیجه معلومیده هره ورځ چې به مو نتیجه کته نو لومړی به مې د حسینې نتیجه وکته او بیا د ځان زما او هغې کې فرق نه وو دا چې ما د دواړو نمرې ځان سره یاداشت کړې وې نو کله به هغه او کله به زه مخکې شوم نن وروستی نتیجه راتله، د هغې کوشش هم لا ما پټ نه وو ځکه که د چا ورته پام نه وو خو ما سمه سهي په نښه کړې وه او همداسې پټ رقابت مې ورسره شروع کړی هم وم،خو ده هسې خو یې نه شوم شاته کولی خو ددې بریا په حسن کې وو، کله چې به هغې ته په کتو شوم نو هر څه به رانه پاتې شو پخه توبه یې درباندې ماتوله همدا وو چې پرون مې همداسې مخته مخته کیده درس مې سم نه وو ویلی ځکه لږ سودایي وم چې داسې نه مخکې شي ځکه نمرو مې ډیر کم تفاوت درلودو،د ټولو څیرې یو رقم وې شاید منتظر وو چې خپل وروستی نتیجه وګوري حسینې هم دواړه لاسونه په ورخطایي خوړول، ځان سره مې وویل ولې دومره ورخطایي یې؟یا به اول شې او که اول نه شوې نو دویم نمرګې خو درنه چا وړې نده هغې خو نه کتل خو ما پوره تعاقیبوله چې څه کوې کله کله به یې راوکتل شاید ماته یې زړه کې څه وو هو خیر نمبرې اعلان شوې او د تل په څیر زما نمره جیګه وه، زه خوښ شوم خو هغې څه عمل ونه ښود په ډیره کمه فیصدي له ما شاته وه ما یې څیرې ته ډیر وکتل خو څه مې پکې ونه موندل تل په څیر خاموشه ناسته وه، شبیر مې خواته وې ویل راکه شیریني تا خو بیا کار ویستی ومې ویل لا هغې یې ولې نه غواړې چې په انجونو کې تر ټولو مخکې ده خو بیا یې هم سر ټیټ نیولي شبیر وویل خیر ځینې انسانان ناشکر وې چې په دومره کې هم خفه ده بیا دې الله په بل څه خوشحاله کړې راځه بیرون خپله خوښي ولمانځو زمونږ خبرو کې صنف خالي شو شبیر ته مې وویل ته ځه زه درځم هغه هم روان شو خو وې ویل زر راځه خا مې وکړه

هغه لاړو په صنف کی یوازی هغه د نورو ورځو په څیر په خپل ځای کی ناسته وه،ده ډیره وخته ده همدی موقی په لټه کی وم چی لا نژدی ورسره وغږیږم زړه می په درزاه شو د هغی په لور چی روان شوم هغی نه پوهیږم څه کول ښکاریده چی بوخته ده، چی نژدی شوم غږ می وکړو حسینی نه پوهیږم داسی ناڅاپی غږ د خپل ځایه وخوزوله ورخطایی کی یی د لاسه څه ولویدل چی ښه نږدی شوم نو په ځمکه یی ساعت ولویدو زر زر می وویل وبښه هغی سر کته کړو او د ځمکی یی ساعت راوخیستو د ساعت شیشه ماته شوه خو ساعت یی په لاس کی یی پټ کړو، ومی ویل ډیر زیات وبښه زما په غږ دی د لاسه ساعت ولویدو سترګی یی راواړولی وی ویل خیر مشکل نشته ،مهرباني څه دی ویل ومی ویل ما غوښتل درته ووایم چی تبریک دی وی، د ښو نمبرو لپاره هغی وویل ماته ولی تبریکی راکوی نمری هو ستا لوړی وی، ومی ویل خو ډیری وی خو ستا هم ډیری وی، دی خاطره، هغی وویل کامیابی نیمګری نه وی، پوره وی زما کامیابی نیمګری ده، نو تبریکی ته هم ضرورت نشته ستا کامیابي دی تاته مبارک وی، خبرو یی ساکته کړم غلی شوم، حسینی مخ واړوو په پستو ګلاپی شونډي یی مسکا خپره کړه لاس کی نیولی ساعت ته یی وکتل وی ویل خیر په هر حال مننه ژوندی اوسی، نور یی راونه کتل، ما غوښتل په خوښی یی خوشحاله کړم خو دی ته هر څه عادی وو تعجب شوم زړه می یو رقم خفګان ونیو فکر می لا پسی سوچونو ونیوو چی دا به څنګه رضا کوم هره موقه می ضایعه ځي، دا هم داسی شوه اخر څه وکړم چی پام یی خپل لوری ته کړم یو خو می نصیب ورانی کوو زما د زړه په خلاف کارونه یی کول ددی موقی ته څومره په تمه وم دا دی دا می هم د لاسه ورکړه تللی وم چی خبره می یو څه مخته یوسم هغه خو می ونه کړل د پاسه می ورته ساعت هم مات کړو خفه د صنفه ووتم د شبیر خواته می ځان ورسوو پریشانه په بڼ کی ایځی چوکی کیناستم فکرونو کی ډوب وم چی شبیر راباندی غږ وکړو مخ می پورته کړو هغه لاس کی انرژی راکوله سر می نا لپاره وخوروو هغه می خواته کیناستو وی ویل څه خبره

شوی ومی ویل څه نه هسی مخ یې ماته راوړووو وی ویل نا څه خو شوی هغی دی هم پوښتنه کوله سترګی می تاوی کړی ومی ویل چا؟ هغی وویل لیله دی پوښتنه کوله دا دی اوس لاړه ویل یې چی ځواب نه ورکوی څه خبره شوی جنګ خو مو ندی کړی؟ ومی ویل یار دا د کومه شوه خبره چیرته وړی هغه غږ لږ نیولی شو وی ویل دا څو ورځی دی طبیعت کډ وډ دی ځکه می درنه پوښتنه وکړه ومی ویل هسی سرګردانه یم خپله پوهیږی چی امتحانونو کی بوخت وم هغی ته د ځواب ورکولو وخت نه وو شبیر وویل ستاسو منځ کی څه روان دی په دی خو نه پوهیږم خو دومره درته وایم چی بیکاره شوی ځواب ورته ورکړه ډیره خواشینی ښکاریده ومی ویل سمده ده. نن ورځ د نورو ورځو په نسبت ډیره خواشنی وه زړه می ډیر خفه وو تر ټولو زیات می خپل نصیب ته غوسه راتله ما تر اوسه ځان تر ټولو خوش نصیبه احساسوو خو شاید زما خوش نصیبی په مینه کی هم پاتی راغلی وه،سبا لا پسی جمعه وه تر ټولو زړه تنګونکی ورځ  د ورځ په جریان کی می هم چاسره خبری ونه کړی یوازی می ځان کمبخته بللی دی خبرو می فکر ډیر خراب کړی وو چی موبایل می غږ پورته کړو پریشانه سترګی می موبایل سکرین ته کړی نمبر نامعلومه وو، زړه نازړه شوم چاسره می د خبرو توان ځان کی نه لیدو موبایل خپل غږ همداسی روان وو په اخره لحظه کی می تلیفون ځواب کړو لیله په پریشانی کی می ده لیلا غږ واوریدو هدایته! اوری؟ ساکته شان شوم ځکه ما یې تیره شماره بلاک کړی وه، دا یې لا نوی شماری زنګ وهلی وو افففف کاش چی زنګ می نه ځوابولی اوس به څه کوم، هغی همداسی بلی بلی ویل اخر مجبور شوم ومی ویل هلو څوک ؟ اوس می غږ هم نه پیژنی ؟

ځان می همداسی بدل ونیوو ومی ویل ووایه څوک یې ؟ ښا پوهیږم خفه یې هغه ورځ می درسره سم چلند ونه کړو خو ما هم درک که هیڅ دی پوښتنه نه کوله او نه دی ځواب راکوو څه می کړی وی هغه تر اوسه په دی کی وه چی زه ورنه خفه یم ما هم دا خفګان همداسی وستو زر می وویلی هیڅ خبره نشته که نور څه نه وایی مصروفه یم

ده خدای پامان زنګ مې دې خبرې سره بند کړو بله لار نه وه په همدې لار مې کولې شو اړیکه ورسره پرې کړم، ددې زنګ نن بیا سرګردانه کړم یو خو هغې سره مې شته فاصیلې نه ختمیدې او بل دې سره مې اړیکه نه پرې کیده، حیران وم چې دا فاصیلې چې زما او د هغې تر منځ دې څنګه یې لرې کړم همدې ته سوچ وړې وم نه پوهیږم څه وخت سهار شو سهار لمونځ مې وکړو او په تخت مې وغزیدم سترګې مې پټې کړې تر ډیره ویده وم چې کله پاڅیدم هم مې وجود ناارامه وم ځان مې ستړې احساسوو دا ستړتیا مې د وجود نه وه بلکې دا ستړتیا مې ذهنې وه او ذهنې ستړتیا یوازې په ارام کولو نه دمه کیږې کوټه کې ناسته هم خوند نه راکوو، د کوره ووتم نه پوهیدم چې کوم پلو ته ځم بس نه مې غوښتل چې یوازې پاتې شم او دا ټول خبرې مې ذهن ستړې کړې،همداسې په مزل مزل مارکیټ ته ورسیدم دا چې نن ګڼه ګڼې ډیره وه نو ځای خونده هم زیاته وه مارکیټ کې مې د یو ملګرې چې شوکت نومیده دوکان لرو ناڅاپې مې مخته راغې ورته ستون شوم، هغه مې په لیدو ډیر خوشحاله شو خواکې یې کینولم شاګرد ته یې د چاې راوړلو وویل ماته یې مخ راوړوو د ژوند پوښتنې یې رانه پیل کړې دا چې اوس د نورو ورځو په څیر نه وم نو غلې شان وم هغه پوښتنه وکړه خو ما یې د خبرو ځواب ډیر بې خونده طریقه ورکړې هغه به نورې پوښتنې کولې چې مشتریان راغلل شوکت هغوې سره مصروفه شو، زه د ځای پورته شوم بلې خواته لاړم دوکان کې هر رقم سامان موجوده وو همداسې مې کتل چې پام مې ساعتونو ته شو ټولو ته مې وکتل خو په ټولو کې یو ساعت ډیر ښکلې په سپینو غمو پوښلې وو، لاس مې کړو او ښه مې نژدې کړو لا نژدې نور هم ښکلې ښکاریدو، د حسیینې سپینې لاسونه مې مخته راغلل ساعت مې لاس کې کلک ونیوو په همدې کې شوکت هم خواته راغلې چې ساعت یې راته لاس کې ولیدو نو خبره یې داسې پیل کړه یاره انتخاب دې منم په ټولو ساعتونو کې قیمتې او ښکلې همدا یو دې چې لاس کې دې نیولې خو دا ده انجونو لپاره دې هغه ته مې وکتل ومې ویل کولې شم چې واخلم هغه حیران شو ژر یې وویل یار که خاله

لپاره یې وړی نو نور به درته ښکاره کړم ومې ویل نا بل چا لپاره یې غواړم هغه مسکی شان شو وی ویل یاره بیا خو دی سم شی پورته کړی د ساعت پیسی می ورکړی ست یې وکړو خو حق می ورته وسپارو، همدی کی شاګرد هم راغلی چای یې راوړو هغه می ورسره وڅکو هلک زړه وو چې د ساعت پوښتنه وکړی خو اجازه می ور نکړه همداسی خبری مو وکړی تر ناوخته می ورسره د زړه خوله وکړه، او بیا می تری اجازه واخیسته او د کور په طرف رااوان شوم کورته راغلم خو د هر څه می مخکی ځان کوټي ته ورسوو زړه می درزیدو ویریدم که چا ساعت ولیدو نو پوښتنه به کوی چې دا چاته اخیستی؟

ولی دی اخیستی زر پوښتنی به کوی او په دی هم پوهیدم چې ماسره به ددوی د خبرو هیڅ ځواب نه وی نو ددی به ښه وی چې ځان غلی کړم او څوک په ځان پوه نکړم همداسی می وکړل، په خاموشي خپلی کوټی ته راغلم او ساعت می زر زر الماری ته کړو نور د کوټی ووتم او عادی د نورو ورځو په څیر د ټولو سره په کیسو لګیا شوم، نن شپه هم تر ډیره د کورنی سره ناست وم، خو د زړه می یو خدای خبر وو، چې څه وخت به ځم او یواځی کیږم به چې خپلی خوړی نړی ته ځان وسپارم او مشغول شم ځکه دی ساعت راته د بلی موقی اشاره راکوله لا زړه می دی یوی خبری ټول غمونه لری کړل په خوښی می دا وخت د کورنی سره تیر کړو بل اخره د پلار سترګی خوب ته شوی هغه د شپه پخیر ویلی سره د خپل ځای پورته شو د هغه وروسته څوکه څوکه ټول د خپل ځای پورته شول او په خپلو خپلو ځاینو شول زه هم راغلم خپلی کوټی ته کوټه ارامی نیولی وه یوازی زړه می درزا کوله نور هیڅ غږ نه وو لومړی می د الماری ساعت راوخیستو او بیا په  ناارامي خپل ځای ته راغلم او کیناستم ساعت ته می وکتل خوره ښکلي وو ومې ویل ګوره ساعت هم ستا په څیر ښکلی دی او چاته چې می اخیستی دی د هغی هو د ښکلا اندازه نشته، خو بیا هم دا یو نا څیزه ساعت به دی ښکلا نوره هم زیاته کړی، په یو اړخ شوم ساعت ته می وویل ګوره ته خو پوهیږې

چې ستا اخیستونکي ډیر خوږ انسان دی، خو ته پدی نه پوهیږی چې چاته می اخیستی یې هغه ډیره مغروره انجلی ده، ماته هو قدر نه راکوی هو خدای دی وکړی ستا قدر وکړی بیا می وویل خا نو ساعت خو دی واخیستو هو دا فکر وکړه چې څنګه به یې ورکوی، هغه دی تش د خولی خبری ته غوږ نه بږدي نو دا هو د عقل وتلی خبره ده چې ستا د لاس تحفه دی واخلی نو څنګه وکړم همداسی یې ځان سره وساتم که څنګه نااا ولی به یې ساتم دومره می اخیستی دی، باید چې په لاس یې کړی او وی ګورم چې څنګه ﭘکی ښکاری شپه می په سر شوه، څه څه خبری می سره وجنګولی او ومی ویل کومه لاره به ښه وی، کله به می ویل چې په میز یې کیږده او حال مه وایه چې د چا لپاره دی او د چا لخوا دی، بیا می وویل خو که داسی وکړی نو امکان لری چې ایسته یې خته کړی په زړه به دی څه تیر شی. ومی ویل نااا داسی خو نه غواړم خا بیا می وویل چې داسی نه غواړی بیا یوه سمه لار ولټوه ډیر فکرونه می وکړل هو نتیجې ته ونه رسیدم شپه په سودا کی تیره شوه، چې ددی ساعت سره به څه کوم سهار شو، خو د ذهن سهار می ونه لیدو هغه لا هم په تیاره کی وو. سهار می تګ ته ځان تیار کړو ساعت می راوخیستو او د پوهنتون په لوری روان شوم صنف کی لا ناست نه وم چې شبیر می تر شا راغی سلام وروسته یې وویل یاره څنګه داسی په خیالی نړی کی ناست یې؟ څه خبره ده هغه ته می ځواب ته خوله برابروله چې حسینه صنف ته دننه شوه د هغی په لیدو می بیا خوله وتړل شوه شبیر می خولی ته کتل چې څه وایم خو زه په خپل ځای ساکته پاتی شوم زړه می په تیزی سره په دربا شوه هغه په خپل ځای کیناسته ما هم سترګی ښخی کړی وی شبیر می په څټ ټک راکړو او د خیالی نړی یې وویستم پام می ورته وکړو ومی ویل یاره خو!

هغه زر وویل خبره دی کوله ووایه څه دی ویل ومی ویل رانه هیره شوه څو دقیقی یې د شک په نظر راته وکتل څه یې ویل خو استاد راغلی، بیا درسونه پیل شو وخت تیریدو هغی ته به می وکتل او بیا به می جیب کی ایخی ساعت ته لاس کړو خو چې

څه مې کړي وي په هغې نه پوهیدم زړه نا زړه وم که ډیر مې جرعت وکړو خو ونه توانیدم چې ساعت ورته ورکړم یا ورسره خبرې وکړم نن ورځ هم تش په کتو پای ته ورسیده، او راتلونکې څه موده همداسې په کتو تیره شوه ورځې تیریدې او زما یو طرفې مینه ورځ تر بلې زیاتیده اوس نو دې حد ته راسیدلې وم چې د هره کاره وتلی وم، یو سمستر هم په حتمیدو وو دا ځل مې د حسیني د خوبنې لپاره ځان شاته کړو، د امتحان سوالونه مې د خپلې مینې سوال په څیر تش پریخودل، رښتیا نتیجه مې هم هماغسې وه، خو زه بیا هم خوښ وم ځکه زما ځای بل چا نه وو نیولی زما ځای زما ژوند نیولی وو، او ما خو یې خوښې غوښته، خو هغه په دې کار هم خوښه نه شوه، د نتیجې وروسته یې خواته ورغلم اوس نو دې یوې طرفي مینې دومره کړی وم چې یو څو خبرې وکړم ورسره هغې ته مې مبارکي وویلې هغې په مړاوې غږ وویل دا امکان نه لري باید ته مخکې شوی وې، زما باور نه رازي ومې ویل بس کله کله معجزې هم کیږي دا دې وشوه ته مخکې شوې هغې وویل خو زه ددې حقداره نه یم او دې خاطره خوښه هم نه یم ناڅاپې مې د خولې وښته ومې ویل باید خوښه شې ما څومره هڅه کړې چې دا خوښې وګورم هغې سترګې راپورته کړې چې زر خپلې خولې ته ودریدم ومې ویل مطلب چې ده  بل په خوښې هم انسان باید خوشحالې کړي زه هم ستا لپاره خوښ یم نور مې څه ونه ویل او مخ مې راوړوو، زړه مې کلک کړو چې هغې بیا غږ وکړو او د شا یې وویل که هر څوک مخکې شي لیاقت محمه دې او ته یې لیاقت لرې، دې خبرې یې خوشاله کړم مخ مې ورواړوو ومې ویل داسې به هم نه وي ستا نظر ښایسته دی، لږ ورته نژدې شوم ومې ویل نن لکه چې لمر دې بدل لورې راښتلی هغې وویل څنګه؟

ومې ویل بس څه نه او ترې راروان شوم هغې په مخ خوږه مسکا خوره شوه په دا دومره موده کې مې لومړۍ ځل وو چې دا مې په خندا ولیده، ما یې تل څیره په غوسه او مغرورتیا کې لیدلې وه خو نن داسې ونه شو هغې وخندل او ددې خندا سبب زه وم

همدې خبرې راته زړه ډیر خوشحاله کړو، اوس مې زړه لکه تسلي وموندله چې نا زما انتخاب به غلط نه وي هغه به هم زما په څیر زما او زما د مینې قدر وکړي لکه څنګه چې زه ددې او ددې ده مینې قدردان وم هغه به هم داسې وکړي اوس مې زړه ډیر ډاډه شوی وو اوس چې به مې کله ورته وکتل نو یوه خوږه مسکا به يې وکړه دې خبرې يې زړه ډیر خوشحاله کوو او ددې خبرې جرعت يې راکوو چې د زړه حال ورته وواېم ما هم د لیونتوب انتها کړې وه یا خو به مې هغې ته کتل یا به مې میز ته چې ددې نوم یو توری مې پرې لیکلی وو کتل د ورځو په تیریدو نور هم ډاډه کیدم اوس یوازې دې ته انتظار وم چې یوه ښه موقه وګورم او دې ته هر څه چې زما په زړه کې له دومره مودې بند وو هغه ورته په ډاګه کړم، زړه مې وار نه کوو، په دا دومره وخت کې مې بیا ده لیله سره هیڅ ډول اړیکه ټنګه نکړه هغه بله شماره مې هم ورته بلاک کړه کله کله به مې ده صنف مخته ولیده خو لار به مې بدله کړه نه مې غوښتل چې زما او ددې په منځ کې کومه ستونزه پاتې شي ما مې خپله اړیکه ښه په ایمانداری مخته وړه،نن مې د هرې ورځې په څیر ورته د سترګو لاندې ډیر دیدن وکړو، یو دا ده بې خبرې دیدن هم بله مزه لري هغه چې هر څه کوي بې خبره وي او نه به يې نندره پرته د ویلو کوي، خو دې ننداره کې سپین سترګې هم شته ځکه په مسلسل کتو کې هغه کس هم په ځان پوهیږي کتو کتو کې به يې په هیرانه نظر راوکتل،چې سترګې به يې ماسره ولیږیدې نو مسکا خو به يې وکړه خو بیرته به يې سترګې واړولې ددې خوږې مسکا به هوایي کړم فکر به مې وکړو زه دې نړۍ کې نه يم ماته پرته د حسینې نور هیڅ خوند نه راکوي زه وایم یو هغه وي او یو زه پاتې نړۍ دې زمونږ ده مینې ترانې غږوي نوری خبرې چې هیڅ وانورم ښه به وي خو بیا هم نه کیدو زما نړۍ ته هیڅ چا نه کتل او نه يې په کیف پوهیدل ځکه خو به يې تل د حسینې د حسینې نړۍ راووستم او ده دنیایي کړاونو به يې خبر کړم، خو دا کړاونه به هم د لږ وخت لپاره وو ځکه حسینه ډیره زوروره وه، ماته يې اجازه نه راکوله چې زه دې د بل خبره وکړم په هره خبره کې به يې

ځان راته حاضر کړو شپې چې به کله ویده کېدم نو د حسینې په خبرو او یادونو کې به ویده شوم او چې کله به سهار پاڅیدم نو د هغې په نوم به پاڅیدم زما د ورځې پیل او د شپې پای وه، اوس له پخوا ډېره ښه شوې وه اوس یې راسره سمې خبرې کولې اوس یې غوسه چیرته ورکه کړې وه ډېرې نه خو بس د خبرې ځواب به یې سم راکوو اوس مې نصیب هم پر ما مهربانه شوی وو د هرې خوا خدای هغې ته نژدې کولم کله چې استاد ګروپي کار وویل نو تقدیر په دومره ښولګیوالو کې زما ګروپ د هغې سره برابر کړو، دې خبرې د ځمکې پورته کړم د خوښۍ مې حد نه وو په ګروپ کې ماسره د شبیر په شتون یوه بل هلک وو حسینه سره ده نرګسه مونږ ته درس راکړې شو دا یوازې درس نه وو زما تقدیر یوه موقعه په لاس راکړې وه، چې ځان ورته یوه څو ګامه نور هم نژدې کړم، هغې کې نه غوښتل اوس راګیر وه اړ وه چې ماسره نژدې اوسې او خبرې وکړې ما هم نور څه د خدای غوښتل نورو به فکر کوو چې زه په کار بوخت یم او دا خبره هم ربښتیا وه چې ما کار کوو خوو ما کار په حسینې کوو، چې څنګه یې زړه ته لار پیدا کړم همدې فکر کې د شبیر سره په بڼ کې ناست وم ما لا ددې په اړه سوچ کوو چې شبیر ناڅاپې وخوځولم،مخ مې شبیر کتو ته کړو چې کوم لورې یې سترګې ښخې کړې، مخ مې هماغه ځای ته کړو چې څه ګورم حسینې نن د مودو وروسته د صنفه راوتې وه، د لرې راروانه وه ورسره نرګس هم په خوا کې وه، د لرې ورته په کتو شوم، باور مې هم نه راتلو چې دا دې د صنفه واوځي خو دا دې نن دا راوتې وه او زما خواته راورانه وه، چې ښه نژدې شوه نو زر مې سترګې ښکته کړې شبیر سره لګیا شوم، چې نرګس غږ وکړو تاسې دلته یاستې مخ مې ورواړو ومې ویل اووهووو نن څه ګورم نرګس حسینې ته وکتل او وې ویل ولې څه شوې ؟

ومې ویل دا څه ګورم نن څنګه د صنفه راوتې یاستې نرګس وخندل وې ویل زه خو هره ورځ راوځم که دا خبره حسینې ته وکړې نو ډېره ورسره جوړیږی، شبیر وخندل او زر یې وویل نو تاته څوک لګیا دې حسینې د شرمه اننګې ګلاپې شو، زر مې وویل

خا خیر ځنګه مو وکړل څه درس مو وویل که نه دواړه راغلی او په لږه فاصیله کی کیناستی نرګس وویل درس خو به هله یاد کړو چی سره جوړ خو یی کړو ځکه می نن دا هم راوسته هغه هم ډیر په عذر و زاری، ومی ویل نو څه دی پری کول پریږدی به دی وی هغه خو د صنف مسوله ده چی صنف ونه ساتی نو څه به وکړی په دی خبره غوسه شوه بیا یی اننګو رنګ واړوو، د ځای پورته کیده چی بیا می وویل اوس قهر خو مه کوه کنه حسینی نزاکت مراعت کړو او په خپل ځای کیناسته خو غوسه یی د سترګو د ورایه ښکاریده ددی لپاره چی خبره بدله شی نو شبیر درس په باب خبری پیل کړی په دی کی هغه بل هلک هم راوریدو اوس نو مجبور وم چی درس کی بحث وکړم، ما درس په اړه خبری کولی چی هغه ښکته کتل څه یی نه ویل او همداسی د درس تر ورستی ګړی پوری یی یوه خبره هم ونه کړه، کار مو یو څه وکړو اوس نور وخت خلاص وو نرګس ته زنګ راغلی هغی وویل حسینی ته اوسه زه زنګ ځوابوم شبیر او هغه بل هلک مخکی د نرګس د ځای پورته شوی وو حسینی چی دا حال ولیدو نو د خپل ځای پورته کیده چی غږ می پری وکړو، حسینی هغی مخ راوړو او سترګی یی ښکته وی ومی ویل ته دومره برداشت هم نه لری ټوکه می کوله ته بیا خفه شوی ؟

غلی وه ومی ویل تاته وایم دا خبری چی نه ځوابوی نو سخته غوسه راځي، لومړی یی وکتل او بیا یی وویل نا غوسه خو نه یم ومی ویل نا غوسه خو کوی زه نه پوهیږم مور دی څه ترخه خوړلی وو چی بیا یی ته پیدا کړی هر وخت غوسی کوی،دی خبری سره یی حالت بدل شو او سترګی یی د اوښکو ډکی شوی داسی چی یی راوکتل نو اخخخ می وکړو وی دا څه کوی ولی ؟

څه وشو ډیر ورخطا شوم ومی ویل څه می وکړل چی سترګی دی ډکی شوی سترګی یی یوی خواته کړی او زر زر یی د سترګو اوښکی پاکی کړی حق هیران شوم چی ما څه بد وکړل چی دا داسی شوه، خو څو دقیقی غلی شوم دا چی لږه ښه شوه نو ومی

ویل حسینې هغې بیا راوکتل ومې ویل وبښه ما څه بد وویل هغې په مړاوی غږ وویل نا څه خو دی نه دی ویلی زړ مې په بیړه وپوښتل نو سترګې دی ولې راډکې شوی هغې وویل مور دی یاده کړه، ومې ویل دومره درته ګرانه ده ؟

چې تش په یادیدو دی هم سترګې ډکې شوی هسې خو مور مې ماته هم ګرانه ده خو ولا تاته عجیبه ګرانه ده هغه نوره د خپل ځای پورته کیده چې وی ویل تاسره به ستا مور نژدی وی خو ما سره مې مور نشته، نوره روانه شوه، چې زړ ورپسې روان شوم د شا مې ورپسې غږ وکړو حسینې هغې ونه کتل چې ښه ورته نژدی شوم ومې ویل ډیر وبښه ماته نه وه پته چې مور به دی نه وی، که نه هیڅ مې دا خبره درته نه یادوله ما خو دا خبره ځکه وکړه چې ستا فکر بدل شی خو نصیب ته ګوره ته مې بیا خفه کړی هغې وویل خیر کومه خبره نه ده، لومړی ځل مې ورته د زړه دا خبره وکړه چې حسینې ګوره کنه زه څومره بد نصیبه یم چې هر څو غواړم چې تا خوشاله کړم بیا هم رانه یو کار وشی چې ته خفه شی او په ځای مې ودریدم هغې شاته راوکتل وی ویل دومره مهمه نه یم چې بیا دی خبری سره روانه شوه چې د شا مې ورپسې بیا ورغږ کړو ومې ویل د مهم خبره مه کوه ستا د مهمتیا پوښتنه دی زما نه څوک وکړی چې ماته څه اهمیت لری هغې زما د خبری سره حرکت کړی وو نه پوهیږم چې خبره یې واوریده او که نه بس صنف ته ننواته، زه لږ ساعت والاوړ وم او بیا زه هم د صنف په لوری روان شوم،هغې ته مې بیا یو ځل وکتل هغه اوس عادی وی نه پوهیږم زما لپاره یې ځان عادی ښودو او که یا په ریښتیا هم عادی شوی وه، هغه به د خپل حاله ښه خبره وه خو زه تری خبر نه وم او همدی خبری مې زړه وخوړو، نه ځای خوند راکړو او نه لاری او نه مې ډوډی د ستونی تیره شوه خاموشه په خپله خونه شوم، ځان مې تیاری ته کړو او خدای ته په زاری شوم ومې ویل ویلی داسی کیږی زه یې خوښې غواړم خو ولی زه یې هر واری خفه کوم مینه د خوښې نوم دی چې زه ورته خوښې نه شم وربښلی نو زه مین په څه شوم باید د نورو فرق ولرم باید د نورو ورته زیات نژدی اوسم هغه

ماته د نورو ډېر نژدی فکر وکړی، اخر د یوی ورځې سوده ورسره نه غواړم زه یې مینه ژوند او خوښی غواړم د حسینی خفګان په زړه خفه کړی وم، او دی خفګان زه په ژړا سر کړی وم هغه به شاید نه وی خبره یا شاید هغی دا خبره هیره کړی وی خو ماته دا خبر عادی نه وه او نه می هیریدی شوه، هغی د حسینو سترګو اوښکو ارزښت ډېر وو دومره ډېر وو چې زه یې دی حال ته رسولی وم، شپه می په سرګردانی تیره کړه بیا سهار شو، زره می اوس هم د سبا خبری نیولی وو، هیڅ می نه شو کولی چې بیا ورته ورګورم ویل می که بیا یې سترګی هغسی وګورم نو نه پوهیږم چې څه به وکړم داسی نه د خپلی پښتو نه ورته تیر شم او غیږ کی یې ونیسم، بس ددی دعا می وکړه چې کله یې وګورم نو مسکا یې په څیره خپره وی، چې زړه می ارامه شی، او همدی فکرونو رانه وخت تیر کړو نن راباندی ډېر ناوخته شوی وو، چې کله صنف ته ورسیدم نو لومړی می هغی ته وکتل هغی هم زما لوری ته کتل اجازه می واخیسته خو ومی نه کتل چې څوک ولاړ دی او څه درس ورکوی بس همدی ته می کتل هغی نن ماته سترګی راړولی وی او کتل یې په کتو کتو په خپل ځای کیناستم، هغی نوری سترګی واړولی درس ته متوجې شوه ما یې څه وخته پوری دیدن وکړو بیرته می مخ شبیر ته کړو هغه د استاد په خبرو کی ژور تلی وو، ماته یې ونه کتل ما هم څه ونه ویل درس ته می مخه کړه خو خپله نښه می هم نه وه هیره کړی هغی ته می هم یو نظر وکتل زا زړه می یو څه ارامه شو ځکه نن راته ښه ښکاره شوه، مسکا یې په مخ وه،د درسونو ورسته بیا تفریح شوه، بیا د شبیر سره لاړم ګروپی کار لپاره نن بیا نرګس حسینی سره زمونږ ځای ته راغله دوی د کار په اړه لګیا وو، خو ما نن د درس پاڼه هم نه اړوله نن می ورته همداسی کتل او زړه کی می ویل چې په څه یې رضا کړم همدی فکرونو کی ډوب وم چې شبیر وویل یار ته هم په کی ووایه یو څه همداسی غلی یې، مخ می ورته واړوو ومی ویل نن یې تاسی پوره کړی زه نن ښه نه یم رښتیا سترګی می ماښامنی خفګان سری کړی وی نرګس وویل ولی څه مریض یې ؟

ومې ویل نه پوهیږم خو داسې فکر کوم د چا سترګو خوړلی یم مطلب؟

مطلب چې د چا سترګو داسې کړی وم، ما خبرو سره حسینې ته کتل خو هغې بیا پام ورقو ته وو، شبیر نه پوهیږم زما ده خبری وروسته په اوږو لاس کش کړو وی ویل الکه ناروغه یې ګډی وډي وایي ورته ومې کتل ومې ویل مریض خو یم خو ګډی وډي نه وایم شبیر وویل خا سمده اوس دا مریضې او سترګې پریدا ما او نرګس ته وګوره چې دی سوال ته به څه ځواب ورکړو ومې ویل یار فکر می جوړ نه دی کولی شی ددی په باب د اسلم نه پوښتنه وکړی هغه دا درس تشریح کړی وو هغه نرګس ته ووایل دا هلک ښه نه دی راځه چې د اسلم نه معلومات واخلو نن خو هغه بل هم نه دی راغلی چې ورسره روان شم هغې وویل سمده راځه حسینې ته هم راځه شبیر وویل هغه پریدا خپل کار به خلاص کړی ته ماسره راځه په ناخبری شبیر زما د زړه کار وکړو نرګس مزاحم یې لری کړه حسینې ځان غلی نیولی وو ورته ومې ویل اوس هم خفه یې هغې سترګې راپورته کړی وی ویل د څه لپاره ؟

ومې ویل پرونی خبری باندی اوس هم خفه یې ؟

وی ویل نا ولی ؟

ومې ویل ماته خو ښکاری چې خفه یې، هغې وویل نا ښه سمه یم ولی خفه شم ومې ویل چې داسې ده نو ته دا ووایه چې ولی داسې غلی یې خبری ولی نه کوی؟

هغې وویل پوښتنه نه ده راغلی چې په اړه یې تپوس وکړم ومې ویل ضرور ندی چې پوښتنه دی راشی او ته دی پوښتنه وکړی ته هسې هم پوښتنه او یا خبری کولی شی هغې وویل هغه څنګه کیږی زه پری نه پوهیږم؟

ومې ویل صبر چې زه یې درته وښایم چې هسې خبری څنګه وی هغې سترګې نوری هم ښخې کړی او متوجې شوه، ومې ویل دا دی لکه زه ستا بانه مثال کی راولم خپله نه

هم پوهیږی چی بانه دی ډیر ښایسته دی هغه بیت  سره سم جوړ راځی چی وایی (یو پڅ دی بل تیره دی بیا یو پڅ دی بل تیره سم چا دی تیره کړی وار په وار ستا بانه)

دی سره هغی بی واره وخندل نه پوهیږم نن یی د زړه د خلاصه وخندل خندا یی د نوم او ښکلا په څیر ډیره حسینه وه سم ورته پاتی شوم هغی خبره وکړه وی ویل دا هسی خبری دی هسی پاتی وی زما ندی زده په مسکا می ورته وویل خو زده یی که هغی وویل ضرورت نشته دومره وخت نه لرم چی دا خبری به کوم ومی ویل خا نو ته ووایه چی څه لپاره وخت لری چی هماغه کار زه هم وکړم هغی په خندا ودرولو وویل ته اول دا خپل کار خلاص کړه داسی نه نه استاد تاته نمری راکړی او نه مونږ ته ومی ویل زما خیر دی خو ستاسو پروا راځي نو سمده ده درس به پیل کړو خو ده هغی مخکی یو کار مهم دی هغی وویل څه ؟

د خوا موبایل می ورته راوخستو او د لاس عکس می واخستو هغی وویل څه کوی دا زما موبایل دی ومی ویل ما کله ویلی چی زما دی همدا ستا می پکار دی موبایل می ورته ورکړو هغی عکس ته وکتل چی ما می په لاس (sorry ) لیکلی وو هغی وویل ددی مطلب ومی ویل ما خو درنه ښښنه وغوښته خو تا ونه ویل چی ومی ښښلی دی خاطره می دا عکس واخیستو چی هر وخت یی ګوری نو زما ښښنه به درته دریادیږی او کولی شی ډیر په لیدو یی ښښنه راته وکړی هغی وویل ته هسی لیونی یی!! زړه کی می پټ وویل هوو لیونی یم خو هسی نه تا پسی لیونی یم هغی همداسی راکتل چی ومی ویل خا سمده چی اوس ماته لیونی وایی خو په دی باوری یم چی دا عکس کولی شی ماته ستا د خوا ښښنه وکړی، هغی وویل داسی به نه وی ومی ویل همداسی ده زما ازمایل شوی نسخه ده، هغی وخندل وی ویل خا سمده ده ګورو به چی څه کیږی ومی ویل نا داسی به نه کوی چی زړه کی دی ښښنه وی خو ددی لپاره چی

خپله خبره پوره کړی او دروغ ووایې هغې سترګې کونځې کړی وی ویل ولی زه تاته دروغجنه ښکارم؟

زر می افففف وکړو ومی ویل حسینی خدای روی ته وګوره چی دا څه وایم د هغې مطلب چپه مه اوباسه ښه سمه وښیاره انجلی یی نه پوهیږم ولی زما په خبرو نه پوهیږی او یا زه خو وایم ته پری ښه پوهیږی خو ځان ننګاره اچوی، هغې له ما سترګې واړولی او کتاب ته یی لاس کړو. ومی ویل خا اوس ګوره کنه زه لګیا یم تا کتاب راوخیستو، هغې مخ ته کتاب نیولی وو چی غږ یی وکړو دلته درس ته راغلی یو نورو خبرو ته نه پریدا چی درس باندی ځان پوه کړو په اضافه خبرو نه ،ومی ویل زما خواره نصیبه زما په خولی لا دا خبره وه چی شبیر هم راورسیدو اوس پوه شوم چی حسینی ولی داسی کتاب مخ ته ونیوو، نه یی غوښتل چی زمونږ تر منځ شوی خبرو باندی نرګس یا شبیر پوه کړی نو ما هم نوری خبری ونه کړی کله چی درس خلاص شو او هغه روانیده نو په سترګو کی می ورته د لاس یادونه وکړه هغې تنکی مسکا په څیره خپره کړه او د نرګس سره روانه شوه، مونږ هم ورپسی صنف ته لاړو په خپل ځای کیناستو، شبیر خوله خوځیده خو ما یی غږ نه اوریدو ځکه اوس زه یو بل چا په نندارہ وم هغې خو نه کتل خو ما د تل په څیر څارله، ما غوښتل هغه هم ماته وګوری چی د کاتو خوند دوه برابره شی خو هغې داسی نه کول خیر اوس یی نه کتل پروا نه راوسته ځکه یو څه نژدی شوی وم ورته اوس می د بی زړه نه په خبرو پیل کړی وو، خیر که د مینی خبری نه وی خو بیا هم یو څه می پیل کړی وو، او همدا می زړه وو چی دا خبری می پیل کړی هغه به هم یوه ورځ ووایم کومی چی می زړه کی دی،خو د زړه خبرو ویل ویره لرله زړه به می یو رقم شو ددی لپاره نه چی زه یی ویلی نه شم خو ددی لپاره چی په ویلو یی د لاسه ورنکړم زه ورته دومره نژدی شوی وم چی اوس تری د لری والی تصور هم ګران وو کله چی به می ددی په باب فکر هم وکړو نو د زړه نړی به می ویجاړه شوه او بی رنګی به یی خپله کړه، ما نه غوښتل چی هغه نړی ځانته چی ما پکی

ژوند غوښتو ځانته یې بې رنګه کړم ځکه مې وخت ورکړو تر څو ښه نژدې شم او دومره یې نژدې کړم چې زما نړی که وغواړی هم لا ما لری لاړه نه شه غوښتل مې هغه چې ماته دومره اړینه ده باید هغې ته هم ځان همامغره اړینه کړم تر هغې چې دا ویره بیخی ختمه شی چې د مینې اظهار سره دی لا ما لری لاړه شی، همدی می زړه ته دلاسه ورکوله او ددی ورځي انتظار مې کوو چې کله دا ورځ راشی او زه ورته په ډاډه زړه هر څه ووایم او هغه مې پرته د کومې بد ګمانی قبول کړی، همداسی کټو کټو کې یې وخت تیر شو درس خلاص شو او د رخصتی وخت شو هغه چې د خپل ځای پورته کیده نو یو ځل یې راوکتل ما هم د وار سره ورته د لاس یادونه بیا وکړه، هغې سترګی واړولی او د نرګس سره روانه شوه،بیا یې ونه کتل زه د شبیر سره رراوان شوم مور مې د تل په څیر لاری څارلی ولاړه وه چې کله کورته لاړم نو زړه یې په زړه کې شو د ورځې پوښتنه یې وکړه همداسی څو کیسو مو سره وکړی، او د نورو ورځو په شان خپلې کوټې ته لاړم، او د هغې یادونو ونیولم، شپه مې په دی فکر تیره کړه چې سبا به څه وایی ایا هغه به زما ښنه قبوله کړی او یا نه، که قبوله یې نه کړی بیا به څه کوم او که قبوله یې کړی، نو بیا به څه کوم، زړه کې مې وویل که زما ښنه قبوله کړه نو دا به زما لپاره ګام وی چې زه به پری قدم اخلم او مخته به لاړه شم او ده زړه خبره ورته نوره په ډاګه کړم،،شپه په همدی فکرونو کې تیره شوه، سبا مې په بې صبری پوهتنون ته مخه کړه. او دی ته لیوال وم چې د هغې عمل به څه وی سهار خو عادی وه ما ورته ډیر وکتل خو هغې ونه کتل اوس مې زړه دا وو چې کله تفریح شی او بیا بهانه پیدا شی چې پوښتنه ورنه وکړم چې زما د ښنی په اړه یې څه فکر کړی، همدی انتظار کې د تفریح وخت شو د شبیر سره زر د بڼ په لوری روان شوم لاره کې شبیر ته سر په سر څو زنګونه راغلل ما د شوخی نه ورته وویل هلکه لکه چې څوک دی پیدا کړی ځنګه تلیفون دی نه بندیږی هغه وویل نه پوهیږم څوک دی نمبر راسره ثبت نه دی ومی ویل ته یې ځواب خو که چې څوک دی هغه رانه په لار کې پاتی شو زه د بڼ په

لوری راروان شوم نرګس او د ګروپ هغه بل هلک نن بیا نه وو شبیر هم څند وکړو یوازی ناست وم یو څه تمه می زړه کی راپیدا شوه چی کیدای شی د شبیر مخکی زما خواته راشی او د زړه خبره ورسره وکړم ښکته پورته می کتل چی د کوم لوری به رانازلیږی سترګی می د صنف په لوری وګنډلی رښتیا په یو ځای کی می تر سترګو شوه زړه می د هغی لیدو بی واره په دربا شو هغه می ګړی په ګړی خواته نژدی کیده هغه زما په طرف راراوانه وه چی شبیر یی ناڅاپه مخته ودریدو فکر می کار ونه کړو شبیر هغه ودروله  او خبری یی ورسره پیل کړی زما کشمکش لا پاتی ووچی خواته می د چا شتون احساس کړو څوک راغلی او په کتاب یی په سر ووخلم چی پام می وکړو پس د ډیری مودی د کومه لیلا راپیښ شوه، سلام یی وویل او پرته د اجازی می خوا کی کیناسته او خبری یی پیل کړی ما د هغی خبرو نه پام حیسنی ته کړو د هغی مخته شبیر ولاړ وو خو د هغی پام اوس هم زما په لور وو لیلا غږ وکړو تاته لګیا یم اوری که نه؟

مخ می لیلا ته کړو په خبرو یی نه پوهیدم چی څه وایی ځکه زما ټول نظر حسینی ته وو، او د کومی خبری چی ویریدم هماغه وشو هغی که څه د شبیر سره کولی خو پام یی ماته وو شاید هیرانه وه چی دا څه روان دی؟ او دا څوک ده؟ چی داسی می خوا کی کیناسته او خبری یی پیل کړی،لیله په ډکو سترګو خپلی خبری پیل کړی وی، ویل یی لا ما داسی عتړه ګناه نده کړی چی ته لا ماسره داسی کوی زه ښښنه غواړم ومی ښښنه خبری یی خطرناکه وی نن په خپل پلان پخیمانه شوم شبیر ښه وو هغه یی ودریولی وه خو د هغی پام یی نه وو خطا کړی هغه به یو څه کړی وی خو هغه هم نه وو لکه د وخیاری مرغی په دوه لمو کی ګیر شوم څه می کړی وی او څه نه فکر کی جام شو چی څه وکړم لیله لاس راتیر کړو او د لاسه یی ونیولم ددی لاس لکه د برق شارت داسی وخوزولم زر می ورته وکتل هغی ده مخ اوښکی په لاس پاکی کړی او بیا یی خپلی خبری پیل کړی دی لاس نیول یی زما اینده د خطر سره مخ کړه زر می حسینی

ته وکتل هغې د شبیر سره خبرې ختمې کړې وې او خواته مې راراونه وه یو طرفته لیله بل طرفته هغه څوک چې شاید زما هر څه وه لاس مې خولې ته ونیوو یو ځل مې بیا لیله ته وکتل هغه اوس هم په خبرو کې غرکه وه د لاسه مې ورته لاس لرې کړو نور خو څه پاتې نه وو بس ومې وویل لیله هیله کوم غلې شه د چې صنفې مې راروانه ده، همدې کې وم چې حسینه راته نژدې ودریده دواړه سره مخ شوې که یو بل یې نه پیژندل لا یو بل سره تړلی وې د حسینې راتګ سره لیلا غلې شوه، غوښتل مې حالات کنترول کړم کوشش مې وکړو پیل مې داسې وکړو حسینې راځه حسینې هغې څه ونه ویل لیلا ته مې ووویل دا مې صنفې ده نوې راغلې شاید تا نه وې لیدلې هغې لاس حسینې ته نژدې کړو حسینې په مړاوې ځان خپل لاس وړاندې کړو او لاس یې وکړو، زه بیا مخکې شوم ومې ویل مونږ سبا ته(presentation) لرو نو دې خاطره مو سره په هغې کار پیل کړی هغې وویل سمده تاسې مو کار وکړی زه به پسته خبرې وکړم حسینې وویل نا هیله کوم ستاسې کار به اړینه وې تاسې مو خبرې وکړې زه مې خپل ورقې اخلم او ځم ماته یې لاس نژدې کړو چې ورته مې وکتل نو وې ویل ماته زما هغه ورقه راکړه خوا کې ایخې ورقې مې ورته ورکړې او هغه رانه روانه شوه، لیلا مې خوا کې پاتې شوه او هغه څوک چې زړه ته مې نژدې وه رانه لرې لاړه زړه مې لکه د لوې غر ولویدو د هر څه پاتې راغلم لیله بیا خپلې خبرې پیل کړې چې ناڅاپې مې ورته وویل ته صبر چې مانه یې زما ورقې هم یوړلې هغې وویل خیر دې صنف کې یې ورنه بیا واخله زړه مې بې واره په درزا شو حق هیران په ځای پاتې شوم نه پوهیږم نن مې ډیر د شرم احساس کوو زړه مې غوښتل چې وخت شاته لاړ شي او زه داسې وکړم چې لا دې ځای لرې وتختم، چې څوک مې ونه پیژني زما نصیب د تل په څیر ماسره وفا ونه کړه زه یې بیا کم راوستم او دا داسې کم راوستل وو چې شاید بیرته خپل ځای ته هیڅ کله هم رانشم، لیله خپلې خبرې وکړې او لاړه خو ماته یې کار وکتو په چوکې یخه داړې کیناستم خوله څه وجود مې کار پریخودو چې دا څه وشو ما خوو ددې

خبرې تصور هم نه وو کړی چې داسې څه به پیښیږي ما ویل چې نن به هغه ما وبښي او ماته به لاره برابره شي چې زه ورته د زړه حال ووایم، خو دلته خو د زړه خبرې هسې هم سر خوړلې وو نوره مې هم د خوانه لرې کړه د هغې ضدي ځیره مې مخکې شوه، او تر ټولو زیات د هغې خفګان ویرولم ومې ویل که د هغې زړه کې ما لپاره څه وي نو د هغې دا زما داسې د بل چا سره لیدل به هیڅ کله زړه قبول نه کړي سر مې چوکۍ ته کړو او بې اختیاره مې د سترګو اوښکې توی کړې چې ولې نصیب ماسره همشه داسې کوي زه چې هر څو وغواړم چې نژدې شم زه ورنه په هماغه اندازه لرې کیږي دې کار لپاره به ما هیڅ کله ونه ښښي ښښل خو لا څه کوي زما مخ ته به هم ونه ګوري یو باید همداسې وکړي هر انسان غواړي ژوند کې یو با وفا انسان ولري داسې نه چې ناست یوې سره وي او زړه یې بلې سره وي خپل مین زړه او خپل تقدیر مې پرتله کوو چې شبیر مې په دې کې خواته راغلی هغه د راتګ سره وویل الکه څنګه چل دی پوښتنې سره یې ماته پام شو چې د سترګو مې اوښکې رواني دي حق هیران شو زر یې راپورته کړم وي ویل څه وشو څه خبره ده زه د خبرو نه وم هغه مې اوښکې پاکې کړې وي ویل څه وشو ګوره دا بې ځایه اوښکې دي نه شم لیدلی زما هیڅ زړه طاقت نه کوي چې تا دې داسې وګورم زړه مې چوی کنه حال ووایه بس د خولې مې یوه خبره ووته چې هر څه خلاص شو هغه به نور ماته ونه ګوري هغه به نوره مانه ګرکه ولري هغه مې لاس زنې ته نژدې کړو وي ویل هلکه وار وکه څه ګډې وډي وایي صبر چې زه پوه شم چې څه شوي بیا درته وایم چې خبره څه ده. دا هر څه خو لا دې لپاره وو چې ته خوشحاله شي بیا ولې داسې وایي ما یې په اوږه سر کیخودو ومې ویل یار زما نصیب خراب دی ما هسې په بد ګماني کې عمر تیر کړی وو چې زه د نړۍ خوش نصیبه انسان یم زما نصیب اوس ماته معلوم شو چې څومره خراب دی وي ویل الکه ردي بدلې مه وایه حال ووایه چې څه وشو ما بس یوه خبره کوله چې زه مې نصیب د داسې چا مخکې کړ راوستم چې زما زړه ده زه ورسره د ځانه هم ډیره مینه لرم هغه

وویل هیڅ نشته ته بس دا ووایه چې څه وشو، لیله غږ مې وکړو هغه سترګې د عادي حال نه وویستې وی ویل لیله! سر مې وخوروو ومې ویل نور څه به یې ویل چې د ځای پورته شوم هغه وویل تا صبر چې زه څه وایم ومې ویل نه یم د خبرو هغه وویل خا چې د خبرو نه یې راځه چې مخ ته اوبه واچوی د ځای یې پورته کړم او په بڼ کی د اوبو پیپ ته یې نژدی کړم مخ ته مې اوبه واچولی لکه اوبه یې هم راباندی وڅکلی او بیا یې ځای ته راوستم پر چوکی یې کیناولم لږ ساعته پوری یې خبری ونه کړی څه ساعت چې تیر شو بیا مې په ورخطایي ور غږ کړو شبیر هر څه خراب شو اوس به څه کوم هغه مې د لاسه ورکړه او زه د هغې پرته نه شم اوسیدلی دهغه وویل ګوره ته لږ خبری ته غوږ شه چې زه څه وایم ومې ویل ووایه چې څه دی زړه وی خو داسی څه ونه وایې چې زړه مې ورسره نور هم وران کړی هغه وویل ستا زړه خراب دی ؟

ومې ویل مه کوه پوښتنه چې څه حال مې دی زه وایې دنیا ورانیږی زه خاوری کیږم هغه وویل دومره دی خوښه ده؟

خو ډیره مې خوښه ده نړی مې ده هر څه مې ده دی خبرو مو ستونی نیولی کړو د خبرو ودریدم هغه زړه ته نژدی کړم او وی ویل زه درسره یم ته فکر مه کوه ستا خوښې د هر څه مهمه ده هغه مې ټینګ ونیوو بیا مې خپلی خبری پیل کړی هغه مې خفه کړه دا ډیر درد هم ددی خبری دی چې ولی مې خفه کړه مخکی به مې د زړه ده حاله خبره کړی وی اوس به مې کولی شو چې پخلا یې کړم هغه وویل یار هر څه به سم شی نوری ډیری خبری وکړی د شبیر په وینا مې ساه سازه کړه او ورسره د صنف په لوری روان شوم، کله چې صنف ته ننه نژدی شوم شبیر ته مې بیا وکتل هغه وویل یار هیڅ نشته زه درسره یم ته راځه صنف ته یې ننیستم، سترګی مې ورته نه اړولی همداسې په ځای کیناستم،سترګی مې د لومړی ځل لپاره ټیټې نیولی وی د کتو همت مې نه لرو چې سترګو ته یې وګورم ډیر ساعت شبیر لاس په لاس کی نیول وو د هغه شتون راته زړه ته ډاډ راکوو خو دا ډاډ زما هغه ورخطا زړه نه ننه کوو چې د

حسینې په خفګان ورخطا شوی وو، خو زړه مې بیا هم طاقت ونه کړو او یو ځل مې ور وکتل هغې سر لاندې کړی وو خاموشه په خپل ځای ناسته وه ساه مې واخیسته زړه مې هیڅ وار نه ورکوو لاس مې د شبیر د لاسه خلاص کړو ومې ویل ښه یم هغه هم په درس کې مصروفه شو تر رخصتۍ مې ورته وکتل خو هغې نن هیڅ ونه کتل کله چې رخصت شو شبیر د تګ لپاره بیګ راوخیستو دواړه د صنفه ووتو چې ښه مخکې لاړو شبیر ته مې وویل ته ورځه زه راځم هغه مې پریښودو او د صنف په لوری روان شوم په صنف کې څوک نه وو هغه یوازې بې روحه ناسته وه لکه د هر څه چې بې خبره وی خواته یې وراغلم کله چې یې ولیدم نو هغې ځان جوړ کړوو چې د صنفه ووځي غږ مې وکړو حسینې هغې ونه کتل او د صنفه ووته ورمنډه مې کړه بیا مې غږ مې وکړو تاته وایم هغه په خپل ځای ودریده په ارامۍ یې وویل مهربانی اوس یې ژبه کې پردیوالی وو خفګان یې د کتو را مالومیدو چې سترګې یې ښکته نیولې وو او ماته یې نه کتل زر مې وویل څنګه د هغې ځای نه لاړې نن درس پاتې وو هغې وویل نه مې غوښتل مزاحم شم خیر ته وایه څه دې ویل که ستا په وینا هسې خبرې کول غواړې نو زما عمله منتظر ده خبره دې وکړه چې ورځم ومې ویل نو خفه ولې یې ؟

هغې ځان وخوځوو وی ویل نا خفه نه یم ولې خفه شم ؟ ومې ویل ماته خو خفه ښکاری هغې سر وخوروو او نا یې وکړه بیا روانه شوه چې بیا مې ورپسې غږ وکړو حسینې خو هغې ونه کتل او همداسې یې خپل ګامونه واخیستل په دومره وخت کې مې شبیر هم خواته راغلی وی ویل هلکه چیرته ناڅاپې ورک شې نظر مې اوس هم د حسینې لوری ته وو هغه مې په اوږه لاس کیښودو د هغې ځای مې پام شبیر ته کړو سترګې یې راکې ګنډلې وی ومې ویل یار کورته ځو هیڅ ښه نه یم وی ویل سمده اوس دې فکر جوړ که ده وسې دې وشوه نو بیا مازیګر کې راشه پارک ته هلته به سر وغړیږو ومې ویل یار زه د حال نه یم او پارک ته هم نه شم درتلی ته دومره وکړه چې هغه درس ووایه زه به ارام وکړم او که څه خبرې مو کولې نو تلیفون خو شته په هغې

به وغږېږو هغه وویل دا هم سمه خبره ده همداسې په خبرو مو لاره نیمایي کړه او بیا مو پوره کړه بیا مو لارې جدا شوې او یوازې د کور په لورې راروان شوم نن د نورو ټولو ورځو ډېر غلی وم غلی راغلم او پر ځای مې پرېوتم د مور راتګ مې احساس کړو خو ځان مې ویدو کې واچوو څه مې ونه ویل هغې هم فکر وکړو چې ستړې یم څه یې ونه ویل تر ناوخته پورې همداسې په خپل ځای غزیدلې وم څه مې نه ویل، اخر ماښام وو چې د مور مې بیا زړه طاقت نه وو کړې بیا مې تر اوتاقه راغله غږ یې راباندې وکړو زما نو اوس دا حال وو چې سترګې مې اوښکو نیولې وې، او په دې خو هیڅ نه وم پوه شوې چې د سر بالښت مې څومره لوند کړې هیڅ په ځان نه وو خبر د مور غږ سره مې غوښتل ځان ترې پټ کړم خو دا ځل هغې د غږ سره سم راته په مخ لاس کش کړو دا چې اوس کوټه کې تیاره خوره وه خو هغې مې اوښکې په تیاره کې هم احساس کړې زر یې وویل بچې څه شوې؟

ما بیا هم غږ ونه کړو چې هغې یو ځل بیا غږ وکړو ما نور څه ونه کړل بس غیږ مې ورته وینوه او سر مې کیښودو سترګو مې خپله کوله خو ما مې غږ بند کړې وو په سختۍ به مې ساه واخیسته هغې مې لاس په ویښتو کې وهو بیا یې وویل زویه زړه مې بې واره شو حال ووایه چې څه شوې؟

ما سترګې پورته کړې خو مخ مې ورته نه لیدو زر مې اوښکې پاکې کړې او غلی شان مې وویل نا مورې څه نه دي شوي بس زړه مې خفه دی هغې وویل نو زړه خو هسې نه خفه کیږي یو څه وشي چې زړه یې ونه منې هغه وخت زړه خفه شي ماسره د خبرې ځواب نه وو هغې بیا وویل ګوره زویه څه موده مخکې دې هم یو څه ویلي وو چې درته وایم یې خو تر نن ورځې پورې دې ونه ویل ما هم درنه بیا پوښتنه ونه کړه خو دا داسې ستا خفګان زما د وسې پوره نه دی ما دې هر ارمان پوره کړی د هر څه مې لومړیتوب تاته درکړی ایا زما روزنه کې څه کمې ده چې ته اوس زما نه خبرې پټوې ومې ویل مور دا خبره مه کوه هیله کوم زما نړۍ په تا ودانه ده خو هره خبره هم

نه شم کولی او یا داسې فکر وکړه چې دا خبری مې په خوله نه راځي چې تا سره يې شریکې کړم هغې وویل دومره لا لوی شوی نه يې چې خبری دی لا ما پټی کړی یا دی په کومه خبره کې شرم وکړی ووایه چې څه شوی زه هم پوه شم که نور څه نه وی نظر خو به درکړم لاسونه مې ورته سترګو ته نژدی کړل هغه تر اوسه لمدی وی ومې ویل ستا زوی د هر څه ګټونکی نن په خپله مینه کې پاتې راغلی نن داسې چاته کم راغلم چې زما زړه ته تر ټولو زیاته نژدی ده د زړه درد مې د سترګو د لاری وبهیدو اوښکې مې د هغې به لاس توی شوی ولی څه شوی؟ خبره دی پوره کړه خدای دی هیڅ کله داسې ورځ نه راولی چې ته دی چاته کم راشی ، خو موری همداسې وشو نن يې ولیدم په داسې ورځ چې نن مې ورته د زړه راز ویل سترګی مې پټی کړی هغې وویل زویه ټوله خبره وکړه چې څه شوی ؟ زړه مې ډک وو لنډو ټکو کې مې ورته ټوله کیسه وکړه هغې مخ زما سر ته نژدی کړو وی ویل خبره خو ښه نه ده شوی هو اوس شوی داسې وکړه چې هر څه ورته ووایه بچې د دورغو هیڅ نه جوړیږی یو ځل يې په حقیقت پوه کړه نور يې زړه چې هر څه يې زړه غواړی هماغه دی وکړی ژر مې وویل موری ایا په ریښتیا ویلو به مې وبښی ولی نه که ریښتیا هم غواړی په حقیقت ځان پوه کړی او یا ورته اهمیت ولری نه پوهیږم چې ما لپاره زړه کې څه لری دا دومره وخت مې دا راز یوازی د ځان سره وساتو د هر چا مې پټ ځکه وساتو چې په زړه يې پوه شم چې ددی زړه کې څه دی خو کله چې هغه ورځ ورسیده هغه بد وشو چې تصور مې هم نه وو کړی مور مې وویل خیر اوس هر څه شوی څه چې مې وویل هغه هر څه ورته ووایه لا دی حقیقته به یوه ورځ خبریده نو دا به ښه وی چې هر څه ورته خپله ووايي موری سخته ده اوس مې هغې ته کتل هم شرمنده کوی د هغې مخکې دا هر څه چې تیر شوی څنګه ووایم نه شم کولی کولی يې شی کوشش وکړه لومړی دی ځان پوه کړه بیا کولی شی چې په ساده ژبه هغه هم پوه کړی ریښتیا اوس که زما منی نو اوس يې په خپله حال پریدا غوسه به وی خفه به وی په دی کې انسان یوه خبره هم نه منی

یوازې ده خپله زړه او سترګو چې څه لیدلی هماغه کوی یو څو ورځې یې پریدا بیا به ورسره وغږیږي موری ازموینی هم نژدې دی که اوس پخلا نه شوه نو دا زمی نه پوهیږم څنګه به تیروم خیر به پیښ شي ته اوس لپاره ارامه اوسه خدای به یوه لاره ختمن وښایي موری سترګې مې بیا پټې کړې د مور لاسونه مې نور هم کلک کړل ومې ویل سمده چې ته وایې خو شبیر ته به څه وایم خیر د هغې هم څه وخت تیر شه یو ځل جلی پخلا کړه هر څه به خپله سم شي د مور خبرو مې په زړه د تسلې څپه خپره کړه زړه مې یو څه په سکون کې شو ډیر وخت همداسې د مور په غیږ کې پروت وم پرته د حسینې او د پخلاینې مې ذهن ته هیڅ نه راتلل همدا خبرې وې چې په ذهن مې خپروی شپه مې ټوله په سر وه، سترګې مې ډیرې پټې کړې خو هیڅ خوب رانغی،سهار بیا پوهنتون لورې ته روان شوم د پخوانې وخت ارمان مې کوو ویل مې هغه هم څومره ښه وخت وو چې باور یې راباندې هیله مې وه چې د زړه حال به ورته وایم اوس هیڅ نشته د هغې نظر به څه خبرې څنګه معرفي شوی یم زما کړنو به ځورولی وی اوس خو یې راباندې باور پیدا شوی وو خبرې یې پیل کړې وې شتونتیا وه چې ډیر زر مې خپل کړې خو لیله هر ارمان د یوې لوی خطر سره مخ کړو شاید دا مې د ګناهونو سزا وه چې خدای ماته راکړې وه شبیر به تل ویل چې دا کار مه کوه ښه خبره نه ده خو ما به نه منله دا دی اوس په هر څه پښیمانه یم خو هیڅ نه شم کولی همدې خبرو سره ټولګې ته ورسیدم خو هغه لا نه وه راغلی څه ځنډ وروسته د نرګس سره یو ځای ټولګې ته راننوته په لیدو یې د تل په څیر خوښ شوم د هغې په خوله مسکا وه خو چې کله یې زما لورې ته وکتل نو هر څه یې د مخه په یوه دقیقه کې لرې شو مسکا یې په ارامتیا بدله شوه، سترګې یې واړولې بیرته په خپل ځای کیناسته نن مې هم د نورو ورځو په څیر وځارله خو هغه نن هیڅ ونه کتل د تفریح په وخت کې مې هم ورته د تلو په وخت کې وکتل خو هغې یو ځل هم زما طرفته ونه کتل شبیر نن ټوله ورځ د سوالونو ځواب غوښتو خو دا چې وضیعت ښه وو نو هیڅ مې ورته ونه ویل ما فقط هغې ته

کتل او هغې مسلسل د نظره تیر راوستم ما فکر وکړو چې شاید نن یا د څو ورځو وروسته ددی دا بې روحی کمه شي یا بیرته عادی حالته راشي خو داسی ونه شو هغه مسلسل په خپل ضد ولاړه وه نه یې کتل او نه یې خبره کوله کله چې به ما ورباندی غږ وکړو ځان به یې ننګاره واچوو دی کارونو یې ځورولم د زړه خفه کیدم خو هغې زما خفګان ته نه کتل خپله یې کوله ډیر وخت ووتو خو دا هیڅ بیرته پخوا په څیر نه شوه پرون می ورته لار کی غږ هم وکړو خو ځان یې تیر راوستو نه پوهیږم خدای ولی داسی کسانو ته سخت زړه ورکوی چې د یو مظلوم زړه یې په واک کی وی ددی لا لوری په دوام داره توګه رټل کیدل زه ډیر خراب کړم حالت یې ورځ تر بلی خرابوو شبیر می په حال خبریدو تل به یې ویل څه شوی خو ما تر اوسه هغه ته هیڅ ونه ویل کله به خفه شو مرور به شو خو کله چې به یې زما حالت بد تر ولیدو نو هر څه به یې هیر کړل ډیره هڅه یې وکړه چې زما د زړه خبره معلومه کړی خو ما د هیڅ شی خبر نه کړو، اخر هم د بل سمستر ازمویني رانژدی شوی نور زما هم د صبر کاسه ډکه شوی وی که د ژمی په راراسیدو سره هم دا پخلا نه کړم نو شاید دا می د ژوند وروستی ژمی وی ځکه نور می وجود د درد طاقت ختم کړی وو خو د هغې ظلم پای لا نه وه شوی په لومړیو څو ازموینو کی می ورته په سمه غږ وکړو خو هغې ځان تیر راوستو نور ماسره هم بله چاره نه وه پاتی فقط دوه امتحانونه نور پاتی وو سبا او بله ورځ که په دی دوه ورځو کی می څه نه وی کړی بیا به داسی وو لکه ځان چې مرګ ته تیار کړم نن می هم هغې طرفته ډیر وکتل په کتو کتو کی یې یو ځل زما لوری ته وکتل سترګی می ددی جدایي نمجنی کړی وی بنه پوه شوه خو بیا یې هم سترګی واړولی دی کړنو یې نن سخت ودردولم ددی داسی کړونو راته شپه او پاتی ورځ د عذابه ډکه کړه سبا ورځی ته پتمه شوم رښتیا څنګه چې می ویلی وو همداسی وو په سختی می شپه سبا کړه خو دی سختی می اراده قوی کړه چې نن به ورته هر څه رښتیا وایم نن پس د ډیرو ورځو درد خاموشی او تکلیف تیرولو وروسته خو په قوی هوډ پوهنتون ته روان وم همدا ورځ

وه چې هر څه سم کړم د مور په وینا مې دا څه موده صبر وکړو هغې زړه ته مې وکتل خپلې هڅې مې هم وکړې تر څو عادي حالته راشي نو هغې خپله خبره کلکه کړې وه. په دې غوسې او په خفګان به یې یو څه هیله زړه کې پیدا کړه چې یو څه یې زړه کې شته زه ورته اړین یم دې خبرې به نور هم هڅولم چې د پخلا کیدو لارې یې ولټوم دا دومره موده مې وکتل خو نور مې نه شو کتلی نور مې بایدو دی خفګان ته د پای ټکی ایخی وی په سوچونو کې صنف ته ورسیدم په صنف کې د ازموینې د مخې شور ما شور جوړ وو د هغې ځای تر اوسه خالي وو تشې چوکۍ ته په کتو مې ورته وویل زا نن دې هره ګیله ختموم نن دې بیرته پخلا کوم یوازې ستا په خفګان مې ټول هیرکړې ختا د خوا ملګرې شبیر هم که نن مې پخلا کړې نو بیرته به په زړه جوړ شم رنځور کړې دی یم لیونی! دې خبرې سره صنف ته ننوتله بکس د کیخودو وروسته خپله هم کیناسته دا څه وخت یې راته هیڅ نه کتل بیا به زه مجبوریدم چې تختې مخته په بهانه لاړ شم او د مخ دیدار یې وکړم. نن هم ددې راتګ سره بې واره د خپل ځای پورته شوم کله چې مخته ورسیدم نو لومړی مې هغې ته وکتل ناڅاپي یې راسره سترګې ولړیدې خو زر یې نظر پنا کړو دیوال ته مې تکیا وکړه او ددې دیدن په پلمه مې بوټانو ته لاس کړو څو دقیقې مې ښه ډیر ورته وکتل هو هغې هیڅ پام ونه کړو زه لا ولاړ وم چې استاد راننوتو زه هم ورسره په خپل ځای کیناستم. ازموینه پیل شوه خو زما دعا د ازموینې د ښه تیریدو لپاره نه وه بلکې د موقع دعا وه چې نن یې خدای راکړي او په زړه جوړ زخم ټکور کړم نن د پښتو ازموینه وه د ازموینې لا شل دقیقې وتلی نه وي چې د خپل ځای پورته شوه شاید پارچه یې حل کړې وه زر مې خپلی پارچې ته وکتل لا ډیر شې سوالونه پاتې وو خو ددې په وتلو مې احساس وکړو چې همدا موقع ده ټول په ازموینه کې بوخت دې کولی شم خپل کار وکړم د هغې وروسته زه هم د ځای پورته شوم پارچه مې استاد ته تسلیم کړه او د هغې شاته روان شوم هغه ده دهلیزه وتلی وه د سړک په لوری روانه وه چې ګامونه مې نور هم ګړندي کړل ځان مې ورته ښه نژدې

کړو زما د قدمونو احساس چې یې کله وکړو مخ ته یې راته وکتل په لیدو یې بیا مخ رانه واړوو خو دا ځل مې غږ ورباندې وکړو حسینې خو غږ یې ونه کړو بیا مې غږ وکړو حسینې تاته وایم ولې داسې کوی په ځای ودریده او وی ویل مهربانی څه وایې غواړم خبرې درسره وکړم څنګه خبرې ؟

هغه خبرې چې ته یې نه اوری بیا روانه شوه خو دا ځل یې مخته ودریدم ومې ویل حسینې زما خبرې خو واوره چې څه وایم ته داسې قضاوت نشې کولی ته ما داسې د ځانه نشي لرې کولی، سترګې یې ټیټې کړې او غلې شان یې وویل هیله کوم لار خوشې که نه غواړم خبرې راته جوړې شي لا دې خبرې یې معلومه شوه چې ده پیغوره ویریږی د لاسه مې ونیوله او د ترکې پوهنځي په لور مې روانه کړه په لار کې یې هڅې وکړې چې خپل لاس مې د لاسه خلاص کړی خو دا لاس مې نه پریځودو نیولی مې د ټول عمر لپاره وو څنګه به مې په نیمه کې پریځودو که هر څه یې وکړل اخر مې هم د پوهنځي تر بنه ورسوله فضا د نور ورځو په څیره نه وه نن دلته د حده زیاته خاموشې وه، بس د سرې هوا څپه به د یو ځای نه بل ځای ته په شور خپره شوه په چوکۍ مې کینوله مخته یې ودریدم ومې ویل دا دې لرې مې راوستې اوس خو کولی شي خبرې وکړي سر یې ټیټ ونیوو او وی ویل نا نه غواړم خبرې وکړم او نه غواړم خبرې دې واورم

ظلم مه کوه راسره تاته مې ډیر څه زړه کې دی په داسې خبرو دی زما هر ارمان قتلوی سر یې ټیپ نیولی وو د خولې یې غږ نه بنتو چوکۍ ته یې نژدې کیناستم ومې ویل خا ته ووایه چې یوی تیروتني لپاره ما نشې ببنلی او هغه تیروتنه چې ما نده کړی سر یې پورته کړو وی ویل تا هیڅ ندی کړی هر څه ما کړی ولې مې دربانده باور کوو ولې مې زړه کې هیلې پیدا کولی چې بنه پوهیدم ته د چا زړه ساتونکی نه یې غږ یې بدل شو زر یې سر یې بیا ټیټ کړو دی خبرو یې د زړه ودردولم سترګې مې ډکې شوی لاس زر مې ورته لاس کې ونیوو ومې ویل پوهیږم د چا زړه نه ساتم خو ستا زړه مې ساتلی او تل به یې ساتم خو بعضې خبرې برابرې شی لیله صرف زما ملګرې وه او

هغه هم تر هغی تر کله چی ته نه وی او د هغی پشان نوري هم ډیری وی خو باور وکه هر څه می پریخودل چی کله می ته ولیدی هغی وویل نه غوارم دا خبری واورم د ځای پورته کیده چی لاس می ورته کلک کړو ومی ویل یو ځل وخت تیروتنه کړی دا ځل یی ته مه کوه دا ظلم چی زما خبری نه منی مه کوه هسی هم ډیر ځوریدلی یم نور می مه ځوروه هغی مخ اړولی وو د ومی ویل ته وګوره زما سترګو ته آیا په دی کی ته د ځان لپاره مینه او تلوسه نه وینی دا زړه چی تل ستا نوم اخلی نه اوری زما کړني چی تل ستا لوری ته وی دا نه وینی غبږ یی نه ویستو ومی ویل حسینی تاته وایم دا دی ستا مین ستا مجرم ستا مخکي دی ووایه هر امر ته دی تیار یم سترګی یی پورته کړی خو زر یی بل طرفته مخ کړ وی ویل ازموینه به پای ته رسیدلی وی پریدا چی لاره شم ومی ویل ازموینه پای ته ورسېده خو زما انتظار چی تاته می کړی هغه به څه وخت پای ته رسیږی غبږ یی راغی د څه شی انتظار؟

هغه کس چی ژوند کی ډیرخلک لری هغه د چا انتظار نه کوی د ځای پورته شوه زر یی مخته ودریدم ومی ویل حسینی ډیره مینه لرم درسره ډیره مینه می کړی او تر څو چی ژوندی یم دا مینه به ستا په نوم وی هغی تګ لپاره لار مونده اخر ځل می وویل حسینی که ودي نه بښلم بیا می د ژوند تمه هم مه کوه زه ستا په نه کتو ځوریږم نو په لري تګ به دی د نړی پنا شم هیله کوم داسی بی ځوابه می مه پریدا ومی بښنه موقع راکه دا می سوال دی درته وروستی ځل یی راته وکتل سترګی یی د اوښکو ډکی وی وی ویل ځم لار راکه او د مخی می تیره شوه د شا می ورپسی غبږ کړو سبا درته په همدی ځای پتمه یم زما می په خپلی مینی پوره باور دی رابه شې وبه می بښې که رانغلی بیا می د ژوند تمه هم ونه کړي هغی هیڅ ونه ویل همداسی په ګړندی قدمونو می د مخی پنا شوه په ځای همداسی په ژړا پاتی شوم نن می اوښکو ازاده فضا لیدلی وه نن یی د رڼا کی د خپلو ځلیدو څاڅکو خوند اخیستو ډیر وخته پوری هلته ناست وم چی د شبیر زنګ د ځای پورته کړم هغه راته پتمه وو اوښکی می پاکی کړی او ده هغه په

لوري روان شوم پوهنځي مخته ولاړ وو په ليدو يې د ورايه غبږ وکړو هلکه چيرته تلی وی غبږ می ټينګ وو هو هغه پوه شو خبره يې وغځوله وی ويل لکه چی نن هم کار ونه شو پورته می وکتل ومی ويل ته څه پوه شوی؟ هغه وويل ياره زه نه پوهيږم داسی څه وشو ستاسو منځ کې چی دا مو حال دي دواړه ښه وخياران ياستی بيا هم داسی کوی مړاوی وم ومی ويل خير سبا به هر څه سم شی هغه وويل خدای دی وکړی ستاسو په منځ کې زه وسوزيدم د خوا يی تير شوم او د کور په لوری وغزيدم هغه په لار کی هم ډيري خبری وکړی خو که يوه می ورته اوريدلی وی چی څه وايي اخر مو لاری جدا شوي او په خپله خپله لار شو

ډيرو فکرونو او خبرو می په عصابو درد راوستی وو، سر می شديده درد کوو د کوټي دروازه می ځان پسی وتړله که راپسی هر څو غږونه وشو خلاصه می نکړه، د تکيه بالښت می په اوښکو لوند کړی وو هری خبری سره به می د هغی پردی پردی خبری رايادی شوی د هغی مړاوی څيره دی حالت مرګ سره مخ کړی وم ځان می د نوروو ورځو په نسبت ډير ګنهګار احساسوو، هغه کس چی زه يی لا دی عذابه خلاصولی شوم هغه د ټولو زياته مروره وه، ددی زړه کی هم مالپاره ډير څه وو خو شايد هغه ويره چی زما زړه کی وه د هغی زړه کی هم وه کاش خبر وی چی ددی زړه کی هم ما لپاره مينه ده نو ډير وخته به می ورته هر څه ويلی وی دومره وخت به می جدايی کی نه تيروو، خبری ډيری وی خو زه يو وم خاموشی وه او د شپی تياره نه می يادیږی چی شپه می څنګه تيره کړه هغه شپه به می د ژوند د سختی ورځو په حساب راځي، سهار می بيا دی نا غوښتلی نړی ته سترګی پرانسيتی، بيا هماغه خبری چی شايد زغم يی زما د وسی نه وو، ساعت ته می وکتل لا وخت وو د ساعت په ليدو می د هغی اخسيتی تحفه هم ياده شوه زر می راوخيسته په کتو می وويل دادی وخت که نن می وبښی شايد دا می د ژوند وروستی سختی وی که داسی ونه شی شايد دا می د ستونزو پيل وی ساعت ټايم می جوړ کړو او په جيب کی می واچوو او د يو نامعلومه منزل په

لوری روان شوم خپل ربښتیا مینه او هغه یقین چې پر خپلې مینې مې وو راسره وو نن وروستی ازموینه وه شور د حده زیات وو نه پوهیږم چې څه روان وو شاید د ازموینې وروسته پلانونه روان وو چې وروستی ورځ به څنګه پای ته رسوی د انتظار پای شیبو ته انتظار وم چې دا مې تر سترګو شوه، نن د نورو ورځو په نسبت ډیره ښه ښکاریده د کوبایي جمپر چې ددی د حسن ربړا یې نوره هم زیاته کړې وه په تن کړی وو د بکس سربیره خپله ډایری هم په لاس کې نیولې وه، راننوتو سره یې سم زما لوری ته وکتل خو په سترګو کې یې پخوانۍ مزه نه وه نن د نورو ورځو په نسبت ډیری مړاوی وی ګمان مې وکړو لکه زما د وجې ډیره ناارامه شوی خو کاش چې ددی ځواب ما ناارامه نه کړی که داسی وشوی نو بیا به وکولی شو دواړه خوشبخته ووسو نور به مو ژوند د خوښی ډک شی د هغې ټولی مینې تشی به ورته ډک کړم چې لا مې یې وخت تیر شوی، همدی سوچونو کې وم چې د شبیر تلیفون وشرنګیدو هغی ته مې پام وکړو د نورو ورځو په نسبت بل رقم وو تلیفون سره د ځای پورته شو او د صنفه ووتو زه بیا د هغې په ننداره شوم هغې هم یو ځل راوکتل سترګې پریشانه ښکاریدی ډیر څه مې پکې ولیدل خو نژدی نه شوم چې پوښتنه ورنه وکړم چې ددی زړه کې څه دی چې ددی سترګې یې داسی مړاوی کړی سوچونو مې ژورولی کوو ډیر ساعت پکې تیر شو نن هر څه غیر عادی وو ازموینه هم ناوخته پیل شوه ډیر انتظار مې کړی وو نور مې صبر نه کیدو، غوښتل مې لا دی ځای زر زر فرار وکړم او ځان خپل مقام ته ورسوم، هیڅ شی خوند نه راکوو، همدا وو چې د پارچې په اخیستو مې ټولی لس دقیقی هم تیری نه کړی پارچه مې تسلیم کړه او اخری ځل مې هغې لوری ته وکتل او د روان شوم زر لاړم ځان مې پرونی ځای ته ورسوو عجیبه احساس سره په جنګ وم هر څه راته بدلیدونکی ښکاریدل فکر مې کوو ژوند مې د بدلون په طرف روان دی نن نه پس به هر څه بدل وی کله به خوښی ونیولم او کله به عجیبه ویری خو د ویری نه مې د راتلونکی ته هیله زیاته وه په چوکی ناستی هم خوند نه راکوو، همداسی ګرځیدم زړه کې

مې نوې هیلې پیدا کېدې د ګلانو ډکې باغچې کې ګډ لاس په لاس روان یو هغه راته په سرو شونډو خاندې او زه یې سترګو کې غرک یم دا داسې فکرونه وو چې هره لحظه مې مخته راتلل همدې فکرونو کې تر ډېره بوخت وم خو کله چې به د فکره ووتم نو زر به مې هغې لارې ته وکتل چې هغې ته په انتظار وم، په کتو کتو مې پام یو نفر ته شو چې په بېړه مې خواته حرکت کوې سترګې مې ښې ښخې کړې په لیدو یې هیران شوم د حسینې پر ځای لیلا دې لورې ته راروانه وه زړه مې بې واره په درازه شو تیر حالت مې بیا تر سترګو شو بیا مې هر څه وسنجول ویرې ونیولم زر مې ځان د ونې شاته پنا کړو هغه راغله ښکته پورته یې وکتل لکه څوک چې لټوي زه نه وم خبر څه کار یې دې خو همدا سوال مې وکړو چې ددې دا کار لا ماسره نه وې هغې کتل وکړل خو څه یې ونه کړل همداسې روانه شوه، اخخخ خدایه شکر چې لاړه که بیا یې داسې لا ماسره لیدلی وی نو نه پوهیږم چې څه به یې کول یو ځل خفګان یې لا تر اوسه ساتلی دی سره به یې څه کول خدای خبر دی د لیله تګ وروسته بیا مې هغې لورې ته سترګې وګنډلې چې په دې لار به راځي زما سترګې هغې لیدو ته بې قراره وې هغه هر څه مې په زړه بار وو چې دې ته مې ویل غوښتل خو د هغې درک نه وو ساعت ته مې وکتل ناوخته شوی وو د ازموینې وخت خو به پای ته رسیدلی وی نو دا بیا چېرته ده، سودا مې شوه زړه مې یو څه د خطر احساس وکړو خو بیا مې زړه ته په دې دلاسه ورکړه چې نرګس به نیولې وی داسې ظلم ماسره نه شي کولی داسې بې ځوابه په نیمه لار کې مې نشي پریښودی د ځای لږ بیرون ووتم لارې باندې لږ څه مخکې لاړم خو هغه څوک مې ونه لیده چې ورته په تمه وم لحظه په لحظه ورخطا کیدم اوس وخت ډېر ناوخته شوی وو، باید راغلې وی په لاس کې بند ساعت مې باور ونه شو زر مې جیب ته لاس کړو د هغې په نوم اخسیتی ساعت چې سهار مې ورته ټایم سم کړی وو وکتو ریښتیا ناوخته وو زړه مې یو رقم شو وخت تیریدل او ددې نه راتګ مې په زړه د توری ګوزار کوو ډېر مې لارې لارې ته وکتل چې رابه شي هغې ته پته ده چې زه ورته

انتظار یم لحظه په لحظه مې ساعت ته کتل خو د هغې تر ډېره درک ونه لرېدو بېخي زړه مې بې واره شو دې ځای نه نه خوځېدم په دې ویره داسې نه زه لاړ شم او هغه راشي خو چې تر ډېره رانغله نور مې طاقت ونه شو د لیونو په څېر مې منډه کړه ځان مې تر خپل پوهنځي ورسوو تېزې منډې مې زړه تر خولې راوستو خو بیا هم په ځان نه وم، خو کله چې صنف ته ورسیدم نو پوه شوم چې دا مې د امید وروستۍ سلګۍ دې صنف خالي وو هیڅ څوک پکې نه وو خالي صنف مې وجود ته ټکان ورکړو په سترګو مې تیاره شوه، بېرته بیرون ووتم بیرون مو د صنف څو هلکان تر سترګو شو زر مې وپوښتل دا د صنف نفر چېرته دی ؟ هغوی په خندا وویل خو ازموینه خلاصه شوه، نور به یې څه کړي وي، زر مې وویلي ټول لاړل یو پکې وویلې خو کنه ټول لاړل زړه مې درد وکړو، سترګې مې ډکې شوې د هلکانو ځای مې پرېښودو بلې خواته مې منډه کړه ګمان مې کوو چې شرارت راسره کوي لکه ما چې ځورولې اوس ما هم ځوروي، سترګې مې اخوا دیخوا تاوې راتاوې کړې خو پیدا مې نکړه زر مې بیا هغې هلکانو پسې منډه کړه په نژدې کیدو مې ورنه بې واره پوښتنه وکړه حسینه هم لاړه دوی کې یو وویلې خو هغه مې ولیده فکر کوم پلار یې ورپسې راغلی وو هغې سره روانه وه، دې تک خبرې یې وجود بې ساه کړو، بې واره په ژړا شوم هلکانو په حیرانو سترګو راته وکتل د هغوی ځای مې پرېښودو بل لورې ته روان شوم موبایل مې غبږ پورته کړو خو زه دومره دې نړۍ کې ورک وم چې هیڅ مې ددې توان ځان کې نه لیدو چې ځواب ورکړم همداسې په منډو سر وم ځان مې زر د پوهنتون بیروني دروازې ته ورسوو، تر اوسه مې امید وو چې شاید ویوینم لاره کې شبیر په مخه راغلی په بکس کې یې څه ایخودل همداسې ورنه تیر شوم سړک ته مې ځان ورسوو اخوا دیخوا مې ډېر وکتل خو هغه مې پیدا نکړه سترګو مې بې واره اوښکې کولې په نمجنو سترګې مې هغه لټوله چې شاید زه یې ډېر شاته پرېښې وم له شا راپسې شبیر غبږ وکړو، دده غږ ته تم شوم په بیړه مې خواته نژدې شو وی ویل عمرانه چې مخ مې واړوو حالت مې بدل وو، زر یې

وویلی څه دی شوی بس  ومی ویل هر څه ختم شو اوس می ژوند ختم شو، هغه وویل څه بد وایې حالووایه د خبرو نه وم کور ته ځم هغه ټکسی ته لاس ونیوو او تر کوره یې راوستم ډیری پوښتنې یې وکړې خو ده یوې خبرې ځواب می ورنکړو ځکه ده هغه یوه خبره می وانوریده چې څه وایې تر کوره یې ورسولم حالت می لحظه په لحظه خرابیدل بس دومره می په سختۍ وکړل چې تر کوټې می ځان ورسوم د شبیر خدای پامانی هم رانه حیره وه د کوټې دوازه می کلکه کړه خو د زړه دوازه می هغه ځان پسې پورې کړې وه زه یې تیاری ته یوازې پریځی وم سترګې می ډیرې وموخلې په دې می ځان خلاصوو چې دا زه بد خوب وینم خو داسې نه وو زه په حقیقت کې وم دا هر څه ماسره شوی وو هغې مغرورې زما د زړه هر ارمان قتل کړی وو، هغه لا ماسره داسې نه شی کولی پرون خو یې ویلی وو چې د هغې ماته امید وو د امید په ماتیدو خو پوهیده کنه نو هغه څنګه کولی شی زما امیدونه داسې ویجاړ کړې ما په نیمه لار کې یوازې پریدی هغې ته پته وه ما ورته ویلی وو چې که دا رانغله زه به ختم شم هغې زه داسې ختمیدو ته پریخودم دی خبری می زړه ودروو، ساه اخیستنه می سخته شوه،اخ خدایه هغه لا ماسره داسې نه شی کولی دا هغه خبره وه چې تر ډیره می ځان سره کوله وخت د قیامت وو سترګو می تیاری ته غاړه ورکوله په ځان نه یم پوه شوی کله چې پاڅیدم نو د سهار رڼا په لمر بدله شوی وه د ځمکې پورته شوم سر می ډیر درد کوو، فکر می سم کار نه کوو چې ماسره څه تیر شوی او دا اوس  څه روان دی بیا می پام پرونی ورځې ته شو هغه د غمه ډک وخت می بیا په یاد شو، بیا می سترګې لمدې شوی بیا په ځای کیناستم، جیب ته می لاس کړو د هغې بې وفا مغرورې ساعت می خپل سوالونه او ددې داسې په نیمه لار کې  راوخیستو زړه می ډیر ورنه ګیلې کولې پریخودل راته زړه کې سورې کوو، لومړی څو ورځې می بیخې هر څه پریخودل تلیفون می بند کړو ټولو سره می اړیکه پرې کړه د دنیایی هرې رشتې می زړه بد شو هرې خبرې سره به د هغې مغروره سترګې مخکې شوی دی، وخت به یې راته سخت کړو،څو

ورځې مې ډېرې په خفګان تېرې کړې ددې کړنو مې په وجود کې پټ دردونه وپارول که هر څه مې وکړل هیڅ مې ونه ښنله ځان مې مظلوم او دا مې ظالمه وبلله خو ددې دومره ظلم و ستم وروسته بیا هم زما زړه کې وه زما مینه وه، زه یې درد او فریاد ته پرېښې وم خو زما په بدو نه پېرزو کېده خو چې کله مې درد د حده زیات شو د هرې خبرې به ووتم ګمان مې به مې کوو اوس ماتېږم اوس مې ژوند ختمېږي خو کورني او په خاصه توګه مې مور جانې مي نه غوښتل مات شم او خپل ژوند داسې عبث کړم هغوی هم ملامته نه وو لا ما یې د قوي انسان تمه کوله خو زه قوي نه وم زه د هغې مغرورې جلې هرې کړنو په زړه رنځور کړې وم د نړۍ هر خوند یې بې برخې کړې وم هر څه راته بې رنګه پیکه پیکه ښکارېدل نن مې ډېر وخت وروسته موبایل روښانه کړو پوهېږي د موبایل په لیدو مې بیا د هغې کیسه سترګو ته شوه هغه چې خفه وه او ما یې د پخلاینې لپاره د لاس عکس اخیستی وو سترګې مې د تل په څیر ډکې شوې زړه مې په درد شو احساس مې وکړو ددې کړې ظلم ډېر دی دومره چې زه به یې په عمر هم هېر نکړم همدې فکرونو کې وم چې د زنګ غږ پورته شو بیا نامعلومه شماره وه نا زړه وم خو بیا مې هم زنګ ته ځواب ورکړو زما د تلیفون ځواب سره مې ده لیله خبرې تر غوږو شوې هدایته! تلیفون مې بندوو چې غږ یې وکړو هدایته هیله کوم خبرې وکړه بس دی کنه څومره مې ځوروې، نور یې غږ ژړا ونیوو، ومې ویل څه وایې ووایه زه یې اورم؟ وی ویل ومې ښنه جدایي دې راته ډېره ګرانه ده، دی ده جدایي خبره کړې وه، ماته زما حال ودرېدو، په ډکو سترګو مې وخندل ومې ویل دومره مهمه نه یم چې څوک مې دې دومره پروا وکړې دې خبرې سره مې په سترګو کې پاتې اوښکې توی شوې هغې په ځواب کې وویل داسې نده . پوهېږې د شبیر هم درته اندیښنه وه. شبیر؟ خو شبیر ولې؟ نا هسې ما ویل د شبیره څه خبره شوې ؟ ستا له وجې تا خو زنګ نه ځوابوو مجبوره شوم د هغه نمبر پیدا کړم او پوښتنه دې ترې وکړم خا خا پوه شوم خیر ستا د پوښتنې ډېره مننه ژوندی اوسې، او بس دی نه مې

خفه ته دومره اندیښنه مه کوه، هغې زر وویلی ته می ده ژوند یوازینی اندیښنه یې ډیره خفه کیږم درپسی هیله کوم لا ما لری مه ځه!خبره یې د مینی وه احساس یې زما په څیر وو هغه احساس چی ما یوازی د حسینی په شتون احساسوي خبره یې د برداشت نه وه خو بیا می هم تیره کړه ومی ویل سمده ده چی ځنګه وایې د خندا غږ یې په واضح توګه اوریدل کیدو دا می په خوښی کی پریښوده او تلیفون مي بند کړو. د لیله خبرو فکر ته اړه کړم هغه ماسره دومره ښنه نشی اوسیدلی ما تر اوسه دی ته دومره اهمیت ندي ورکړي چی دا دي ماسره ښه وکړی دا ټوله تمه می د حسینی څخه وه هغې ته ما خپل زړه مینه او سر ټیټ کړي وو زه ورته د ژونده تیر وم هغې ولی ددی خبری احساس ونه کړو یوه پردی ما زړه ته نژدی کوی ددی خو خپل وم دی ولي داسی وکړل دی خبرو می بیا په سر درد راوستو ددی خبرو او کړنو می روح ناارمه کړي وو هیڅ می زغم نه وو چي خبري یې تیری کړم.ددی لپاره چي عادی حالت ته ورشم بیرته ورغیږم لیله ته می پنا یوړه هغه ډک زړه چی ما حسینی ته ساتلی وو لیله ته تش کړو ډیری خبری ده زړه خبره هر څه می ورته په ډاډه زړه وویل د حسینی په باب می هم ورته په ازاده توګه وویل هغه سربیره پر دی چي زه یې خوښ وم ماسره یې مینه وه خو زما د احساس قدر یې وکړو خفه نه شوه یا که خفه شوی هم وی زه یې پوه نکړم، ورځ تر بلی می زړه ته نژدی کیده ددی هری خبری چی ما یې تمه د حسینی نه وه لا دی خولی اوریده ددی هری خبری به هغه بدبخته مخته کړه زړه به می بی واره شو په ژړا به شوم او بیا به می زړه د واکه ووتو په ساعتونو به بیا ځای ته نه راتلم ده حسینی غم بیخی ډیر وو یوازی مینه نه د هغې غرور د هغې بی پروایې او خپلی عاجزۍ به هر وخت ژړاولم ډیر وخت مي داسي په ژړا تیر کړی وو نور راته ځان بی ګناه ښکاریدو ما پر ځان ددی مغروری دلاسه ډیر ظلم کړی وو نور مي  نه غوښتو پر ځان ظلم وکړم همدا خبره وه چی لیله می وټاکله هغې هم په مینه قبول کړم که څه زړه می اوس هم نه منله که سل بد یې کړی وو خو بیا می هم یادیده خو ما څه کړی وی هغې په

نیمه لار او مرګ ته پریښې وم دومره یې بې قدره کړی وم چې په ځان بې باوره شوی وم او همدي بې قدره انسان لیله ډیر قدر کوو ډیره مینه او توجو یې راکوله په دی خبرو مې زړه ته ډاډ ورکوو خو بیا هم نامعلومه وم. لیله سره مخته تګ هم راته ناشونې ښکاریدو همدا وو چې پس د ډیری مودی مې شبیر پارک ته راوغوښت هغه هم راپسی خفه شوی وو په لیدو مو ښې خبرې وکړې په خبرو خبرو کې مې د لیله ډیر صفت وکړو او شبیر ته مې داسې ظاهره کړه چې هغې سره نور مخکې ځم هغه په خندا وویل زا ښه شو ستاسي مشکلات پای ته ورسیدل زه مو په اندیښنه کړی وم. څومره هڅه مي وکړه دواړه سره پخلا کړم خو بیا هم ګوره هغه څه چې ما زړه کې ویل هماغسې وشو تر څو چې خپله مخ په مخ ستونزه حل نکړی بل به تر څو وکړی د شبیر خبرې بل رقم وی زما او د لیله ستونزې دا د څه وخت خبره وه غوښتل مې پوښتنه یې وکړم خو نه پوهیږم ولی څه مې ونه ویل غلی پاتی شوم تر مازیګره مو کیسی وکړې چې لمر مخ په ډوبیدو شو نو بیرته د خپلو ځالو په لوری راروان شو. کورته په راستنیدو لږ ساعت مې کورنی سره تیره کړه بیا د نورو ورځو په معمول خپلی کوټې ته لاړم ستړی وم ځای ته مې تکیا وکړه د نن ورځې په اړه مي سوچ وکړو خپلی خبرې مې یادی شوی نن مي څه وکړل هغه څه چې په زړه مې نه وی شبیر ته مې لیله یاده کړه منم لیله مې د سختې ورځ ملګری وه خو هغې ته ما تر اوسه زړه کې ځای نه وو ورکړي منم ماسره یې د مخته تګ کې ډیره مرسته کړی وه او کوله یې خو څنګه کولی شم په دومره کم وخت کې هغه هر څه هیر کړم هغه ټولې وعدې هیرې کړم چې ځان سره مې د حسینې په باب کړې وی هغې ډیر بد وکړل اوس څنګه کولی شم د هغې په څیر مغروره شم او ورنه لاس واخلم هغه مغروره بې پروا ښه ده ځکه مینه یې نده کړي خو ما خو مینه کړی څنګه کولی شم هغې سره خیانت وکړم نه پوهیږم نن مې هر څه مخته شو نن مې احساس بدل وو ما غوښتل هیره یې کړم او مخته ژوند په اړه سوچ وکړم خو نه پوهیږم زړه مي دا خبره نه منله هغه اوس هم د هغه چا په تمه وو چې هیڅ یې

ورته پوښتنه نه وه کړی داسی ورنه تلی وه لکه زه او زما د زړه چې هیڅ ارزښت نه وی فکرونه می نور هم راباندې غالبه کوله زړه می حسینه غوښتنه هو برعکس عقل می د لیله یادونه کوله د هغی ښه او د هغی مینه چې په دومره سخت وخت کی یی ماته راکړی وه یاودله د زړه او د عقل په منځ کې بند پاتی وم پریکړه مي نه شوه کولی چی کومه یوه انتخاب کړم هغه چي زه یی قدردان وم یا هغه چی زما قدردانه وه ستونزه می کړی په کړی سختیده شپه هم لکه زما د ستونزې پخیده خو زه په خپل ځای وم هیس تحلیل مي نشو کولی په زړه مي لاس کیخودو سترګی می پټی کړی د هغی مغروری څیره مي بیا پر مخ راغله د هغی سترګی او مسکا زما حال بیا بدل کړو زما کړي توبه یی ماته کړه همداسی ورسره په خبرو شوم نه پوهیږم څه وخت وو چی ناڅاپی د خوبه پورته شوم زړه می بی واره درځیدو په تندی می یخه خوله راغلی وه. فکر می کړ وډ وو سترګی می پټی کړی غوښتل می فکر یو څه ارامه کړم همدا وو چی هغه لیدلی خوب می په یاد شو حسینه می په خوب کی ولیده هغه خفه وه ماته په خپلو حسینو سترګو اوښکې تویوی او وایی ته بی وفا یی زما پوښتنه دی ونه کړه اخوا دیخوا مي وکتل خو پیدا می نکړه په خوب کی لیدلی خلک هماغه خوب کی پاتی کیږی ساعت ته مي وکتل لا شپه پاتي وه پر ځای می بیرته پریوتم زړه می یو څه ښه کړو سترګی می پټولی چي بیا یی مخ زما په وړاندې څرګنده کړو ناارامه شوم ومی ویل ته څه غواړی ښا دا ووایه پریدا می یوازی چی لا ما تیره شوی اوس هم پریدا چی درنه تیر شم ته خوشحاله یی ځکه خو دی داسی په بی ترسی مرګ ته پریخودم اوس څه غواړی دی خبرو سره می د جذباتو حالت هم بدل شو په مخ کې غبرګي اوښکی توی شوی ګیلی خبری او عاجزی هر څه می ویل خو خبر نه وم دا هر څه د ځان سره وایم نور څوک نشته همدی خبرو راباندی سهار کړو سر درد مي نور وژلم ټوله شپه مي په سر شوی وه فکر می کوو لکه یو دروند پیتی چی راته چا په سر ایخی وی. همدی سخت حالت کی وم چی د لیله مسج راغی سلام سهار پخیر موبایل می مسج سره غږ وکړو ښه پوه شوم

مسج می هم ولیدو چې کله می غوښتل ځواب ورکړم هغه می بیا تر سترګو شوه د هغی کړی خبری چې بی وفا یې راته په غوږونو کی په شور شوی. موبایل می همداسی په ځای کیخودو سترګی می پټی کړی او تر ډیره می همداسی پټی کړی وی تر هغی چې خوب د ځان سره وړی وم تر ناوخته ویده پاتی وم کله چې پاڅیدم نو احساس می وکړي وجود مي یو څه ارامه شوې همدی کی می مور کوټی ته رانںوتله د ځای یو څه پاڅیدم هغه می خواته کیناسته زر می سر ورته په غیږ کی کیخودو مور می دا څه موده ډیر ناارامه لیدلی وم زما د اوښکو زیاتی اوښکی د هغی توی شوی وی یو رقم ویره یې موندلې وه بی وخته وخت به هم راغله وبه یې کتم او بیرته به روانه شوه نن چې کله راغله نو د پخوا په څیر می ورته غیږ کی سر کیخودو هغی زما په ښه لیدو شکر وویستو ورته موسکی شوم ومی ویل څنګه شکرونه وباسی؟ هغی وویل نادانه! زوی می ارامه ولیدو دا زما لپاره د شکر ځای دی. زر می وویل ته څه خبره یې زه ارامه یم ؟ ولی نه یې؟ نا موری ارامه نه یم غواړم ارامه شم د تیر وخت په څیر خوښ اوسه خوشحاله اوسه دا می حق هم دی خو نه پوهیږم دا حق نشم اخیستلاي دا هر څه راته ډیر ګران بایه ښکاری سترګی می پټی کړی شاید خپلی ډکی سترګی می د موره پټولی هغی وویل داسی مه وایه هر څه کولی شې بس ته یې د کولو نیت وکړی موری نیت نشم کولی څومره چې سوچ وکړم په هماغه اندازه په دوه کی کیږم مشکل مي زیاتیږی د زړه او د عقل په منځ کي نښتی یم څه وکړم هیڅ نه پوهیږم هغی لاس زما په سترګو کیخودو وی ویل که داسی وی نو د زړه خبره دی ومنه هغه تل د احساساتو ډک وی که ته سل د عقل ومنی خو زړه دی د خپلی خبری نشې اړولی نو دی نه ښه ده د زړه دی ومنه هغه څه وایې هماغسې وکړه د مور خبری نور هم اندیښنه زیاته کړه که د زړه مي ومنم نو بیا هو هغه هماغه مغروره غواړی چې هیڅ د مینی لیاقت نلری د مور خبری می تر ډیره واریدی او په خوښی می ورته غوږ ایښی وو خو هغه د زړه خبره یې لکه ستن په زړه کلکه ولاړه وه. ورځ هم نیمي ته ورسیده یو وخت می موبایل

ته پام شو د لیله ډېر زنګونه راغلي وو ډېرې مسجې یې کړې، خو څه مې کړې وې ماسره ده یوې خبرې ځواب نه وو، که زړه مې حسینه غوښته نو بیا مې دا ظلم لیله سره نه شو کولی هغه مې فقط ددې لپاره چې خپل ساعت پرې تیر کړم دا کار به بیخي بد وي ماته زما پښتو ددې کار اجازه نه راکوله تر ډېره مې سوچ وکړو خو د مور خبره مې ګټونکې شوه ما که هر څه وویلي ډېرې پلمې مې وکړې ډېره مې بده معرفي کړه خو زړه مې د هغې پرته په بل څه قانع نه کړه، همدې کې وم چې د لیلا زنګ بیا راغلی زنګ مې اوکې کړو لا مې غږ کړی نه وو چې وې ویل ته دا زنګ ولې نه ځوابوې همم څه ستونزه لرې، غلې وم چې بیا یې غږ کړو تاته وامې اورې کنه نه؟ ومې ویل اورم وایه هغې وې ویل بس ومې ویل کنه نور به څه ووایم ته وایه څنګه یې ؟ ومې ویل ښه یم خو ډېر نه، ولې ناروغه خو به نه یې نا هغسې کومه خبره نده خو ، خو ! څه وایه چې څه شوي؟ ومې ویل که وې وایم ویریږم داسې نه خفه شې، خا داسې ده نو بیا خو یې ختمې ووایه چې پوه شم چې اخره خبره څه ده ومې ویل لیله ته ډېره ښه یې دومره ښه یې  چې زه یې نه نشم وویلی خو نه پوهیږم، اوفووو ووایه نو اندیښنه دې راته ډېره کړه ومې ویل لیله هیله کوم خفه نه شې ما خپله خفګان لیدلی نه غواړم زما لا وجې بل څوک هم خفګان ووینی، ته خبره خو وکه چې زه پوه خو شم ومې ویل لیله ډېر کوشش مې وکړو هیره یې کړم خو نه مې هیریږې د هغې ځای د هغې دې بل چاته یې نشم ورکولی دې خبرو سره نیولی شوه څوکه خا یې وویل زر مې وویل نه غواړم هغه هیلې درکړم چې بیا یې پوره کولو نه اوسم، غلې وه بیا مې غږ وکړو اورې لیله هیله کوم مه خفه کیږې زما په خپل زړه هیڅ اختیار نشته د هغې مینه ماته اجازه نه راکوي چې د بل شم نه پوهیږم دا څه ډول لیونتوب دی خو زه فکر کوم همدا لیونتوب مې ژوند شو، غږ یې تر ډېره غلې وو بیا مې وویل اورې زما خبرې په نیولی غږ یې وویل هوو اورم بیا هیله کوم یو څه ووایه زه څه وکړم؟ ساه یې بنده شان شوه وې ویل بس چې څه دې زړه وي هماغسې وکړه، دې خبرې یې هیرانه کړم ومې ویل ته

نه خفه کیږې؟ ولې نه خو څه وکړم ته په زوره خپلولې هم نه شم هسې خدای ډېر مهربانه دی شاید زما لپاره په همدې پریکړې کې ښیګڼه وي او خدای دې وکړي چې ته دې هم په خپله پریکړه پښېمانه نه شې، امیین وروسته مې ویلې نه پوهیږم څه ووایم خو دومره به وروستې ځل وایه ته ډیره ښه یې هر څوک چې ستا په څیر همسفره ولري ډېر به خوش نصیبه وي هغې نرې شان خندا وکړه وې ویل څه خبرې نه پوهیږم ومې ویل نا ریښتیا وایم بس خدای دې وکړي چې تاته ستا قدردان پیدا شي امیین یې وویل ورپسې مې خپله خبره داسې اوږده کړه چې تر اوسه چې راسره وې ډېر سخت وخت وو او شاید اوس هم دی لا دې احسان په بدل کې تاته مننه ویل دا به ډېر کوچنې لفظ وي هغې وویل نا کومه خبره نده خو ! خو څه؟ خو دا چې شاید نوره ونه اوسم نا داسې مه کوه کولی شو چې ملګرې پاتې شو هغې وویل هغه انسان چې زمونږ خوښ وي هغه هیڅ کله ملګرې نه پاتې کیږي او زه زړه کې تا لپاره ډېر څه لرم نو هیله کوم اجازه راکړه دا به زما او ستا وروستې خبرې وي نه پوهیدم چې څه ووایم خاموشه شوم وې ویل خا زا نو خدای پامان! غږ به مې کوو چې غږ یې بند شو زما خدای پاماني ته یې صبر ونه کړو زنګ یې قطې کړو، شاید زما په څیر یې خپل مین د لاسه ورکړی وو اخخ مې وکړو ومې ویل هې هې حسینې څه کوې ستا مینه پر ما څه نخرې کوې ته نه یې بیا هم ستا په سر خلک ځوابوم، زما د ژوند به اخرینې انجام څه وي، د لیله داسې په خفګان تلل ریښتیا د زړه خفه کړم خو څه مې کړي وي هغه مې تیاره کې نه شوه ساتلې زما زړه پرته د هغې بل څوک نه قبلوي څه مې کړي وي همدا یې لار وه، همداسې بیا پریوتم ده خفګانه د وتو یوه وسیله وه هغه مې هم ځواب کړه،همدا وو چې راتلونکې ورځې مې د غم په لړلې شوې پرته د دلاسې بیرته د لومړیو ورځو په څیر شوم هره دقیقه ځوریدم هره دقیقه مې زړه درد کوم کله به مې ځان او کله هغه ملامته بلله هغه نه خو همدا زه ملامته وم ولې په داسې چا مینیدم چې د کبر معیار یې ډېر اوچت دی، لا کومه سره چې مې پیل کړې وو هماغلته بیرته راغلم حالت

می ورځ تر بلی خرابیدو هیلی می مړاوی کیدی او ژوند راته ناشونی ښکاریدو د ژوند شته نعمته به راته بی معنا ښکاریدل وخت همداسی تیریدو او هری ورځ په تیریدو می فقط درې ورځې پاتې وې دې خبرې حال بد تریدو په لور روان وو رخصتی هم می بی تابې نوره هم زیات کړه نه می شو کولی هغه چا سره په یو ځای اوسم چی زما د خوبونو مجرمه ده، زړه ته می ډیری پلمی جوړی کړی خو هغه په یوه خبره نه پوهیدو نه پوهیږم څه یی غوښتل همدای خاطره می نن پس د ډیری مودی شبیر ته زنګ ووهو خبری می ورسره وکړی او ومی ویل راشه چی سره ووینو هغه ژمی بهانه کړو ومی ویل خیر دی یار راشه زه ښه نه یم، دی خبری می هیران کړو وی ویل دا څه وایی بیا څه چل شوی ؟ ومی ویل ته راشه بیا درته هر څه وایم هغه هم ومنله نن په ټاکلی وخت پارک ته ورسیدو په لیدو یی د زړه خوشحاله شوم خو نه پوهیږم هغه زما په لیدو هیڅ خوښ نه شو هیران هیران یی راته وکتل وی ویل هدایته دا تا په ځان څه کړی ځان ته می وکتل وم ویل ولی څه شوی؟ وی ویل ته زما هغه پخوانی هدایت نه یی دا په تا څه شوی ؟ هر څه خو سم شوی وو کنه لیلا څه ویلی زر شه حال ووایه زه تا داسی نه شم لیدلی ومی ویل یار ښه سم یم ولی ماکی څه مشکل دی؟ هغه زر وویل ته دی مخ ته وګوره درد په کی د ورایه ښکاری ته پوهیږی کنه زه ستا خفګان نه شم لیدلی څه شوی ووایه کنه دده سترګی نمجنی شوی دی ته په کتو زما هم زړه طاقت ونه شو کړی د سترګو می ورته د اوښکو سیلاب توی کړو ومی ویل شبیره حسینی راته ژوند خراب کړو د خلکو د ناستی یی وویستم، خواته یی نژدی شوم او غاړه می ورته ورکړه ومی ویل شبیره ما د حسینی چیرته لری بوځه زه می د خوبونو او ارمانونو قاتله داسی خپل مخته نه شم لیدلی هیله کوم ما لری بوځه شبیر می زر مخته وکتل نه پوهیږم خو حالت یی ډیر تغیر وکړل وی ویل حسینه؟ ومی ویل هو هو هماغه بدبخته چاسره چی می تر ټولو زیاته مینه کړی خو هغی زما د مینه په بدل کی ماته د یوازیتوب عذاب راکړو شبیره زه می ژوند غواړم ماته زما پخوانی ژوند راکړه

نور لا دی هر څه سترې شوی یم هغه بې وفا می هیڅ ته نه پریدی نه یې خپل کړم او نه می پریدی چې د بل شم چې کله می وغوښتل لیله سره ژوند مخکې یوسم هغې یې هم راباندی پیزو نه شو په پیغور یې راته وویل ته بې وفا یې شبیره ما بې وفایې نده کړې زه تر اخره ورته ولاړم وم هو هغه رانغله نور می د خبرو وس ځان کی نه لیدو نور غلی شوم سترګې می همداسی لمدی وی هغه رپیدلی لاس زما په مخ کیخودو او پر مخ پرتی اوښکی یې پاکی کړی او زړه ته یې نور هم نژدی کړم خو نه پوهیږم د شبیر د خولی غږ نه ښتو خاموشه ولاړ وو بس په لرزیدلی غږ یې وویلی هدایته کولی شی ماته د سره خبره وکړم غواړم سم پوه شم اوس نه چې کله د خبرو توان دی ځان کی لیدو د شبیر دلاسی لږ څه ښه کړی وم سر می وخوروو ومی ویل سمده ده کله چې لږ شان ښه شوم نو د سره می ورته کیسه پیل کړه د هر څه ویلو ورسته می وویل خپله مینه می لا تا هم پټه کړی وه بس همدی لپاره چې چاته رسوا نه شو خو ګوره چې رسوایی راکوله څنګه یې غمونو ته رسوا پریخودم، بیا می حالت خراب شو شبیر وویل بس نور څه مه وایه همدمره بس وو، د ځای یې پورته کړم او وی ویل راځه چې تر کوره دی ورسوم ومی ویل نا تلی شم خو هغه ټنګار ډیر وو همداسی یې وکړل تر کوره یې وسپارلم کله چې بیرته روانیدو نو د شا می ورپسی غږ وکړو شبیره څنګه بې مخه ښې روان یې هغه می مخ ته ونه کتل بس وی ویل ته ځه زما لږ کار دی نور روان شو، په مات زړه بیرته تر خپلی کوټې راغلم د نورو ورځو په څیر می ځان تیاری ته وسپارو درد په تیارو کی خپل خوند لری، ځان می بیا په تیارو کی پټ کړو زما او د هغه لیدو کې یوه ورځ تیره شوې وه چې پیغام یې راته واستوو مسج راغلی هغه لیکلی وو هدایته کولی شی چې نن تر پارکه راشی ؟ زما ډیر اړین کار درسره دی په تمه به یم دا مسج یې ډیر په بله طریقه لیکلی وو  هغه تل د خندا ډکې خبری کوی نن یې مسج وکړو او هغه هم داسی جدی خدای شته اندیښنه می ډیره شوه که څه د تګ نه وم خو بیا می هم نا ونه شوه ویلی خا می ورته ولیکله نه پوهېږم شبیر ولی د لیدو ټینګار کوو پوهیدو چې

زما پخواني وس نشته نشم کولي د ځای وخوځیږم خو بیا هم ما غواړی د درد وجود هم لکه بار وی همدی بار سره ډیر په زحمت پورته شوم او د پارک په طرف وغځیدم زما د پارک ته د رسیدو د مخی هغه زما په انتظار ولاړ وو په لیدو یې غاړه راکړه او خواته یی کینولم زر می وویل هلکه څه خبره ده داسی تینګار دی کوو پوهیږي کنه د خوځیدو نه یم بیا ولی ضد کوي هغه غلی وو مخ ته می ورته وکتل څیره یی یو ډول خفګان نیولی وه سترګی یی د نورو ورځو په څیر د خندا ډکی نه وي رنګ یی هم د عادی حالته وتلی وو خپله خبره می نیولی کړه ومی ویل څه شوی ولی داسی بل ډول ښکاری؟

هغه مخ راوړوو وی وی هدایته ! په ما باور لری که نه ؟ ومی ویل ولی نه د ځانه زیات باور درباندی لرم هو دا خبره داسی وخت نه پوهیږم څه شوی. بیا یې وویل هدایته ما دی تل خوښی غوښتی ستا خوشحالی می د ځان خوشحالی ګڼلی خو نه پوهیږم ولی خطا شوم پر ځای ددی چې تاته خوښی درکړم تاته می خفګان درکړو ستا خوښې می واخیسته دی خبرو یې اړ کړم چی ښه ورته نژدی شم ومی ویل شبیره د سختی وس نه لرم پوهیږی کنه هغی بی وفا می وجود د کاروه ویستی ته نوری خبری ولی کوی د هغه غږ نور هم پورته شو په لوړ غږ یې وویل هغه بی وفا نده دی خبری یی راته فکر ګډ وډ کړو ومی ویل بی وفا نوره څنګه وی په دار د انتظار یې ځړیدلې پریخودم او لاړه شبیر راته وکتل وی ویل ګناه زما ده هغه ګناه نه لري هر څه ما کړی او هغه هم په تیروتنه کي ما فکر کوو ته لا لیلا سره مینه لري ځکه خو دی هغه ورځ چی کله لیلا ستا لیدو ته درغلی وه ستا احساس بدل وو تاته ما مخکی هم ویلی وو زه د چا اوښکی نشم لیدلی لیلا ستا ده مینی اوښکی زما مخکي توی کړی وی زما نمبر یی لا چا اخیستی وو تاسره یی لیدل غوښتل ما فکر وکړو د هغی سره په لیدو به هر څه سم شی خو ته بیا هم ښه نه شوی ورځ تر بلی بدتریدی ستا په داسی حالت زه لا زړه ځوریدم که تا څه نه ویل زه درباندې پوهیدم همدا وو چی د وروستي ازموینې په ورځ لیلا ته ستا ځای چی شاید په انتظار وی وښودو هو نه پوهیږم په هغه وخت کی

حسینه هم ستا په طرف روانه شوه په بیړه وه ځکه څوک ورپسې د کوره راغلی وو ما ودروله نه می غوښتل ستا او د لیلا په منځ کی لکه د تیر ځل خنډ شی ودروله او پلمه می ورته وکړه چي ته تلی یي دی خبرو يي زړه د سینې راویستو ومی ویل ته دا څه وایی ؟شبیره د هیله کوم د هغی طرفی مه کوه زما مشکلات نور مه زیاتوه ما منلی هغه بی وفا ده زه یي په انتظار هلته ولاړ وم هو هغه هیڅ رانغله ورته ویلی می وو چی نه راتک به می مړ کړي خو هغی زما د ژوند پروا هم ونه کړه او ته لګیا یي پلمې جوړوي مه وایه چی هغه ملامته نده هغه ملامته ده ما خبری کولی چی د حسینی ډایری چی تل به ورسره وه راته مخته ونیوله په ځای ساکته پاتی شوم یو ځل می شبیر ته وکتل او بیا می ډایری ته چی ښه زیر شوم ریښتیا دا هماغه ډایری وه چی هغی به تل په لاس کی نیولی وه ما له تل ددی لوستو ارمان کوو زر می هغه د شبیر د لاسه واخیسته ومي ویل دا تاسره څه کوی؟ دا خو د حسینی ده هغه وویل دا یي ماته راکړی وه چی تاته یی درکړم هغه ورځ ډیره ورخطا وه غوښتل یي تاسره وګوري خو زه دومره بی عقله شوی وم چی ګمان می وکړو دا ستا او لیلا په منځ کي راځی او لا تا او د لیلا ستاسو خوښی اخلی ځکه می تاته څه ونه ویل خو زه څه وکړم ماته هیڅ پته نه وه چي ته دی د لیلا پر ځای حسیني سره مینه لری تا هم کله څه نه وو ویلی د غم څپې می لکه د ژور سیند په خوریدو شوی د شبیر خبرو می په زړه د غم زلزله راوسته ومی ویل یو ځل خو به دی ویلی وی کنه ولی دی ونه ویل؟ وی ویل غوښتل می چی هر څه درته ووایم خو ته خوښ وی تا د لیلا سره د مخکي تک وویلی څه می کړی وی احساسات می اوج ته ورسیدل نه پوهیږم څه څه می وکړل خو دومره می په یاد دی چی شبیر ته می ډیر په بد انداز وویل زما ژوند دی تباه کړ ولی دی ماسره داسی وکړل یو ځل خو به دی ویلی وی خو اوس که می ډیر څه ویلی وی فایده یي نه کوله د حسینی ډایری می ورنه واخیسته او د کور په طرف روان شوم هغه لا شا ډیر غږونه وکړل خو مخ ته مې ونه کتل زړه مي بی واره دربار کوله د ملامتیا احساس زړه پوری

نیولی وم په ډیره سختی می ځان کورته ورسوو د هغی لیکلی ډایری می زړه ته کلکه نیولی وه کله چی اتاق ته ورسیدم خپل بیرونی احساس مي بدل شو ژړا می په سلګو بدله شوه هغه جلی ما ملامتوله د چا چی هیڅ ګناه نه وه ډایری می زړه پوری نوره هم کلکه کړه همدا او همدا یوه خبره می کوله حسینی ته بی وفا نه یی ته راغلی وی خو دا زما نصیب وو چی زه یی له تا لری وساتلم ډیر ساعت می خپل نصیب ته وژړل خو که ډیر می ژړلی وی بیا هم زما د وجود احساس خپل عادي حالت ته نه راتلو ما خبری غوښتی داسی کس خبری چی زه پری بیرته رغیدم ارامیدم هغه نه وه خو لیکلی ډایری یی زما په لاس کی وه د زړه مي ډایری لري کړه او سترګو ته می مخامخ کړه خو د ډایری خلاصول راته د درون بار په څیر ښکاریدو نه پوهیږم ولی خو ډیر په سخته مي ډایری خلاصه کړه د الله په نوم پیل شوی ډایری په لیدو ډیره ښکلی ښکاریده نه شم ویلي چی په لیکلو یی ورته څومره زحمت ویستی و خو زړه کي می همدا ویل کاش ددی ډایری په څیر ماته لیکلی پیغام هم خوږ وی ښکلی وی زما ژوند کول اسانه کړي د پیل نه می شروع وکړه خو اخر ځای ته می سودا وه خو نه پوهیدم څه وکړم هغی ډیر څه لیکلی و د سره می یوه یوه کلیمه ډیره په غور ولوسته په لوستو یی حیرانیدم داسی خبری چي زما د اعتقاده وتلی وم د حسینی لیکلی هری خبری لیونی کوله هغی د زړه هر درد راز د بی کسی له امله په دي ډایری کي لیکلی وو هری خبری او هری ورځی لیکل یی د سترګو اوښکی په ګریوان غورځولی ناڅاپی مي د سترګو په وړاندي تیاره شوم سر می پورته کړو ګروپ خپله رڼا د لاسه ورکړي وه بریښنا تګ برق زما د وجود په څیر بی ساه کړو زما زړه طاقت نه کوو زر زر می جیب ته لاس کړي تلیفون می پیدا کړو د هغی رڼا می روښانه کړه او ډایری پاتی برخی ته می ونیوله لیکلی توری یی په سختی لوستل کیدل خو زما زړه پرته د لوستلو نه قانی کیدو په سترګو مي فشار راوستي او په لوستلو می پیل وکړو د ډایری پاتی برخی می یو څه ولوستې خو نه پوهیږم د لوستلو می احساسات زیات وو زه هیڅ نه پوهیدم چی زه یوازې دا

ډایرۍ لولم که له خپلو احساساتو سره لوبې کوم ښه پوه شوم ددې خبرې زما زړه کې بیلا بیل غبرګونونه راوپاروې بیا هم لګیا وم کله چې مې ډایرۍ نیمه ولوسته نور موبایل هم ځواب راکړه هغه د بې چارجي لا امله بند شو د حسینې خبرو نور هم اغیزه کړې وه سر مې پورته کړو خو برق لا تر اوسه نه وو راغلي هر ځای لکه زما د ژوند په څیر له تیارو ډک وو ډایرۍ مې بنده کړه او د هغې کړې خبرې مې یادې کړې د هغې د لومړۍ ورځې خبرې ما فکر کوو زما لپاره یادګاره وو خو نا د هغې په وینا هغه ورځ هغې لپاره هم د خاطرو ډکه وه دا چې مخکې هم خبر وم چې مور نه لري خو له دې خبرې اوس خبر شوم چې پوهنتون پوره کول دا یې د مور هیله په چې حسینې اوس پوره کوله لومړۍ ورځې د مور سره د خبرو کولو په څیر لیکلې وه د هغې الفاظ چې ویلې یې وو مورې تاسره کړې وعده ستا هیله زه پوره کوم نو دا خبره مې ډیره دردوې چې ته نه یې پرته له تا نیمګړې یم هر ځای ستا کمې احساسوم خو په خولې هیڅ نه وایم که لږ څه ووایم تندره غوسه کیږې هغه وایې داسې ژړا او غم کور نیستمنوی زه خفګان هم نشم کولی ځکه غواړم خپل فریاد د لیکلو له لارې کم کړم بیا هغه چې زما ذکر یې کړی چې راسره یې ولیدل یو ځای کې یې خندلی وو مورې هغه هلک ماته لیونی ښکاره خو نا کله چې ټولګې ته لاړم نو پوه شوم هغه زموږ د ټولګې اول نمره دی وخوځیدم بیا مې تیارۍ کوټه کې ګروپ ته وکتل نا اوس هم تیاره وه برقونه لا تر اوسه نه وو راغلی تخت غاړې ته مې تکیه وکړه ډایرۍ مې زړه ته نژدې کړه او سترګې مې پټې کړې هغې لیکلی خبرې چې کړې یې وې مورې نن د کوره هم غوسه وم دا چې تنداره نه خوشحالیږی پرته د کار خلاصیدو د کوره ووځم دا راباندې ناوخته کیږی خو دا خبره استاد ته څنګه ووایم ځکه خو راته نن د ټولو مخکې غوسه شو څه یې ونه ویل خو ما لپاره ډیره سخته وه او ما یې قصور د هغې وویستو نه پوهیږم ولې داسې کوم هغه بد ندی خو زه خپله له ستونزو ډکه یم او پر ځای ددې چې خپلې ستونزې حل کړم په هغه غوسه شوم خو هغه هیڅ ونه ویل ارامه کیناستو هو زه یې خفه کړه په کتو مې

ورته ښښنه وغوښته خو شاید دا بسنه نه کوي باید خپله ورنه ښښنه وغواړم چې د زړه بار مي کم شي د هغی هغه ورځ ښښنه مي سترګو ته ودرېده چې وی ویل ښښنه غواړم شاید ما تیري وکړل

هغه هیرانیدل می اوس هم په یاد دی چې څنګه حیران حیران می ورته کتل زړه می همدی شیبه کی بند پاتی شي سترګی مي خوب وړی وی یو وخت پورته شوم شپه ډیره تیره شوی وه خو په لاس کی نیولی ډایری می همداسی په لاس کی پاتی وه د خوبه ډکی سترګی می رڼا ته ونیولی اوس رڼا راغلی وه خو اوس شاید زه د لوستو نه وم هڅه مي وکړه خو ومی نه شو ویلی چې نور يې څه لیکلی ډایری می بیا زړه ته نژدی کړه او ځان می ارامه کړو د هغی فکر بیا غلبه وکړه نه پوهېږم هم حیرانه وم او هم می زړه کی خوښی وه دا خوښی شاید ځکه وه چې ګمان می غلط شوې وو د هغی بی وفايي چې زما زړه نه منله هماغسې شوی وو خو حیران په دی وم چې هغه څه چې هغی زړه کی د لومړی ورځ وو هغی ولی ماته نه ویل د راتګ سره يې سم زما ذکر کړي پاتی ورځی يې هم زما د کړنو یادونه کړې. سترګې می ومړلې او پاتې برخه مې پیل کړه زما یې اخر ځای ته سودا وه خو دا برخه مې هم نشوه پرېښودې هر ځای کې يې د زړه خبرې کړې وې هره خبره یې داسې وو چې باید زه پری مخکی پوه شوې وی خو زه تل بد ګمانه وم زما د تصوره هره څه بدل وو زما ګمان غلط وو خو زه هم ملامته نه وم زړه یې يې پټ او خوله یې تل چوپه وه زه به څنګه پوه شوی وی د سهار کیدو نه مخکې می ډایرې پای ته برخې ته رسوله زړه مې بی واره درزیدو ماته يې د زړه هره خبره د ډایرې لا لارې راکړې وو، هغې هر درد ماته په ډاګه کړې و، هغه به ماته پتمه وه خو هغه شاید نه پوهیده چې زه هم بی خبره یم دا هر څه زما د علمه لری وو ډایرې وروستې برخه وه لاسونه مې لرزیدل ځکه نن به يې د زړه وروستې خبره کوله هغې زما د پوښتنو ځواب لیکې و هغې لا زړه خبریدم زړه مې بی واره وو، تر اوسه زما په خیر په دوو کې وه کله به یې زما مینه منله کله به یې خپلې ستونزې

زما د مينې زياتې ګنلې او زړه خبره به يې بيرته په زړه کې پټه کړه خو دا چې ما ورته هر څه په ډاګه کړې وو اوس يې حالت بدل وو د ډايرۍ ورستې پاڼه مې واړوله هغې لوستل ستونزمن وو يو لاس مې په زړه کېخودو او لوستل مې پيل کړل کله چې د د ډايرۍ وروستې برخې ته ورسيدم د لاسه مې ډايرۍ ولويده د حيرانۍ احساس دومره وو چې د اوښکو پر ځای ساکته شوم د سهار اذانونه مې تر غوږو شو د ځای نه وخوځيدم د هغې ډايرۍ مې په لاس کې ونيوله او د ځای نه پورته شوم،يخ وو خو پرته د ګرم څه اغوستوو د کوره ووتم دوازه مې خلاصه پرېخوده او روان شوم، نه پوهيدم چيرته ځم او ولې ځم هر څه نامعلومه و، خو زما پښې روانې وې تر لږه مزله وروسته مې موټر ته ونيوو، او د پوهنتون مې ورته وويلې، موټر هم مزل پيل کړو زړه مې هيڅ ارامه نه وو د هغې وروستې تصميم او زما نه ورتګ هر څه يو نامعلومه حالت او پريکړې ته وررې وو، زه نه پوهيدم چې څه به شوې وی هغې پريکړه ماپورې معتله وه او زما نه ورتګ به هغې د کومې پريکړې ته اړ کړې وه سوچونو ليونې کولم نه يم پوه شوی چې څنګه ځای ته ورسيدم يو وخت غږ شو پوهنتون سترګې می واړولې د پوهنتون دروازه مې تر سترګو شوه د موټره ښکته شوم خوا و شا مې وکتل ارامه رامې وه هر ځای کې خاموشي وه نه پوهيدم چې لاړ شم که نه بې واره وم که ننه تلې وې نو امکان چې هغې سره مې ليدل هم په ځنډ شوې وی ګامونه مې شاته کړل او د دروازې شا لورې ته روان شوم، ځان مې لږ لرې کړو خو داسې ځای کې ودريدم چې دوازه راته ډيره واضع ښکاريده په انتظار شوم سترګې مې لارې ته ګنډلې د هغې راکړل شوې ډايرۍ مې زړه پورې نښلولې وه، د هغې ويلې خبرې مې فکر ته تلې راتلې او د هرې خبرې ياد سره به مې يوه خبره کوله نا بس چې هغه کار يې نه وې کړي چې د کومې ويريږم که هغسې يې کړې وې نو بيا مې ټول ژوند بې معنا کيږې بيا يې ليکې هغه خبره چې وايې: هدايته ستا مينې ددې جرت راکړې دا د ستونزو ته د پای ټکي کيږدم زه داسې ګمان کوم خدای

ماته زما د خلاصون لار راکړې سترګې مې ډکې وشوې بیا مې لارې ته وکتل رڼا یو څه خوره شوې وه رنګې رنګې محصلین هم په نظر راتلل سترګې مې بیا د پوهنتون دروازې ته کړې هغه نه وه د راتګ هره لار مې ورته وڅارله ټولې موټرې چې د پوهنتون انجونې به یې تر پوهنتونه راوستې دنظره تیرې کړې خو هغه مې بیا هم ونه لیده که رښتیا ووایم سترې شوې وم ددې ژونده ددې کړاونو نور د طاقته ویستې وم په ځای کیناستم د هغې خبره مې بیا د نظره تیره شوه هدایته شاید مینه شاید زما د ژوند هره کمې پوره کړې په مخ مې غبرګ لاسونه کیښودل ومې ویل لیونې ستا ژوند به څنګه کمې لرې ماته وګوره زه یوازې زه ستا په نشتون څومره نیمګړې یم که یوازې ستا شتون زما ژوند کامله کولې شې نو ته ستا شتون ستا د ژوند کمې څنګه نه شې پوره کولې خو که ته بیا هم وایې زما شتون به ستا کمې پوره کړې زه تیار یم ستا هرې کمې ته ولاړ یم ژوند مې درته په نوم کوم بس ته راشه هغه یوه تیروتنه وه هیله کوم چې تا به دومره زر پریکړه نه وې کړې هیله کوم زما د لیدو مخکې داسې نه شې کولې چې دومره غټ پریکړه وکړې دا قضاوت دې د قبولو وړ ندې د ځان سره لګیا وم نه پوهیدم دا خبرې ولې کوم ولې داسې کوم هغه خو نشته په اوږو مې لاس کیخودل شو سر مې زر پورته کړو سترګې مې په شبیر ولګیدې د ځای پورته شوم هغه وویل هدایته خو پام مې ونه کړو شاته مې ونه کتل د پوهنتون په طرف روان شوم هغه د شا همدا زما د نوم اخیستو غږونه کول خو هغې طرفته مې هیڅ ونه کتل پوهنتون په دروازه ننواتم هغه بې واره غږونه کول خو د هغه غږ مې هیڅ نه غوښتل چې واوروم یې، ما مې ګامونه نور هم ګړندې کړل خو هغه هم ضدې و په منډه مې خواته راغلې او د لاسه یې ونیولم هدایته هیله کوم ماته ودریږه هیله کوم زما غږ واوره ، نه غواړم نور ستا غږ واورم ما یوازې پریدا غواړم خپل ژوند بیرته سم کړم هر څه خراب شوې هغه سمول غواړې هر څه به سم شې ته صبر وکه هدایته، شبیر مخ ته مې په ډکو سترګو وکتل ومې ویل شبیر هر څه به سم شې خو ګمان نه کوم سم به

شې زما د ژوند پریکړه وه چې هغه ورځ کیده خو زما بدبختې ګوره زه د خپله ځانه ناخبره وم شبیر خواته نژدی کړم وی ویل خا ته صبر وکه د تن کرتې یې ویسته وی ویل لومړې دا په تن که ساړه ډیر دې د مخې یې راروان شوم هغه بیا غږ وکړو هدایته مه کوه داسې ګوره ماته زما د تیروتنې دومره لوی سزا مه راکوه هیله کوم داسې مه کوه، په ځای ودریدم او مخ مې واړوو ومې ویل دا زه چې سزا ګورم دا د چا ګناه ده چې زه یې تیروم ماته ولې خدای داسې سزا راکوې چې مخکې ددې چې منزل ته ورسیږم خپل هدف نه بې لارې شم هر ځل زه پاتې راشم هغه مې خواته نژدی شو دا ځل به داسې نه کیږې ته به بې منزله نه پاتې کیږې یو ځل مې هغه سړک چې ماته یې لار وه وکتل ومې ویل شبیره که هغه رانغله نو پوه شه زما ژوند هم خپله وروستې پریکړه کوې هغه وویل راځې رابه شې سترګې مې پټې کړې ومی ویل شبیره زه ولې ګمان کوم زما د ژوند بدبخته پریکړه شوی زه بدبخته شوی یم خو بیا هم زه دلته د دروغو په امید ولاړ یم هر څه مې د لاسه وتلې خو بیا هم زما زړه د دروغو امید لرولې چې هر څه به سم وې هغه وویل نا خدای دې نه کړې هر څه به سم وې ساه مې بنده شاه شوه یو غږ ومې وکړو هر څه خلاص شوی زه بیا هم ولاړ یم د حسینې د لاس لیکلې هغه وروستې خبرې می شبیر ته مخامخ کړې ومی ویل ته وګوره څه یې لیکلې ددې لوستو وروسته بیا هم ددې امید لرم چې هر څه به سم شې شبیر مې د لاسه ډایری واخسیته په بند بند غږ مې دومره ورته وویلې ولوله خو په دومره غږ چې زما دا د دورغو امید هم ورسره پای ته ورسیږې هغه لوستل پیل کړل

هدایته ستا اقرار بیرته زړه کې مړې هیلې را ژوندې کړې نه پوهیږم ولې خو ډیره زیاته ناهیلې شوم کله چې مې هغې انجلې سره ولیدې زما زړه کې ډیر څه وو د ډیره وخته وو ستا کتل مې هره ګړې ځارلې لومړې مې باور نه راتلو خو نه پوهیږم د څه وخت نه ستا ځارل ستا مینه ستا پام هر څه سره دې عادت شوې یم ما دلته

د راتلو نه مخکې هیڅ ګمان نه وو کړې چې زما ژوند ته به ته راځې هدایته ستا راتلو نه مخکې زما نړې محدوده وه زما پرته د مړې مور نور هیڅ څوک د زړه درد نه وو د هغې وروسته ما د مینې ته د هیچا نده کړې ژوند هم تر هغې خوږ وو د هغه تګ سره هر څه د منځه تللي که هغه مینه ده خوښې ده که د زړه خبره ده د هر څه لاس په سر شوې وم خو ته راغلې دومره ناز دې راکړو چې ګمان مې وکړو زه د نړې تر ټولو اړینه کس یم خو زه ویریږم خدای لا ما هر هغه انسان اخلې چې شاید زه مې ورپسې زړه تړم کله چې مې ته له هغې انجلې سره ولیدې نو هغه ویره مې په زړه کې ربښتنې شوه خو نا شاید زه غلطه وم زما خدای تر اوسه پر ما مهربانه دې ته یې او غواړې مې خو هدایته کورنې مې زما لپاره داسې کس ټاکلې چې شاید زما مناسب ندې او نه مې په زړه دې خو دا هر څه مې تاته نه شو ویلې ځکه فکر مې کوو زه بر تا هیڅ حق نه لرم، خو ستا اقرار پوهیږی زما د زړه لوی بار سپک کړو زما مړی هیلې یې راژوندې کړې اوس ربښتیا ګمان کوم ژوندې یم او ددې دلیل یوازې ته یې موده پس مې زړه ارامه شو موده پس احساس کوم زما وجود شته یو څوک شته چې لا زړه پر ما مین دې او پوهیږې هدایته ستا مینې ددې خبرې جرعت راکړې چې ټولو ستونزو ته د پای ټکې کیږدم هر هغه چا ته وویلې شم چې زه هم د انتخاب حق لرم هدایته په خپله کړې خبره دې همداسې قایمه اوسه همداسې مې سر ودریږم غواړم ددې بنده ازاده شم که ته په خپله کړې وعده پوره کړې نو زه به هم وکولې شم ټولو ته ووایم چې زه هم غواړم داسې کس سره ووسم چې په ربښتیا یې زما زړه غواړې ستا شتون به زما هره کمې پوره کړې زه مې خپله شماره لیکم ستا اړیکه ته به ډیر په انتظار یم ستا پیغام به زما د هر غم کیلې وی

حسینه

د حسینې نوم سره یې غږ په بندیدو شو ومې ویل ودې لوستو زما د دورغو امید زما عبث هیله هغه مې خواته نیژدی شو وی ویل نو دمره زر پریکړه نه شې کولې امکان

لرې چې ستا لیدو ته یې انتظار ویستې وی ومې ویل مه راګوه دا بې ځایه تمې هغه ولې ماته انتظار وکړې هغه ماته په واضع الفاظو لیکې ته راشه ستا په شتون به وګولې شم د هرې پریکړې بغاوت وکړم خو ما څه وکړل پر ځای ددې چې د هغې تر شا ودیریدلې وی هغه مې د بې وفا په نوم یادوله د هغې حق کې ظلم کړې هغه به ماته انتظار وه خو ما یې هیڅ پوښتنه ونه کړه هغې رښتیا ویل زه بې وفا یم یمه زه بې وفا نور مې وسه نه وه شبیر د غیږ تیکه راکړه غاړه مې وکړه او په خپله بدبختې مې د زړه نه وژړل هغه دلاسه راکوله خو شاید زه د هغې دلاسه نه وم ما نه شو کولې په خپل حالت شم زما د داسې په بد حال شبیر ماته مخ مخامخ کړو زما لاس یې پورته کړو او خپل مخ ته یې نژدی کړو وی ویل هدایته دا هر څه ما کړې ما ووهه ماته جزا راکه زه ستا ګنهګار یم هیله کوم ما د وجدان ملامتیا نه لرې یوسه هیله کوم بس یو خبره مې وکړه شبیره ستا ګناه هم نده ګناه زما د نصیب ده که نصیب مې وای نو دا هر څه چې زه یې ګورم دا به نه وې نور ورنه روان شوم د صنف لاره مې ونیوله صنف ته په ننواتو مې د هغې ناستې ځای ته وکتل خواته یې نژدې شوم هغې یو ځای کې لیکلې و هدایته دا نوم او زما د نوم حرفونه په انګلیسې کې یو شان دې زه پلمې کوم دا نوم زما دې خو نا دا مې د هغه نوم لیکلې چې هر وخت ماته ګورې چوکې ته یې نژدی شوم رښتیا د میز په سر یې د انګلیسې اېچ تورې لیکې وو چې د هغې په وینا زما نوم وو ګردونو وهلې نوم مې په لاسونو پاک کړو د خولې می یوه خبره وویسته ومی ویل حیسنی ګوره دا پروت ګرد مې پاک کړو خو زمونږ په منځ پروت د بې باورې ګرد به څنګه پاک کړم ته راشه زه به هر څه درته ووایم لکه څنګه چې ته بې ګناه وې زه هم بې ګناه یم خو بس چې دومره زر زما په مینه بې باوره شوی نه اوسې هیله کوم، لا هغې د لاس جوړه شوې چوکې مې خپل ځای ته راوړه او پرې کیناستم سر مې په میز کیښنودو او ورته سترګې په لار شوم یوه ځان مې خبرې پیل کړې پوهیږم حیسنې تیروتنې شوی خو ستا لیدل به هره تیروتنه ختمه کړې بس ته راشه زه درته په تمه یم یو ځل راشه خو دا شاید زما انتظار وو چې هغې ته مې کوو، نن مې ټوله ورځ انتظار وکړو خو د هغې درک ونه لریدو هغه رانغله د رخصت په وخت کې په خاموشې

د ځای پورته شوم او د کور په طرف روان شوم په دی پوهیدم چې شاید رانشي خو بیا هم زړه کې هیله وه خو هیله د تل په څیر زړه کې هیله پاتې شوه پاتې څو ورځې هم  هغې د راتلو په انتظار کې تیرې شوې خو هغه رانغله د هغې غوسه او قهر په حقه وو خو د هغې قضاوت غلط وو یو ځل یې کولې شو ماسره یې لا نژدی لیدلې وی بیا یې چې هر څه زړه وو کولې یې شو د هغې پریکړه به هغې لپاره ښه وه خو ماته د هغې انتظار کول ډیر سخت وو نه مې شو کولې هغې ته نور انتظار وکړم غوښتل مې دهر څه ځان خبر کړم غوښتل مې لا هغه څه خبر شم چې زما په نشتون کې ترسره شوی و،خو هر څه حسینې ته معلوم وو او هغه نه پوهیږم څه شوی وه زړه به مې ډیری خبرې کولې خو حقیقت یوازې خدای ته معلوم و، خپله هڅه مې وکړه،هغه نمبر چې هغه ماته لیکلې وو بند وو، هغه عمله چې دا به پکې راتله د هغه کس مې هم پوښتنه وکړه نرګس هم ورنه احوال نه درلودو، د هرې خوا بې ځوابه کیدم، او دا بې ځوابه کیدل زما زړه خوړو شبیر به هر څه کې راسره وو خو زما نه د هغې حالت بدتریدو هغه به تل یوه خبره کوله زه ګنهګار یم خو زما په اند هیڅ څوک هم ملامته نه وو قسمت او حدیثه ددې لامل شوې وو چې د دواړو ژوند د نامعلومه برښلیک سره ملګرې کړې، د هرې خوا نا هیلې شوم د هغې هیڅ درک ونه لریدو، او دې ناهیلې زما د وجودو ختمول پیل کړل د هر څه لاس په سر شوم یوه ورځ دی ته اړ شوم چې صنف مې پریښودو او د کور په طرف راروان شوم ماته هلته پاتې کیدل هغه هر څه لیدل ناشونې ښکاریدو دا چې حالت مې عادې نه وو نو پلار مې هم اړ شو د پوهنتون نه تعجیل واخلې او د څه مودې لپاره په کور پاتې شم زما په اند هر څه پای ته رسیدلې وو زه ختم وم تیاره مې ملګرې شوی وه تیاره د هغې خبرې زما یوازیتوب وو چې تل به یې زما ملتیا کوله، تر ټولو یوې خبرې ډیر ځورولم چې هغه امید می مات کړې وو د هغې هیلې چې ما پورې یې تړلې وې زما مینه هر څه ته می د پای ټکې ایښې و، همدا ځوریدنه مې نصیب وه خو بیا هم امید وو چې یو ځای به وې چې ما لا هغې سره لیدنه وشې هغه به په هر څه پوه شې خو نه پوهیدم چې هغه وخت به څه وخت وې هره ورځ به مې همدا دعا کوله چې یو ځل

يې وګورم يو ځل ورته هر څه ووايم پوهيږم د هغې لياقت نه لرم خو بيا هم د زړه نه ورنه بښنه وغواړم،يوه ورځ مې د زړه دا دعا هم قبوله شوه د شبير زنګ راغلې او خبر يې کړم چې حسينه راغلې پوهنتون ته هغه لحظه بيا نه يم پوه شوې چې ځان مې څنګه تر پوهنتونه ورسوو کله چې پوهنتون ته ورسيدم نو پوه شوم ساه مې لنډه لنډه کيږې نور دومره ستړې شوې وم چې ځای ته د رسيدو مخکې په ځمکه ولويدم شبير مې د لرې د راتلو په انتظار وو کله چې يې ولويدو وليدم نو زما خواته يې رامنډه کړه ساه مې لنډه لنډه شو يوه خبره مې کوله حسينه هغه د لاسه ونيولم او ځای يې پوره کړم يو خواته يې کينولم او همدا خبره يې کوله ته ساه راجوړه کړه همدلته ده ته ارامه اوسه د چوکې پورته شوم او بيا مې وويلې چيرته ده؟ هغه وويل ته صبر خو وکړه درته وايم يې بيا مې وويلې چيرته ده په صنف کې ده که بل ځای کې ده؟ وی ويل نا صنف ته نده راغلې خو نرګس ليدلې وه د هغه د خولې خبر شوم اوس تللې اداري ته نه پوهيږم چې څه کار يې دې شبير مې شاته پريخودو او د اداري په لورې روان شوم،شبير بيا هم زما شاته راروان وو کله چې اداري ته نژدې شوم، نرګس مې وليده هغه بيرون ولاړه وه پوه شوم تر اوسه له نده راوتلې ورته تم پاتې شوم شبير هم په دومره وخت کې زما خواته را نژدی شو هغه بيا خبرې پيل کړې هدايته ته صبر وکړه اوس به بهر راشي خو دا ځل ورته هر څه ربنتيا ووايې اجازه مه ورکوه چې بيا درنه لرې لاره شي زه هم خپله ګناه قبلوم هر څه به سم شي د هغه خبرې مې واوريدې خو زړه مې ډير ورخطا وو غوښتل مې وی ګورم خپل درد ورسره بيان کړم د خپل انتظار نه يې خبره کړم خپلې هغه سختې چې ددې پرته پر ما تيرې شوې ورته ووايم ډير څه مې په زړه و خبرې مې وار په وار ذهن ته راتلې خو نظر دوازه په لورې ګنډلې و زړه مې دربا کوله سترګو مې د ديدن شيبې شمارلې چې هغه د اداري بهر شوه، په ليدو يې د څو شيبو لپاره ساکته شوم نه پوهيدم چې دا خوب ليدل دې که دا هر څه حقيقت لرې خو بيرته ژر بی اختياره د ځای نه روان شوم او خواته يې نژدې کيدم چې هغه مې د خوانه داسې تيره شوه لکه هيڅ چې مې نه پيژني ټکنې شان شوم مخ مې ورپسې واړوو ژر مې وويلې حسينې خو هغه زما د خبرې ځواب

رانکړو، نرګس يې شاته پرېښوده او خپلو ګامونو ته يې نور هم حرکت ورکړو، ما هم ورپسې منډه کړه همدا غږ مې کوو حسينې وا حسينې تاته وايم خو هغه هيڅ غږ نه کوو، خپل ګامونه مې تيز کړل او مخته يې ودريدم ژر مې وويلې حسينې هيله کوم واوره چې څه وايم هيله کوم ته ماته غوږ شه چې څه وايم بې واره ورته لګيا وم خو هغې مې هيڅ سترګو ته ونه کتل بس ډير په سختې يې وويلی لار مې خوشې که ومې ويل حسينې واوره خو څه وايم همدا غږ يې بيا وکړو وايم لار مې خوشې که، چې بيا مې ورته نوم واخيستو خو روانيده چې د لاسه مې وينوله، هغې زما د لاس نيولو سره مخ راوړو زما په لاس يو څه ولږيدل چې لاس ته مې ورته پام شو نو د حرکته ووتم د هغې سترګو ته مې وروستې ځل لپاره وکتل نور هيڅ د ويلو نه وو بې روحه لاس مې د هغې د لاسه خلاص شو هغې بيا شاته ونه کتل روانه شوه زما تر شا شبير هم راورسيدو زه همداسې په هماغه ځاې کې کيناستم، شبير ماته وکتل او بيا يې حيسنې تګ ته وکتل زه يې په خپل ځاى پرېښودم هغې پسې روان شو نه پوهيږم هغې څه وويلې څو شيبې وروسته شبير بيرته زما خواته نژدې شو زه هماغسې په خپل ځاى ناست وم چې خواته مې راغې هدايته څه مو سره وويلې ما خو ورته ټول حقيقت وويلې خو نه پوهيږم په هغې څه شوې يوې خبرې ته يې هم غوږ ونه نيوو او نه يې څه وويلې راشه ته يې هم ورته ووايه هغه به پوه شې هغه لا خبرې کولې چې ورته ومې ويل شبير تا هغه څه وليدل کوم څه چې زما سترګو ماته ښکاره کړل؟ مطلب څه؟ شبير تا به هم ليدلې وي کنه ؟ هغه د لاسه ونيولم او خپله خبره يې پيل کړه هدايته هغه به لاړه شې زر کوه پورته شه هيله کوم بيا به درنه لاړه شې ومې ويل هر څه پاى ته رسيدلې مطلب دې له دې خبرې څه دې؟ څه پاى ته رسيدلې؟ په لرزيدلې غږ مې وويلې شبيره هغه نامزاد شوې د هغې لاس کې د بل د نوم ګوتې ده دا خبره نه پوهيږم څومره ستونزمنه وه چې ومې کړه سر مې په زنګون کيښودو او خپل بد نصيب ته مې بې واره چيغې کړې هغه زما دې خبرې سره بې ساه شو باور يې نه کيدو بيا ځلې يې دا پوښتنه وکړه هدايته دا به رښتيا نه وې داسې نشې کيدلې نور مې د خبرو توان نه درلودو خاموشه شوم لکه ژبه او خوله مې د واکه

وتلې وې د ځای پورته شوم او راراوان شوم بیرته مې شاته ونه کتل شبیر ډیر غړونه وکړل خو د هغې یو غږ ته مې هم ځواب ونه ویل زما د هغې کیسې د تیریدو څو میاشتې شوې خو زما درد تر اوسه هم تازه دې یوه شپه هم داسې نده تیره شوې چې ما د خپل نصیب شخه ګیله نه وې کړې زه دومره بد نصیبه وم چې هغه کس چې ماته د هر څا مهمه وو د هغې د لاسته راوړو دعا وکړم هغه دعا هم لا ما خدای اخیستې وه بل ته په حق رسیدلې کس ما ځان لپاره ځنګه غوښتی وې د یوې غلطې سزا ماته د هجران په شکل راکړل شوه هر څه به بدل وې که هغه ورځ زه د صنفه وخته نه وی تللې یا که هغې په تمه پاتې شوې وې یا که د خپل زړه خبره مې شبیر ته وخته کړې وې او یا چې پر ځای ددې چې لیله ته نژدې کیدم د حسینې د زړه خبره اوریدلې وې ملامته څوک وو که هر څه مې کړې وې زما ګنهګار زما ګوتو ته نه راتلو هغه د بل وه دا خبره زما زړه خورې زما لیدلې خوبونه په هر څه خاورې اړول شوې دې خو بیا هم ژوندې یم زه ژوند نه غواړم خو بیا هم خدای ژوندې ساتلې یم نه پوهیږم ژوند چې د زهرو ګوټ دې ورته اړ یم چې وڅکم اخ خدایه دا درد مې ارامه کړې زما سکون نشته زما د دلاسې څوک نشته یوازېتوب او درد دې چې پر ما تیریږې خو د خلاصون لار مې نشته هره ورځ دعا کوم چې هر څه بدل شې خو ورځ تر بلې بدتریږم کله چې درد ډیر شې په غوږونو لاس کیږدم لا شور د زغلمو نه دې دا درد د زغمه وتلې دې خو دا زړه اوس هم درځیږې په دې کې اوس هم ساه شته اوس له مخکې ډیر بدل شوې یم اوس چاسره بحث نه کوم اوس مې غوسه ورکه کړې اوس له مخکې ډیر خاموشه شوی یم اوس مې د درده ډکه شاعرې خوښیږې اوس سندرې اورم خو بس د وخت اړولو لپاره اوس مې ژوند ډیر بدرنګه او خاموشه شوې مور مې هره ورځ مړاوې څیره وینې څه نه وایې خو پوهیږم هغه زما دا حالت نشې لیدلې همدا چې د پخوا په څیر شم خپله هڅه کوې خو کله چې ونه توانیږې خوښ مې کړې په نمجمو سترګو مې د خوا نه پنا شې زما اراده نه وې چې زه دې هغه خفه کړم خو اصلا زه په خپل واک کې نه یم دا ټول کارونه بې اختیاره دې ما مې په ځان باور کول پریخې دې زما زړه خوشحالې کول پریخې دې زما ګناه نده زه د تل په

څیر بی ګناه یم خو نه پوهیږم ولې بیا هم سزا ګورم زما دردونه ورځ تر بلې تازه کیږي خو هیڅ مرهم نشته چې دا درد مې ارامه کړي شبیر تل نصیحت کوي خو پر ما یوه خبره تاثیر نه کوي هغه وایې هر څه به سم شي خو ما داسې ګمانونه د حسینې د تګ سره پریځې دي د سهار اته بجې دي چې د تل په څیر د شبیر زنګ راغې غواړم تلیفون ځواب کړم خو نه غواړم د هغه تکراري خبرې بیا واورم د زنګ پسې یې بیا بل زنګ راغې هغه هم ما پیژنې ځکه خو تر څو چې ځواب ورنکړم همداسې زنګونه وهلې ځواب مې ورکړو شبیر وایې څنګه یې ؟ ښه یم ته خپله ښه یې؟ زما روغتیا تا پورې تړلې ده هیله کوم بیرته راشه ستا پرته هیڅ شې کې خونده نشته ومې ویل زه پخوانې هدایت نه یم اوس زما روح له ماسره تنګیږي ته خو لا بیل انسان یې په دې خبرو سره دې ماته زما نه جبرانوکې تیروتنه یادوې چې هیڅ ښښنه نه لرې شبیره هیله کوم هغه خبرې مه یادوه هیله کوم توان نه لرم هغه خبرې زما وجود د کاره نور هم وباسې او زما دا حالت مور نشې لیدلې زه هم دا وایم کنه ستا په داسی لیدو ستا مور خفه کیږي زه خفه کیږم که نور څه نه وې مونږ لپاره خو هڅه وکړه تا دې مینه بیللې پوهیږې چې هغه کس چې مونږ وسره مینه لرو خفه یې نه شو لیدلې مونږ هم ستا مینه وال یو هیله کوم مونږ مه خفه کوه بیرته ښه شه که ته وغواړې هر څه به سم شي ومې ویل شبیره وارانې مینې هیڅ کله بیرته نه رغیږي هڅه مه کوه چې زه هم ورغیږم زما زړه هغه کنډر دې چې بیرته به هیڅ کله جوړ نه شې هغه غوسه شو وایې ولې داسې کوې ته یوازې ځان ته نه مونږ ته هم سزا راکوې او ته هیڅ حق نه لرې چې د ځان په داسې حالت دې مونږ ته سزا راکړې ومې ویل شبیره ښه نه یم کنه مه کوه دا خبرې هیله کوم ښا نه یې کوم خو په دې شرط چې بیرته ښه شه هیله کوم مور جانې لپاره هڅه خو وکړه ایا ته د هغې داسې خفګان لیدلې شئ؟ نا مې د خولې وخته هیڅ کله نا ښا چې داسې ده نو بیرته پخوا په څیر شه ومې ویل امکان به ولرې ؟ ولی نه هر څه په اراده کیږي ما لا خبرې کولې چې مور مې مخامخ ولیده هغه ماته ولاړه وه خبرې مې شبیر سره لنډې کړې خدای پامانې می وکړه مور مې خواته نژدې شوه هغې سترګې ډکې وی ورته په کتو مې وویل مورې زه هیڅ ښه زوی نه یم

اصلا زه هیڅ ښه انسان نه یم لا ما یو کار هم سم نه کیږي ما ونه شو کولې یو زړه هم وساتم سترګې مې دی خبرې ډکې کړې هغه په تندې ښکل کړم وې ویل بچې حادثې د ژوند سره ملګرې وی زه دا نه وایم چې هر څه هیریدل اسانه دې خو دومره خو سخت هم نه دې چې ستا د وسې پوره نه وې هڅه وکړه زر مې وویلې مورې څه وکړم ته ووایه هغې ژر وویلی زه مې زوې پخوا په څیر غواړم هماغسې د خندا او د شرارته ډکه څیره هر هماغه شوخې مسکې شوم ومې ویل ته خوشحالیږې چې هغسې شم زر یې سر وخوروو وی ویل خو ډیره به خوشحاله شم ما ډیر نزرونه منلې چې بیرته مې زوی ښه شې د لاسه مې ونیوله ومې ویل مورې زما د ژوند مقصد هسې هم ما د لاسه ورکړې زه د هیڅ شې تمه نه لرم ګمان کوم زما ژوند عبث شوې خو نه پوهیږم تاسې ته دا زما بیکاره ژوند ولې دومره ارزښمنه ښکارې ما خو مې ټولې هیلو د ځکه دننه ښخې کړی خو چې تاسې غواړې هڅه به وکړم چې بیا د ژوندیتوب احساس وکړم هسې فکر خو نه کوم خو بیا هم کوشش خو کولې شم مور مې دې خبرې سره ژر وویلې ته ربنتیا وایې ته غواړې بیرته جوړ شې سر مې وخوروو ومې ویل خو کوشش کوم خو که ونه شو بیا به نه خفه کیږې هغې ډیر د خوښې نه وویلی هر څه کیږې بس اراده دې قوې وساته مور سره مې بیرته د ښه کیدو وعده وکړه خو نه پوهیږم د نورو کړو وعدو په څیر دا هم ماته نه کړم شپه مې په سوچونو سبا کړه سهار وخته د خوبه ویښ شوم لمونځ او د دعا وروسته مې ځان هغې وعدې ته چمتو کړو کومه چې مې مور سره کړې وه ځان مې جوړ کړو او د هغه مینې په طرف روان شوم چې زما د مات زړه ګواه و هغه ځای چې ټولې هیله مې هم پکې پیدا شوې وې او هم یې د سپین رنګ کفن په تن کړې وو ما اوریدلې که څوک غواړې نوې ژوند پیل کړې لومړې باید هغه ټول ماضې چې ستاسې د نوې ژوند خنډ ګرځې لرې کړو، زه هم روان وم له هغه ماضې مې ځان راخلاصوو چې زه یې راتلونکې ته نه پریږدم، همدې فکرونو کې پوهنتون ته ورسیدم، کله چې داخل ته لاړم نو هغه ټولې کیسې مې تر سترګو شوې چې پر ما تیرې شوی وې هغه هره خبره چې زما د ژوند ملګرې وه راته مخامخ شوه سترګې مې د هرې کیسې سره

ډکېدې ټولې خبرې مې وار په وار په زړه تېرې کړې بيا مې هغه خبره چې رښتيا ورپسې راغلې وم روان شوم له محصيلين کم وو د ليله د ټولګې لار مې ونيوله د ټولګې ته په رسيدو مې تر سترګو شوه هغې يو نظر په کتو سره بيا راوکتل ذير شوه شايد باور يې نه راتلو ژر مې خواته نژدې راغله نه پوهيدم چې څه ورته ووايم هغې سلام وويلې په ارامه غږ مې وعليکم سلام وويلی پس د سلامه مې وويلی ليله کولې شې ځو خبرې وکړې همدې لپاره راغلې يم هغې سر د ښا په باب وخوروو وی ويل سمده دواړه د بڼ په لورې راروان شو هغې په لاره کې څو ځلې زما مخ ته وکتل مخ مې ور واړوو ومې ويل څنګه داسې ګورې لکه چې ډير تغير مې کړې ؟ د هغې غږ داسې وو وی ويل خو ډير توپير درکې راغلې په لومړې ځل په ليدو مې هيڅ ونه پيژندې ولی داسې شوې يې؟ ومې ويل ژوند داسې کړم په خبرو خبرو کې بڼ ته ورسيدو خواکې ايخې چوکې کی کيناسته وی ويل ژوند هره لحظه بدليږې ومی ويل ليله پر ما خو بدل نه شو زه اوس هم په هماغه پخوانيو کيسو کې بندې يم ليله خپله خبره بيا پيل کړه وی ويل هر څه په بدليدو بدليږې ومې ويل خو ستا په شمول ټولو راته دا خبره کړې خو نه پوهيږم زما دا زړه بدبخته هيڅ نه پوهيږې هره لحظه ناارامه وې سکون يې نشته غواړم سکون ولرم ليله وويلی نو څه فکر کوې سکون به دې په څه کی وی؟ ومی ويل نور نه پوهيږم چې زما سکون به چيرته وې خو دومره پوه شوې يم چې هغه سکون چې زه يې غواړم دلته نشته او د وروستې ځل لپاره راغلم چې له دې هر څه سره خپله اړيکه پريکړم هغې وويلې اړيکه خو دی وخته پريکړې وه اوس څه غواړې کومه اړيکه پريکړې ومی ويل ليله پوهيږې زه هره شيبه ځوريږم زما زړه زما فکر زما روح هر څه ناارامه دې ځان مې بوخت کړو ځان مې بی پروا حساب کړو خو هيڅ ونه شو اخرنې هيله مې ته يې هغه څنګه ژر يې وويلی ؟ مخ مې ليله ته واړوو ومی ويل ليله کله چې ډير وځوريږم کله چې می ډيره په ياد شې نو ته می هميشه سترګو ته کيږې هره لحظه دا ګمان کوم زه ستا ازار وهلې يم ما ستا زړه مات کړې شايد ځکه نن زه دا سختې وينم دا ژوند مې دومره ګران شوې زما دې خبرې سره يې سترګې ډکې شوی مخ يې يو طرفته کړو د څو شيبو لپاره غلې وه بيا يې وويلی

داسې به نه یې ومې ویل زړه ماتول دوزخې انسان کوې او زه هم خدای په دې دنیا دوزخې کړم د مینې نه د هغه چا یې محروم کړم چې ماته یې مینه د جنته کمه نه وه دې خبرې په سترګې کې د خپلې ماتې مینه سیلاب راوستو اوښکې می بې واراه په مخ روانې شوی بیا می هغې ته وکتل ومې ویل لیله زه نه پوهیږم چې هر څه ما وکړل هغې کې زما ګناه څومره وه خو زه دومره وایم که ریښتیا هم زمونږ اړیکه خدای غوښته نو هیڅ کله به یې په بلې نه مینولم زه مخکې لا تاسره وم هیڅ کله به د بل شوی نه وی خو نا خدای داسې نه غوښتل زه یې په هغې مین کړم هیڅ مې وکړه ژوند مې تاسره پیل کړم خو لیله زما زړه یې نه منې څه وکړم ستا مات زړه بیرته رغولې شم خو زما زړه دا خبره نه منې اړیکې په مینې پالل کیږې او زما مینه اوس هم هغه ده هغه می هیڅ نه حیریږې او ګمان نه کوم کله به می هیره شې یوازې دا بې حیسې ستا په وړاندې نده د نړې ټولو انجونو په وړاندې داسې شوې یم زه اوس شاید کامله انسان نه یم نه کولې شم بل کس کامله کړم په خبرو کې می بیا د هغې مخ ته وکتل ساکته شان شوی وه ومې ویل لیله اورې څه وایم؟ سر یې وخوروو وی ویل خو اورم د مخ اوښکې می پاکې کړې ساه مې واخیسته ومې ویل لیله ما لا دی عذابه خلاص کړه ما وبښه دا مات ژوند چې غواړم د مور لپاره یې ترسره کړم لږ ارامه اوسې دا خبره چې ته به ماته ښیرې کوې دا خبره ما تل ځوروې لا دې غمه مې خلاص کړه دا ځل مې د لاس په جوړه کولو ورته سوال وکړو د سترګو ډنډ اوښکې یې په مخ توی شوی وی ویل هدایته دا څه کوی مه کوه هیله کوم ما هیڅ کله تاته ښیرې ندې کړې او نه یې کوم هو ریښتیا تاسره مې ډیره مینه کړې خو زه هم ستا په څیر د خپل قسمته دا ګیله کوم چې زما نه وی ولې درباندې مینیدم دی کې ستا ګناه هم نشته هر څه د زړه په اختیار وی چې ستا زړه یې نه غواړې ته بې ګناه یې د هغې خبرې می په چپه خوله اوریدې مخ مې ورواړوو ومې ویل لیلا یعنې ښنلې دې یم هغې سترګې ډکې وی سر یې وخوروو وی ویل خو هغه څوک چې زړه ته نژدې وی هغه په بد نه پیرزو کیږې بې غمه اوسه زما هم په بدو نه یې پیرزو خدای دې ورته ورسوه ومې ویل هغه بیا مې وویل هغه د بل چا امانت ده که هر څه وکړم نشم یې خپلوې او ددې ټولو کړنو

مسول زه خپله یم خیر هغه خبرې کوم سر نه نیسي دا چې ښښلي دی یم مننه کوم خداې دې تل خوشحاله لره هغه بیا نیولې شوه وی ویل هدایته بیا هم ورسره مینه لری؟ ددې پوهیدو وروسته چې ورته نه شي رسیدلې؟ هو لرم ورسره، مینه اړینه نده چې تر رسیدو دې وې کولې شو زړه کې یې یاد د تل لپاره تازه وساتو همدې ته شاید ریښتیني مینه وایي هغې زما خبره بیرته ماته تکرار کړه وی ویل نو زه به هم تاته په انتظار شم ومې ویل لیله داسې مه وایه ته چې څه وایې هغه خبره ناشونې ده زه ستا هیڅ کله نه شم کیدلې ژوند دې ما لپاره مه خرابوله عبث انتظار مه کوه هغې خیر که تاته زما مینه نه ښکارې خو ما مینه کړې او ستا د راتلو په انتظار به خپله مینه ثابتوم خدای دې تا خپل منزل ته ورسوې یا دې خدای ما تر خپل منزله ورسوې دواړو کې خو دې د یو زړه ارمان پوره شي ومې ویل لیله لیونتوب مه کوه دا هر څه چې وایې هغه یو خیال دې هغه زما کیدلې نه شي او د هغې پرته زه بل کیدلې نه شم هسې ځان مه خواروو همدا زه بس یم چې ځوریږم نه غواړم بل څوک دې زما په څیر وځوریږي  هغې وویل خیر ته دا خبرې پریدا وخت ټول عمر یو شان نه پاتې کیږي خدای به هر څه سم کړې ژر مې وویلې لیله که خپل ژوند مې جوړ کړو او یو کس مې د ژوند لپاره وټاکو بیا هغې وویل بیا هم نه خفه کیږم چې ته خوشحاله وې او ژوند دې پیل کړو زه به هم په خوښې سره د نوې ژوند ترون وکړم خو تر هغې به درته په تمه یم د ځای پورته شوم وروستې ځل مې ورته وکتل ومې ویل د داسې لیونتوب تمه مې درنه هیڅ نه وه دا چې ته څه وایې په هغې یو ځل فکر وکړه هغه د ځای پورته شوه وی ویل فکر مې کړې خپله دې وویل کنه چې اړیکې په مینه پالل کیږي زه هم د زړه منم ته کولې شې خپل ژوند دې په خپله خوښه تیر کړې او دا ژوند زما دې زه یې په خپله خوښه تیروم ماسره د هغې د خبرو ځواب نه وو دلته زما د زړه مشکل نور هم ډیر شو ومې ویل سمده ښنګه چې دی خوښه وی هغسې وکړه بیا مې ورته ونه کتل روان شوم فکر مې ډیر خراب وو شبیر سره لیدنه مې هم پریخوده نه مې هغه ټولګې چې زما د او هغې د مینې مینه وه ولیده د کور په طرف رراوان شوم څه چې مې زړه وو هغه مې پلار ته وویل چې نور نه غواړم دلته د درس لپاره

پاتې شم ډېر وخت مې هسې تېر کړو نور نه غواړم داسې پاتې شم هغه وویل سمده که ستا همدا اراده وي نو هیڅ به وکړو ننګرهار ته دې تبدلې وکړو هغه ځای نژدې دې په اسانې به تګ راتګ کولې شې ما فقط غوښتل له دې ځای بدل شم هر ځای ته چې یې لیږلم هغه ماته اړینه نه وه د ننګرهار پوهنتون ته مې تبدلې وشوه هر څه مې خلاص کړل او د خدای پامانې په اخیستو د کابله د ننګرهار په لورې روان شوم، داسې منزل په لور چې نا معلومه وو ماذیګر ناوخته ننګرهار ته ورسیدم هلته مو نژدې خپلوان وو چې شپې هلته پاتې شوم او سهار وخته د پوهتون او لیلې د پوښتنې په باب د کوره ووتم لومړې مې د شمولیت کارت واخیسته او بیا مې د اوسیدو ځای هم معلوم کړو دا چې زما لومړې پنځم سمستر محصل وم نو اړ وم د لیلې بهر ځای وګورم هغه لټول هم ګران نه وو د خپلوانو په مرسته مې وکولې شو زر ځانته د اوسیدو اتاق پیدا کړم د دوه ورځو ځنډ وروسته مې خپل سامان واخیستو او د اتاق په لورې روان شوم، اتاق کې مانه پرته دوه نفر نور اوسیدل چې یم یې نصیر او بل یې رضوان و کله چې اتاق ته ورسیدم نو نصیر په اتاق کې موجوده و، روغ بړ یې راسره وکړو د طبیعته ښه ټوکې ښکاریدو په لومړې ځل یې داسې خبرې پیل کړې چې اړ یې کړم وخاندم هغه زما د خندا وروسته وویل یاره دا ښه دې چې ته راغلې که نه لږ پاتې وو زه له دې ځای تیښته وکړم لیونې شوې وم ومې ویل ولې ؟ هغه وویل یاره مکوه پوښتنه زړه مې تر خولې رارسیدلې وو خو زا ښه وو چې ته راغلې ومې ویل بیا هم ووایه نو څه خبره ده ایا کومه ستونزه ده دې اتاق کې اوس نه یې ووایه چې سر یې وخت دې هغه وخندل هر څه به ووایم خو لومړې ووایه عشق معشوق خو نه یې که ته هم په دې مرض اخته یې چې زه مې خپله غوټه وتړم، مسکې شان شوم ومی ویل ته هم!!! له دې خبرې دې څه مطلب واخلم هغه وویل دا خبره مې ځکه وکړه،چې رضوان هغه بل نفر چې دلته اوسیږې هغه په دې مرض اخته دې کله کله مې ورته غوسه راشې خو کله کله بیا پرې د زړه خفه کیږم ولې انسان داسې شې چې خپله خوښې هر څه هیره کړې د نصیر خبرو راته خپله کیسه مخکې کړه خو دا چې هغه لګیا وو ځان مې غلې کړو مونږ له دا خبرې کولې چې رضوان اتاق ته را

دننه شو په ونه دنګ وو ویښته یې د اندازې یو څه لوې و له مخه داسې ښکاریدو لکه د ژونده چې ډیرې ګیلې لرې،بصیر د رضوان په لیدو خوله وتړله ژر یې وویلې هدایته دا دې راغې هغه رضوان چې مونږ سره په اتاق کی اوسیږې،ورته نژدی شوم غاړه مې وکړه هغه راته ښه راغلاست وویلې خو نور یې ونه ویل په خپل ځای کیناستو بصیر راته په اشاره وویلې چې ډیرې خبرې مه کوه ما هم څه ونه ویل شپه همداسې تیره شوه سهار مې لومړې ورځ وه چې پوهنتون په لورې روانیدم زړه مې بل رقم وو دا ډیر وخت د درسونو لرې وم او بل دې ځای سره هم نا اشنا وم نه پوهیدم صنف به څنګه وې همدې کې وم چې د سهار چای بصیر تیار کړو هغه په ټوکو کې وویل ځوانه نن دې میلمستا خو نور به کار په نوبت کوو دا د مهاجرې شپې دی چې په دې یې تیرې نه کړو نه کیږې همدې کې رضوان هم راغلې هغه بیا هم څه ونه ویل چای ته کیناستو په پټه خوله یې چای وڅکو او د ځای پورته شو څه ځنډ وروسته زه هم ورپسې روان شوم، هر څه عجیبه وو ماته نوې وو بیرون تختو ته مې کتل تر څو خپل ټولګې مې پیدا کړو، کله چې ټولګې ته ننوتم نو حیران شوم لا ما مخکې رضوان ناست وو زما په لیدو د ځای پورته شوم سلام یې وویلې او ورسره یې وویلې ته دلته څه کوې؟ ومې ویل یار دا مې ټولګې دې هغه ژر وویل مخکې به دې ویلې ویل یو ځای به راغلې وی ومې ویل تا شاید نه غوښتل خبرې وکړې ما هم څه ونه ویل نرې مسکه یې وکړه وی ویل نا داسې کومه خبره نده ته به خفه شوې یې خو یار څه ووایم زما ژوند للهانده دې ډیرې وخت ځانته په فکر کې اوسم،له ما به نه خفه کیږې هغه دې خبرې سره د ځاې خوا چوکې کینولم او نورې خبرې یې پیل کړې ومې ویل دومره اندیښنه ولې ؟ هر څه چې کیږې هغه خو کیږې نو بیا ولې داسې شته ژوند دې په سوچونو تیروې هغه وویل داسې هم نه ده هر څه چې ما غوښتل هغه هر څه مې ترلاسه کړې خو بیا هم داسې فکر کوم لکه هیڅ چې هم په لاس نه لرم زه اوس هم نیمګړې یم مخ مې واړوو ومی ویل دا هم امکان لرې چې هر څه چې تا غوښتې هغه دې ترلاسه کړې او بیا دې هم دومره ناهیلې اوسې هغه وویل بلکل ماته وګوره زه ده ددې خبرې مثال یم مونږ لا خبرې کولې چې استاد راغې خبرې مو

نیمګړې پاتې شوې په درس کې بوخت شو، خو کله چې تفریح شوه هغه بیا کیسې پیل کړې داسې مې ګمان وکړ لکه هغه هم غواړې خبرې وکړې راسره ما هم ورته غوږ کیښودو هغه له ما نه وو خبر خو زه په زړه بیداره وم دواړه مات انسانان و چې یو ځای شوې وم هغه په خبرو کې وویلې هلکه هدایته داسې ګمان کوم چې تاسره به مې ولګیږې ومې خندل ومې ویل همم داسې دې ولې وویلې هغه وویل بس زړه مې وایې ومې خندل ومې ویل بیا هو پوره امکان لرې چې سره جوړ راشو ومې خندل ومې ویل بیا هو به ښه وی کنه زه هسې هم دلته څوک نه پیژنم هغه وویل زما اشنایې غواړې ومې ویل ولی نه هغه وویل هسې دلته که وې نو شاید سره نه وی اشنا شوې خو دا چې اتاق کې هم راسره یې نو اوس ډیر امکان شته چې سره ښه ملګرې شو ومې ویل هغه څنګه هغه وویل خو زه دلته چاسره ملګرتیا نه شم کولې ځکه دلته بوخت اوسم ومی خندل ومې ویل چاسره هغه د خپل چپ لاس پورته کړو او د لاس ګوتمې یې ښکاره کړه ومې خندل او په خندا کې مې وویل لکه چې کوژده دې کړې هغه سر وخوروو او وی ویل خو کړې مې ده او هغه هم راسره دلته په یو ځای کې ده نو په دې خاطره د تفریح ډیر ساعت د هغې سره تیروم مسکې شان شوم ومی ویل چا خو ویل عاشق یې هغه وخندل او بیا یې راغبرګه کړه هو هماغه مې عشق ده ډیر په مینه مې کړې د رضوان د عشق او بیا د مینې خبرې خدای شته په زړه ټکنې کړم نیولې شان شوم خو بیا مې هم ورته وویل بیا خو دې مبارک وې هغه وخندل څو خبرې یې نورې وکړې چې تفریح خلاصه شوه او بیا د صنفونو په لور روان شو په څو ورځو کې رضوان او بصیر سره ډیر بلد شوم بصیر ډیر ښه انسان وو څه چې یې په خولې وو هماغه یې په زړه وو خو رضوان داسې نه وو هغه لکه د استرلیا موسم کله ورځ شې کله لمر په طبیعت یې هیڅ څوک نه پوهیدل کله په ډیر خوښ وو د خندا غږونه به یې کلې خبرول خو کله به بیا داسی خاموشه شو چې غږ به یې ستونې نه نه وتو ډیر ځلې به مې خولې ته راغلل چې پوښتنه ورنه وکړم چې اخر ستا ستونزه څه ده خو بیا به مې ویل نا شخصې ژوند سره کار لرل مناسبه نه ده وخت تیریدو خو په دومره موده کې می هیڅ کله دا جرعت ونه شو کړې چې ورته

د زړه حال ووایم هغه به صنف کې راسره و خو د تفریح په ساعت کې به ورک شو کله چې به بېرته راغې یا به خوښ وو یا خفه خیر یوه خبره یې ښه وه چې زړه یې ډېر پاک وو په دومره کم موده کې راسره ډېر ملګرې شو کله کله به یې د زړه خبره وکړه خو ډېر وخت به یې په خاموشۍ ځان تیر راوستو دده داسې حال به راته خپل مین زړه په یاد کړو ما هم داسې وخت تیر کړې نو په زړه یې پوهیدم ماته تر ټولو اسانه وو بصیر به خندل او ده ته به یې بیلا بیل نومونه یادول خو دا بیا په یوه خبره هم نه خفه کیدو یوه شپه ارامه ارامې وه خاموشې او سکون په هر ځاې کې خور وو ما او د غمه ډکې سترګې د هغې د حسینو سترګو په یاد کې پټې کړې چې ناڅاپې یې غږ شو د ځای پورته شوم پام مې وکړ رضوان د ځای پورته شوې په زنګون یې سر ایخې او په زوره زوره ژاړې نن د بده مرغه بصیر هم نه وو ژر د خپل ځای نه پورته شوم او خواته یې نژدی شوم هغه په ځان نه وو کله چې یې خواته نژدی شوم نو ډېر په احساساتو کې یې غاړه راکړه د زړه درد یې تر خولې راغې په ژړا ژړا کې یې وویلې هدایته هغه ظالمه ده که زه کمبخته یم ؟ خواته مې نژدی کړ او دلاسه مې وکړه خو هغه نن د حده زیات خفه وو د سترګو یې غبرګې اوښکې تویدې د ځای پورته شوم او اوبه مې وکړې هلک د اوبو په څکلو لږ ښه شو خو بیا هم ښه نه وو د سترګو یې بې واره اوښکې روانې وی ما هم نور څه ونه ویل کله چې لږ ارامه شو نو بیا یې خواته نژدې شوم په ارامې مې ترې وپوښتل ستا ستونزه څه ده؟ هغه وویل زما د ژوند هماغه یوه ستونزه ده چاسره چې زه د حده زیاته مینه کوم دا خبره ماته تعجب کوونکې وه ومې پوښتل هغه کوژدنه دې ښایې هغه سر وخوروو وی ویل خو هماغه ومې پوښتل نو هغه سره څه ستونزه لرې هغه خو دې په نوم ده خپله دې ده څوک چې د چا خپل وې کولې شې په اسانې یې درک کړې مینه ورکړې او خوښ اوسې هغه وویل هر څه مې کړې او کوم یې خو بیا هم په مینه کی ناکامه یم ژر یې سترګې ماته واړولې وی ویل هدایته دا ما چې داسې ګورې زه داسې نه وم زه ډېر اواره وم د هیچا پروا مې تر اوسه نه ده کړې خو هغې په خاطر مې هر څه وکړل دا اوس چې دی پوهنتون  او دی رشته کې یم دا هم د هغې په برکت که زما په زړه وې نو

هیڅ کله مې نه غوښتل درس دی ووایم خو یوازې ددې لپاره چې هغه ما قبول کړې ځان مې داسې کړو په ستونزو مې د ځان په نوم کړه پوهیږې کله چې زما په نوم شوه نو ګمان مې کوو زه د نړې تر ټولو خوش بخته انسان یم ځکه هغه کس مې خپله کړې وه چې ما غښتله خو اوس داسې ګمان کوم زه بدبخته یم ما ځان خپله په دې غم اخته کړې هغه وار په وار خپلې خبرې کولې ما اوریدلې خو کله چې ده د بدبختې یادونه وکړه نو ژر مې وویلې نواخر ولې ستونزه څه ده چې دومره دې خوښه وه او اوس دې په نوم هم ده نو بیا دا کړاوونه ولې هغه وویل زه نه پوهیږم څه ستونزه لرې ما د خپلې وسې هر کوشش کړې چې خوشحاله یې وساتم هغه هغه ارمان می ور پوره کړې چې دې تش یادونه کړې نو بیا څه ؟ ژر مې وویلې هغه وویل که پوهیدې کنه تر اوسه به پوه شوې وی خو زه تر اوسه پوه نه شوم چې دا څه غواړې ښه یې عادې وی خو ناڅاپه داسې کړنې وکړې چې هیڅ د منلو نه وې ومې ویل شاید عصابې ستونزې ولرې؟ هغه وویل که ستونزه لرې هم ورته تیار یم که سل لیونې هم شې هم ورسره مینه لرم زه یې د قبلوو انکار هیڅ کله نه کوم خو اوس ګمان کوم زه په ریښتیا تش لاسې یم هر څه لرم خو په حقیقت کې زه د هر څه بې برخې یم ما ډیر خوبونه لیدلې وو کله چې به یې خپلوم خو اوس چې می خپله کړې ګمان کوم هیڅ زما نده ناسته ماسره ده خو روح یې بل ځای دې خاندې خو په خندا کې یې درد دې سترګې یې ډیرې ښکلې دې خو فقط د جوړښت له مخې د خوښې ښکله په کې هیڅ نه شته څه وکړم هدایته زه ددې کړنو لیونې کړې یم ژر می وویل که زما منې ژر واده وکړه که درته نژدی شې په مشکل به یې پوه شې هغه وویل نا واده مې هم دې خاطره معتله کړې تر څو پوه شم چې ریښتیا یې مینه ماسره شته که نه یوازې د ځان په خوښې د بل چا ژوند نه شم خاورې کولې خبره مې خولې ته راغله خو مناسبه مې ونه ګڼله چې ورته ووایم داسې نه بل څوک یې خوښ وی خو زما د خولې خبره یې خپله تکرار کړه وی ویل داسې هم نده چې بل څوک یې خوښ دی ما په سلګونو کرتو ورنه پوښتنه کړې که داسې څوک وی نو همتن پوهیدم کوشش می کړې خو نه پوهیږم څه ستونزه ده هغه زړه تش کړو خو زه یې فکرونو کې غرک کړم زما ستونزه وه چې مینه

می پردې شوې وه دده ستونزه دا وه چې خپله مینه یې خپله نه وه عجیبه نړې ده خدای هر څوک په خپلو ستونزو کی ګیر کړې څوک یې په یوه خبره خو بیا یې څوک په بله خبره مشغول کړې هغه ته مې ډاډ وکړ او ویده مې کړو ما له دې خبرو توبه کړې وه خو د رضوان ډک زړه راته د زړه زاړه زخمونه بیا تازه کړل هغه د مینې کیسې بیا په ذهن خپرې کړې  دهغې حیسنې سترګې او زما له خوا ډالې کړې بیتونه هر څه می مخته وشو ځان سره می وویلې حسنیې که ته وی راسره زما او ستا تر منځ به دا ستونزې نه وی موجوده څومره مینه چې به تا راکوله د هغې سل چنده به ما درته درکوله د یو بل په زړونو به پوهیدو او د یو بل د زړه ساتنه به مو کوله خو دا هر څه پرته د ښکلې خیاله هیڅ نه دې هسې بیا مې سوچ دې خبرې ته شو د رضوان درد هم د زغلمو نه دې ولې یو انسان دومره ظلمه کیدې شې چې د یو چا مینه دې درک نه کړې داسې خلک به په سترګو ړانده وې چې د چا مینه او اخلاص ورته نه ښکارې دوې به ولې داسې کوې ددوې په زړونو کې به رحم نه وې سترګې مې پټې کړې سوچ مې لا پسې ژوریدو د لیله خیال مې ذهن ته راغې هغه هم لکه د رضوان زما په مینه کې ګرفتاره وه هغې هم ماته زړه راکړې وو زما مینه ته یې احترام کوو زما خوښې یې غوښته خو ما هیڅ کله ددې مینې او اخلاص ته ونه کتل نا ارامه شوم په یو اړخ شوم ومی ویل نا زما او ددې مینه فرق کوې زه د لیله هیڅ نه کیږم نو هغه انجلې ددی خپله ده که زه هغې ته د مینې په بدل کې مینه نه ورکوم هغه خیر دې خو که هغه انجلې د رضوان د دومره مینې وروسته هم ده ته مینه نه ورکې دا خبره ده منلو نه ده یو انسان ازاده پیدا شوې او خوښې مینه او سکون د هر څه واک باید ولرې خو دا چې یو انسان خپل ټول احساسات بل ته په اختیار کې ورکوې باید هغه مقابل کس یې قدر وکړې مینه ورته وکړې او دومره یې ونازوې چې هغه کس په خپله کړې مینه پښېمانه نه شې د رضوان کړو خبرو بیا سوچې کړم هڅه مې کوله په مشکل یې ځان پوه کړم دا چې زما ژوند برباد و نه مې غوښتل د چا د مینې مینه دې ړنګه شې ډیر سوچ می وکړل خو هیڅ نیتجې ته ورنه رسیدم ځکه زه یوازې په دومره خبره پوهیدم څومره چې ماته رضوان کړې وه او دا خو واضع خبره د چا د

خولې چې کوم داستان اورو د هغې داستان مظلومه کس هغه خپله وې که ما هغه انجلۍ لیدې وی او ورسره اشنا وی کولې می شو چې اصلې هدف یې معلوم کړم خو اوس ما هیڅ نه شو کولې سترګې می پټې کړې خپل غمونه مې تر سترګو شو د رضوان غم رانه هیر شو د ځان په غم اخته شو کله چې بنه سترې شوم سترګې می خپله پټې شوی وی سهار د ملا اذان سره د خوبه ویښ شوم زما د پاڅیدو مخکې رضوان د خوبه ویښ شوی وو په جاینماز ناست و ماته ښکارې غم یې اوس هم تازه دې او غوارې د زړه سکون پیدا کړې غبر می پرې وکړو مخ یې راوړو خو نور یې څه ونه ویل د سهار د چای وروسته یو ځل بیا پوهنتون پو لورې روان شو هغه په لاره کی هم د نورو ورځو په څیر خاموشه وو صنف کې هم غلې وو خو د تفریح ساعت کې ناڅاپې د ځای پورته شو څه می ورته ونه ویل او نه می غوښتل ورپسې روان شم ځکه د کله نه چې دلته راغلې یم یوه ورځ هم بیرون نه یم وتلې پرته د رضوان اوس زما هم ارامې خوښه ده نن هم په ځای ارامه پاتی شوم هغه لاړو د تفریح وروسته می هلک تر سترګو شو خو زړه مې په سکون کې شو ځکه اوس یې خندا په مخ خپره وه مسکې شان یې راته وکتل په لیدو یې لا زړه خوشحاله شوم خواته مې نژدی راغلې ژر می وویل څنګه خاندې لکه چې بیا مو سوله وکړه هغه وخندل وی ویل یاره دا جنګ خو زه نه کوم ومی ویل خفه خو تل یې هغه وویل یاره تا به مینه کړې وی که نه که چیرې په ربښتیا مین شوی نو هله به درته پته ولږې چې دا یو کس څه معنا لرې هغه زما ټول جهان دې زه یې په سر ټوله دنیا خفه کولې شم خو د هغې په خفګان بیا ټوله نړې هم ما نه شې خوشحالوې  دې خبرې یې ټکنې کړو ژر می ویل یاره مینه خو ما هم کړې خو دا ستا مینه څه عجیله شان ده هغه مې څیرې ته وکتل وی ویل ربښتیا وایې تا هم مینه کړې ومی ویل دی ته مینه مه وایه چې محبوب دې تر څنګ نه وی هغه وویل ولې خیر شه څه چل دې ومی ویل بس یار چې په زړه مې وه هغه د بل شوه او څوک چې ما غوارې هغه زما په زړه نه ده هغه خواشینې شان شو وی ویل پرته د هغه کس چې پر تا ګران وی اوسیدل څومره سخته ده کنه هغه ماته تل درد راکوې ما خفه کوې خو بیا هم هغې تر څنګ اوسیدل ماته راحت راکوې زما زړه په

ارامه وی او کله چې په خوشحاله راسره برخورد وکړې بیا خو مه کوه پوښتنه ومې خندل بس یار خدای دې تا ورسره خوشحاله لرې او ماته دی خدای د زړه صبر راکړې هغه وویل ولا یاره امیین خو یوه خبره کوم که په رښتیا می ورور ګڼې او په خولې می باور کوې نو له خپلې تجربې به یې درته ووایم هغه کس چې پر تا مین وی او ته ورته اړین اوسې هغه کس هیڅ کله مه پریده ژوند د مینی نوم دی او مونږ د مینې په معنا یوازې هغه کس پوهولې شې کوم څوک چې مونږ سره له زړه نه مینه کوې په زړه مې لاس کیخودو او ورته ومې ویل چې دا زړه دی ونه منې بیا ورسره څه کوې هغه په خنده شو وی ویل یاره دا زړه هسې لیونې شی دی که ددې په طبعه لاړې نو بیا خو زما ژوند ته وګوره داسې به دې زندګې وی خبرې مو ډیرې خوړې وی خو د استاد راتګ مو مشغوله ته د پای ټکې کیښودو درسونو کې بوخت شو ورځ هم همداسې پای ته ورسیده او همداسې پاتی څو ورځې هم په ارامې پای ته ورسیدې خو بیا هم ژوند عادې نه وو او د رضوان ژوند خو بیخې عادې نه وو هغه په ستونزو کې راګیر وو سبا جمعه وه ټول په ډاډه زړه پراته وو خو هغه نن شپه بیا نارامه وه نه پوهیږم بیا څه چل شوې چې دا بیا داسی ناارامه دې خو اوس شپه پخه وه نشو مې کولې پوښتنه وکړم په بل اړخ شوم دده داسې حالت مې نه شو لیدلې په زړه مې لاس کیخودو او سترګې می پټې کړې د خدای مې پس د څه مودې یو سوال وکړ ومې ویل خدایه نیمګړې مینه انسان بدبخته کوې زه بدبخته یم خوو رضوان مه بدبخته کوه هغه ته نصیب شوې انسان ددې د خوشحالې سبب وګرځوه ما مې خپلې مینې لپاره هیڅ هم ونه شو کړې خو دده مینې سوال زه تاته کوم ته یې ژوند ارامه کړه بیچاره هیسې ځوریږې نن مې پس د څه مودې سوال کړې وو ما د حیسنې پس د سوال خبرې پریخې وی خو نه پوهیږم نن مې د رضوان لپاره زړه نه دعا وکړه او سترګې می د رضوان د درده خلاص کړو یو وخت سهار غږ راباندې وشو بصیر د لمانځه غږ وکړ د ځایه پاڅیدم او لمونځ وکړ خو دا چې شپې رضوان زه هم ځان سره نارامه شوې وم بیرته ویده شوم څه وخت وروسته بیا راباندې غږ وکړ د ځایه پاڅیدم او د بصیر خواته لاړم هغه زما په لیدو وویل یاره هغه یو لیونې مې بس دې اوس ته

راته هغسې مه کېږه، ومې خندل ومې ویل یاره څه مې کړې ناحقه تورونونه لږوې هسې داسې په ځغرده لګیا یې لکه چې نشته دې که څنګه ؟ وی ویل په لیونو هیڅ باور نه وی په هغه هم نشته نن سهار وخته ووت ژر می وویل ولی چیرته لاړ هغه وویل یاره ماته یې هیڅ ونه ویل نه پوهیږم چې څه ته یې زړه وو خو څنګه چې روان وو فکر کوم یو څه ته یې زړه وو زړه کې می ټک شو پوهیدم چې نارامه دې خو داسې نه پوهیدم چې داسې وخته به وځې زړه مې ناارمه شو د ځای پورته شوم زنګ مې ووهو خو زما د ګمان په څیر ځواب یې رانکړ بصیر ته مې وویل یار دا به چیرته تلې وی هغه وویل یاره چیرته به تلې وی رابه شې جمعې ورځ ته کیدای شې چې هغې کوژدنې لیدو ته تلې وی ومې ویل یار دومره وخته څوک لیونې دې چې لیدنه وکړې اندیښنه می په زیاتیدو شوه د رضوان حرکتونه جوړ نه وو هغه بیخې لیونې وو نه پوهیږم هغې جلې کې به داسې څه وو چې دده حالت داسې دې دا مینه خو ما هم کړې داسې خو نه یم لکه دا چې دې افففف خدایه چې هر ځای وې بس چې رک روغ وې څو دقیقې نور هم په ټه شوم خو د هغه درک ونه لږیدو بیا مې زنګ ووهو بیا یې ځواب رانکړ اندیښنه می ورځ تر بلې ډیریده خو نه پوهیدم څه وکړم تر ناوخته ورته په ټه وم هو نه خپله راغلې او نه یې ځواب راکړ،نور مې طاقت ونه شو ووتم زړه کې مې وو چې هغه ځاینه چې زه یې پیژنم هغه خو به ورپسې ولټوم امکان لرې همدلته وې د هغې په لټه کې مې ډیر ځای نه ولټول خو بیا مې هم پیدا نکړ په سترې ځان بیرته راغلم ځان مې درد کوو د هغې لیونتوب ته مې ادیښنه همداسې ډیریده پرته د زنګ نورې ټولې لارې په نشت حساب وې تر ډیره مې زنګونه ووهل تر څو چې ځواب یې راکړ د ځواب سره مې سم ورته وویل رضوانه چیرته یې؟ او دا تلیفون ولې نه ځوابوې هغه د خولې غږ نه ښتو وار په وار مې ورته ډیر غږونه وکړل خو هغه زما د خبرې ځواب رانکړ اخر مې ورته وویلې رضوانه خیر که هر چیرته یې پروا نه کوې خو دومره ووایه چې ښه یې زما درته اندیښنه ده هغه ډیر په سختې وویل زه ښه نه یم دې خبرې وروسته یې مې ژر وویلې داسې مه وایه ته دې ځای وښایه یو ځای به سره کینو خبرې به وکړو ته ماته ووایه چې چیرته یې ؟

هغه وویل زه لرې راغلې یم ومې ویل خو ووایه خو چې چیرته یې ؟ هغه وویل کورته راغلې یم ، ومی ویل خا ته ادرس راکړه چې درشم او نه ته راشه هغه وویل نا زه نشم درتلې ومې ویل ښا نو ماته وویلې چې زه درشم هغه وویل نا ځان مه په زحمت کوه زما کور لرې دی خا بیا هم کومه خبره نده دا ووایه چې څه وخت راځې هغه وویل زه معلوم نه یم ومی ویل رضوانه ته نه راځې ما د درتګه منع کوې او بیا هم وایې چې ښه نه یم په دې خبرو دې ما ځوروې هغه وویل نا مه ځوریږه زه نه غواړم زما لا امله دې څوک وځوریږې خو نه پوهیږم تل زه د نورو د ځوریدو لاامل کیږم غږ یې خراب شان شو ومی ویل داسې کومه خبره نده هغه وویل همداسې خبره ده او ربښتیا که زما یو کار وکړې نو ښه به وکړې ژر می وویل څه کار ووایه چې وی کړم صنف یې راوخودو او وی ویل هلته ورشه او زما دا پیغام ورته ورسوه چې نور به زما د په شتون ونه ځوریږې زما شتون ستا خوښې لا منځه وړې که زه لاړم نو ته به ښه شې او ستا د خوښې په خاطر دا هم کوم بس هغه پخوانې خندا دې په مخ راګوله ومې ویل ته څه غواړې وې کړې هغه وویل یاره نور د خبرو نه یم بس دا زما خبر دې ته یې ورته ورسوه ځکه فکر نه کوم چې بیا ورسره مخ شم ژر می وویلې ته څه غواړې وی کړې ؟ هغه وویل یاره د هغې اړیکې یې خلاصوم چې ماسره یې هغه بندې کړې هغه نده خوشحاله او د هغې به نه خوشحالې زه هم حوشحاله نه یم ومی ویل یاره دا د نړې پیغورونه به څه کړې او تر ټولو مهمه دا چې که داسې وکړې نو ایا ګمان کوې چې ژوند به وکړې ؟ هغه وویل زه نه پوهیږم چې څه کوم خو دومره پوهیږم د هغې نا خوښې نشم لیدلې ومې ویل رضوانه هیله کوم داسې مه کوه هر مشکل حل کیږې دا به هم حل شې ستا داسې کول به د هغې ټول عمر خراب کړې هغه به بد نومې شې هغه وویل پر ځای ددې چې ماسره په ناخوښې ژوند خراب کړې او ټول عمر ددې احساس وکړم چې دا هر څه زما له کبله د هغې به ښه وی چې د هر څه مسوله هغه خپله اوسې نور ستړې شوې یم داسې ژوند نور لا ما نه کیږې،تلیفون یې بند کړو خو سودا یې ماته جوړه کړه  هغه په خپل زړه ښه پوهیږې چې د هغې پرته نه شې اوسیدې هو بیا هم د هغې لپاره قربانې ورکوې اوس هم د هغې خوښې غواړې

سترګې مې پټې کړې او زړه کې مې وویل دا ربښتنې مین دې ددې د مینې باید قدر وشي هغه څنګه انجلۍ ده چې هغې ته دده مینه او دده پاک زړه نه ښکارې اخر هغه به ولې داسې کومې هسې په فکر فکر کې راته لیله مخته ودریده د هغې ټولې کړنې مهربانې د هغې مینه او ما لپاره توی کړې اوښکې هغه هم راته کټ مټ لکه رضوان په څیر ښکاره شوه کله چې مې سترګې نورې هم پټې کړې نو بیا یې راته سترګې نورې هم مخته شوې د هغې وروستې ځل خبرې چې ویل یې زه به ستا انتظار کوم دې خبرې یې ناارامه کړم زر مې سترګې پرانستې ومې ویل دا څه حال دې زه باید دلته د رضوان د مسلې په اړه فکر وکړم زه د لیله سوچونه کوم زما او د رضوان خبرې ډیرې لرې دي زه دا خبره د هغې سره نشم مقایسته کولې دې خو بیا مې هم زړه د لیله یادونه ماته کوله کله چې به مې د رضوان د نامزادې په اړه فکر وکړ او هغه به مې ملامته کړه نو د هغې د ملامتیا سره به مې ځان هم ملامته بولو ځکه هغې هم هغه څه کول لکه ما چې کول خو زه اوس هم نه پوهیدم چې د هغې ستونزه څه ده، فکرونه زیات وو خو زړه مې یوازې یوه خبره کوله چې هر څه کیږي باید د رضوان مات زړه بیرته جوړ شي هغه کار چې ماته یې سپارلي شاید خدای د هغوې اړیکه ته یو بله موقع ورکول غواړي او دریم کړې کولې شي دا کار وکړې سبا به ورشم او هغه د پوهولو کوښښ به وکړم ورته وبه وایم چې نا داسې باید ونه کړې رضوان د مینې په خاطر د هغې د زړه په خاطر  خو زړه ته مې وار په وار دا خبره راتله چې داسې نه د هغې خبرو په اوریدو تحلیل ونه شم کولې د هغې ستونزه د رضوانه هم زیاته وې بیا به څه کوې شپه مې په همدې سوچونو کې تیره کړه خو په ډیره کې مې ځان همدی ته اماده کړو چې هغه انجلۍ رضا کړم او د دواړو تر منځ بیا هغه د مینې اړیکه قایمه کړم همدې سوچو کې را باندې د سهار بانګونه وکړل لمونځ مې وکړل او په دعا کې مې ددوه لپاره خپله نیکه پریکړه وغوښته د سهار چای وروسته د پوهنتون په لور وغځیدم لا پوهنتون ته رسیدلې وم چې تلیفون غږ پورته کړ جیب ته مې لاس کړ زنګ د رضوان وو سلام دعا وروسته یې بیا د ددی خبرې یادونه وکړه خو زما ځواب د تیرې ورځې په څیر و ورته ومې ویل یاره دا اړیکه ختمول یا ورته د پای

ټکې کېخودل په ویلو کې اسانه وې خو د نیمګړې اړیکې بوج بیا پاتې ژوند ناارمه کوې ددې د غم ټینګې نه یې زما ددې خبرې سره د هغه غږ خراب شو په لرزیدلې غږ یې وویل هدایته ته راته ووایه څه وکړم ته چې کومې خبرې کوې هغه ټولې حقیقت لرې په دې هم پوهیږم چې د هغې نه پرته د ژوند تصور هم نشم کولې خو بیا هم لګیا یم دا لیونتوب کوم خو که ربښتیا راباندې وایې زه هیڅ نه پوهیږم چې زه څه کوم ومې ویل په همدې خاطره درته وایم ته یو ځل راشه او لا نژدی ورسره خبرې وکړه کیدای شې هغه ټولې ستونزې حل شې هغه وویل ما کوښښ کړې ومې ویل خیر یو ځل زما په خاطر راشه که بیا هم ونه شو بیا چې ستا څه زړه وې هماغسې به وکړو هغه معلوم نه وو وی ویل زه به دې اړه فکر وکړم ومې ویل سمده خو تر څو چې دی فکر نه وې کړې به اړه یې چاته مه وایه هغه وویل سمده او د خدای پامانې په اخیستو یې تلیفون بند کړ زړه مې د رضوان خبرو لږ ډاډه کړ د هغه د راتګ خبرو لږ مطمین کړم ځکه زړه کې می د یوې خبرې شک وو هغه ده چې زه هغه انجلې راضې کړم او هلته هغه لیونې خبره کړې وی نو بیا به هغه بیل جنجال وې خو زا خدای خیر کړ لومړې می رضوان خبرو زړه ډاډه کړ او اوس روان شوم د هغې لیدو ته او پوهولو ته چې پوهه یې کړم خو نه پوهیدم ولی چې څومره نژدي کیدم هماغمره مې زړه په درازه کیدو او دا درزا په نژدی کیدو دومره ډیره شوه چې غږ مې ورزته په ازاده توګه اوریدل کیدو په زړه مې لاس کیخودو او ومی ویل داسې احساس کوم لکه حسینې په لیدو چې کیدم، خو اوس هو دلته حسینه نده دا خو د رضوان نامزاد ده چې لیدنه ورسره کوم، خو دا کیفیت داسې دې لکه د حسینې نوم سره مې بیرته وویل نا داسې کومه خبره نشته دا خبرې باید ونه کړم ځکه دلته زه د مینې دستان ته نه می رغلې دلته غواړم د داسې کس ژوند وژغورم چې ربښتنې مین دې سوچونو تر تعمیره ورسیدم یو کس مې مخته راغلې د هغې مې یو ځل بیا د رضوان د نامزاد پوښتنه وکړه هغه د لاس په اشاره ټولګې وښودو او د خوانه مې روان شو د صنف مخته ودریدم خو نه پوهیږم د ننوتو زړه مې نه کیدو زړه مې ډیر نارامه وو خو بیا هم په نه زړه ننوتم یوه انجلې د صنف په مخامخ چوکې کې ناست وه خو مخ یې دوال لورې ته وو لږ وټوخیدم

او ومی ویل د رضوان کوژدنه تاسې یاستې ؟ هغه د ځایه وخوریده ژر یې مخ رااړووو ژر مې سر ښکته کړو هغې مخ ته مې ونه کتل خو خبره مې قایمه وساتله ومې ویل نه پوهیږم د کومه سره یې پیل کړم خو زا خیر ډیر څه به نه وایم هغه خبره چې کولو ته یې راغلې یم وبه یې کړم او هغه خبره ده چې زه اصله نه پوهیږم ستاسې منځ کې څه ستونزه ده او ولې داسې کوی خو څومره چې ما رضوان پیژندلې او وخت مې وسره تیر کړې د هغې خو دومره درته ویلې شم چې هغه درسره ډیره مینه لرې د هغې د هرې خبرې پیل ستا لا نامه پیلږې او ستا په نوم پای ته رسیږی د ځایه لږ وخوریدم او خپلې خبرې ته مې ادامه ورکړه ومی ویل نړی کې هر څه پیدا کیږې خو ریښتینې مین او پام کونکې نه نو هیله کوم داسې مه کوې هغه انسان چې ستاسې او یوازې ستاسې لپاره ژوند کوې هغه د لاسه مه ورکوې هیله کوم هغې زما خبرې سره غږ وکړ هدایته!! دا غږ څه اشنا غوندې وو ، ددې غږ مې د زړه په زلزله کړو، ژر می پورته وکتل چې هغه څه چې زما زړه وویل هغه په ریښتیا دې که نه چې سر می پورته کړو نو هغه څه چې زړه مې ویلې وو هماغسې و هغه انجلې بل څوک نه وه بلکې هغه زما د زړه هغه نیمګړې ارمان چې د هغه پوره کول لکه د نه جوړیدنکې داغ څیر پاتې و ،هغه بل څوک نه وه زما د خوبونو شهزادګې حسینه وه، په لیدوو یې ډیر حیرانه شوم د هغې سترګې می موده پس پرته د سوچونو ولیدې اوس یې لیدو کې خوند نه و څه بل رنګې شوې وه ورته په کتو کتو مې د خپلې مینې داستان بیا تر سترګو شو او همدې داستان راته د هغې وروستې ځل تلل په یاد کړل د سترګو پټولو سره می احساس وکړ چې د اوښکو څاڅکې می په ګریوان ولویدې ژر می سر ښکته کړ او شان کړې شوم هغه څه ویلو ته چې راغلې وم د هرې خبرې ولویدم هر څه رانه خطا شو دلته راغلې وم چې د بل د ژوند پریکړه وکړم خو نصیب ته ګوره هغه څه پیښ شو چې ما یې تصور هم نه وو کړې چې څو کامه مې واخیستل خو د هغې دې غږ نیولې کړم هغې وویل دومره خو هم نه یم بدله شوې چې داسې رانه روان شوې زه هماغه حسینه یم ما چې په لومړې ځل د رضوان د خولې ستا نوم واوریدو نو د هغې وخت مې دعا پیل کړه چې همدا ته اوسې اوس چې هغه دعا قبوله شوې

ته داسې روانيږې په ځای ودريدم په ځواب کې می وويل زما دلته تاسره پاتې کيدل شايد اوس مناسب ندې زه دلته راغلې وم چې د بل چا ژوند د تبا کيدو نه وژغورم خو زه نه وم خبر چې دا ځای به ماته زما د تبا شوې ژوند يادونه کووې هغه څه به راته په ياد راولې چې د زغملو ندې دې خبرې مې درد نور هم زيات کړو هغه ټپونه چې موده مخکې ما د هر چا پټ کړې وو اوس د هغې په ليدو بيا تازه شو،انسان هم عجيبه دې هغه کس چې ما يې تل په خوبونو کې ننداره کوله ارمان می د هغې حسينو سترګو ليدل وو اوس چې هغه سترګې زما مخکې وی اوس مې ورته کتلې نه شو ځان راته پردې پردې ښکاريدو،د خبرو وروسته مې د مخ اوښکې بيا پاکې کړې هغه راته نژدې شوه تر څو چې يې مخ زما سترګو ته کوو ژر ژر می خپلې اوښکې پاکې کړې هغه مې مخکې ودريده او وی ويل هدايته زما تر اوسه يوه دعا هم قبوله شوې نه ده خو ګوره دا ځل مې دعا قبوله شوې ته ماته وګوره سترګې می نورې هم ښکته کړې زما په ليدو يې وويل هدايته داسې مه کوه پريدا سترګې دی وګورم ستا بيا ځل ليدل مي وروستې ارمان وو په ځواب کې می ورته وويل حسينې ارمان خبرې مه کوه پريدا چې هغه تير ارمانونه مې په سينه کې ښخ کړې نور مې په زړه کې د ښخولو ځای نشته هغه نوره هم نژدی شوه وی ويل هدايته زما لپاره مخ می بيا واړوو ومی ويل حسينې نشم کولې بيا ځل درته وګورم که داسې وکړم نو شايد هغه انسان ته به پاتی راشم چا چې پر ما دومره باور کړې چې تاسره ليدنه وکړم او زه هيڅ کله داسې نه غواړم چاته کم راشم او د چا باور مات کړم ماته زما پښتو او غيرت ددی اجازه نه راکوې زما د خبرو کولو سره يې سم بيا زما نوم واخيستو هدايته ومی ويل حسينې مه کوه هڅه مه کوه چې بيا داسې انسان د لاسه ورکړې چې تاسره د ځانه هم زياته مينه کوې هر څه پيدا کيږې خو رښتينی مين هيڅ کله نه خو تاته خدای بله موقه درکړه هر چاته خدای داسې موقع نه ورکوې هغې بيا خپله وکړه بيا می مخکې ودريده او بيا يې خپلې خبرې پيل کړی هدايته دومره خو کولې شې راته وګورې سر می نا لپاره وخوروو ومی ويل دا حق ما د لاسه د هغه وخته ورکړې کله چې د بل په نوم شوې هغې می خبره قطی کړه او وی ويل هدايته زه د حق خبره نه کوم زه درته وايم ماته

وګوره زه څه وایم ماته ځان مجرم ښکارې ما می په خوښه هره خوشحالې ته د پای ټکې کیښودو ما کولې شو درته تم شم بیا دیدو په انتظار شم خو داسې می ونه کړل خو په دی کې زه نه وم ملامته زما حالاتونه یوازی زما خدای خبر وو چې زه به کوم حال کی وم ما په کومو شرایطو کی هغه پریکړې ته چې کورنې می ما لپاره کړې وه غاړه کیښوده ستا نه راتګ ته می ستا بی وعدی نوم ورکړ او ماسره پیښ شوی پیښی ته خپل نصیب خو زما بخت د تل په څیر خپله وکړه ستا بی ګناهې می د شبیر د خولې واوریده کاش زه هغه ورځ نه وی درغلې او یا می تاسره نه وی لیدلې شاید ژوند می په خپل بدګمانې کې ښه تیر شوې وی خو اوس هر څه بدل دی که هر څه می وکړل ژوند می په هماغه خاطرو کې بند پاتی دې، ژر می وویل حسینې څه چې وشو هغه وشو هغه حالت کې هر څومره ستونزمن دی نشو کولې ورته بدلون ورکړو، او کوم څه چې نشو بدلولې له هغې حالت سره جوړجاړې کې ګټه ده، نه پوهیدم د هغې زړه کې څه وو خو ما نه غوښتل د هغې د زړه خبره واورم او یو ځل بیا د چا ګنهګار شم رضوان خبرې او دهغه مینه می هر څه تر سترګو سترګو شو ځان می لږ څه سمبال کړو او هغه څه لپاره چې راغلې وم د هغې کولو اراده مې بیا په زړه کې وکړه د حسینی مې بیا مخ واړوو ومی ویل خیر هر څه چی تیر شو تیر شو اوس چې څه ژوند لرې هغه قبول کړه هغې ډیر په معصومه لهجه وویل هدایته ته ماسره مینه نه لرې؟

اخخ دا خبره یې لکه د زهرو ډک حنجر داسې ولګید هغه زما د زړه څه خبره وه ما غوښتل دا خبره یاده نه کړې ځکه زه نشم کولې دورغ ووایم او ددی د مینې دی انکار وکړم خو هغه هماغه کار وکړ زړه می همدا شبیه غوښتل غیر کی یې ونیسم او ددی د بیلتانه کیسه ورته د ویر په ډول بیان کړم خو زه ډیر مجبوره وم ما هیڅ نه شو کولې خو که دا هر څه چې زما په زړه دې هغه می ورته ویلې وی شاید هغه د هر تیره شوې وی او زه د داسې چا د ارمانونو قاتل شوې وی چا سره چې می د هر څه سمولو ژمنه کړې وه په ډیره ستونزه می د خولې غږ وختو په حال دا چې غږ می بند بند شو ومی ویل حیسینې هڅه مه کوه د تیر وخت پوښتنه وکړې هغه تیر شوې بیرته

نه راګرځې ته باید هغه څه په اړه فکر وکړې چې ستا راتلونکې دې او هغه یوازې رضوان دې د هغه په زړه ځان پوه کړه ایا د هغه زړه هره دقیقه ستا نوم نه اخلې؟ ایا ته دومره نه پوهیږې چې هغه ستا پرته نشې اوسیدلې یا که د هغه مینه تاته ربښتنې نه ښکارې هغه هره لحظه ستا انتظار کوې ما چې به د مینې دعوا کوله زما مینه د هغه د مینې په مقابل کې هیڅ هم نده ځکه خو خدای زما پر ځای ستا په نصیب هغه کړو او خدای تل د خپل بنده په حق کی بهترینه پریکړه کوې خو مونږ بندګان په دی هیڅ کله نه پوهیږو ما خبرې کولې هڅه می کوله چې قانع یې کړم چې هغې بیا وویل ایا دا هر څه چې ماته وایې تا په ځان عملې کړې ځکه څنګه چې رضوان پر ما مین دی داسې هغه انجلې هم پر تا مینه وه د هغې په سترګو کی ستا لپاره یوه نړې مینه پرته وه ایا تا د هغې په سترګو کی ځان لپاره مینه نده لیدلې ایا دا هر چې ماته وایې تا عملې کړې؟ خبرو ته یې بی ځوابه شوم د حسینې خبرو راته لیله د سترګو په وړاندې ودریوله د هغې وروستې خبره چې زه به تاته انتظار کوم رایاده شوه د سترګو می رښې اوښکې توی شو د حیسنې څو ګامه وړاندې لاړم چې هغه تر شا بیا راپسې غږ وکړ وی ویل که په ربښتیا دا هره خبره چې ماته دی وکړه ته په ځان عملې کړې نو ژمنه ده زه به می ژوند په خوښی سره رضوان تر څنګه تیر کړم ځکه هغه بار چې زما په زړه پروت دی چې ما ستا خوښې له منځه وړې هغه به هم ختم شې که تا ربښتیا داسې وکړل هر څه به خپله سم شې کنه نه مونږ څلور واړو کې به یو هم خوښ ونه اوسړې د حیسنې هره خبره ربښتنې وه زه بې ځوابه وم غوښتل می له دی ځای ژر تر ژره ووځم چې هغه بیا وویل هدایته د خپل نوم په اوریدو ودریدم دا چې د هغې خبرې په ځای وی نو اړ وم ورته غوږ ونیسم هغه می بیا خواته نژدی شوه وی ویل پریکړه ستا په لاس کې ده غواړې څه وکړې دا چې نه می غوښتل سترګو ته یې وګورم سترګې می پټې کړې ومی ویل سمده ته چې وایې زه به هم دا نظر بدل کړم چې ستا پرته زما په ژوند کی څوک نه شې راتلې زه به هم موقع وکړم دا چې زمونږ نصیب او د خدای رضا په همدی کې ده نو یو ځل به ددی رضا ته په خوښې غاړه وکړم یو ځل په خپله خوښې شاته کړم او هغه څه چې ماته زما خدای انتخاب کړې په هغې په

سوچ وکړم وبه ګورم چې زما انتخاب چې ما ځانته کړې وو ښه دی که هغه نصیب چې زما رب ماته لیکلې کوم یو ښه دی خو په یو شرط چې دا موقع به ته هم رضوان ته ورکوې هغه ما سبا غوښتې کولي شې نن شپه یې وازمایې خو په پوره ربښتینولې سره د خپل زړه هره خبره به شاته کړې بس هغه څه چې خدای غوښتې ومنه او خپله خوښې دی پکې ولټوه که ربښتیا هم تا دې خپله خوښې پیدا نه کړه بیا به هغه څه چې مونږ زړونو کې دې وبه یې کړو، دا می د حسینې سره وروستې خبرې وی همداسې ورنه د خپل ټولګې په لور راراوان شوم، د حسینې وروسته می په ځان کې دومره توان نه لیدو چې درس ووایم همداسې د خونې په لور راروان شوم نه پوهیدم هغ ژمنه چې می وکړه پوره به یې کړم که نه کله به می د خولې اخ وختو ځکه ما غوښتل چې ژمنه پوره کړم خو ګوره د یوې ژمنې پوره کول راته نورې څومره ژمنې مخکې کړې اوس به څه کوم دا بدبخته زړه به څنګه قانع کوم که داسې ونه کړم نو رضوان به څنګه شې د بل په ویر ځانته خوښې لټول د احمق سړې کار دې ددی کار اجازه به ماته زما زړه هیڅ کله رانکړې کاش رضوان حسینې سره مینه نه کولې کولې می شو په اسانې یې اړیکه پرې شې او بیرته یې په خپل نوم کړم، خو دا هو هر څه بدل دی په سوچونو کې ډوب ومې چې تلیفون مې وشرنګیدو نه پوهیږم په دی وخت کی د چا زنګ وو په نا پامې کې می تلیفون ځواب کړ داسې غږ می تر غوږو شوه لکه د لیله ژر می د هغې نوم تکرار کړو لیله هغې لورې راته په معصومه غږ وویلې شو هدایته زه یم لیله څنګه یې؟ ډیر حیران وم دا څه روان دی لومړې د حسینې داسې راسره مخ کیدل او اوس لیله دا اتفاق وو که بل څه ومی ویل لیله څنګه داسې ناڅاپې ؟ هغې بیا په عاجزې وویل ښښنه غواړم چې مزاهم شوم هو نه پوهیږم ولې نن می ډیر یادیدې زړه می ورخطا شان وو که هر څه می وکړل خو زړه می بیا هم قانع نه شو زړه می شاهدې ویلې چې ښه نه یې عجیبه خبره ده دی ته زما حال چا وویل افففف ژر می وویلې لیله دا هر څه تاته چا وویل ؟ هغې وویل کوم څه زه خو څه نه نه یم خبره څه شوې؟ ومی ویل څنګه پوه شوې چې ښه نه یم ؟ وی ویل زړه می ویل نه پوهیږم د خولې می خندا ووتلې ومی ویل ستا زړه هم ډیر خطرناکه دې

لیله خبرو ته مې هیرانه شوه وې ویل هدایته څه شوې ولې داسې وایې؟ ومې ویل خیر دا هر څه پریدا دا وایه اوس څنګه یې ؟ په ځندنې غږ یې وویلې پرته لا تا ګمان مه کوه چې ښه به اوسم، زه یوازې ستا په شتون کې د خوښې احساس کوم ومې خندل ومې ویل لیله ما کې نو څه دې چې داسې وایې مه کوه دومره مینه ستا مینه ماته خجالت راکوې هغې وویل نا خدای دی نکړی داسې وغواړم بس څه چې حقیقت وی غلې شان شوم ومې ویل لیله هغې په ارامې وویل هممم بیا مې ورته نوم واخیستو لیله بیا یې وویل اورم خو ما بیا لکه د لومړې شبیر په څیر حرکت وکړ بیا مې ورته نوم واخسیتو لیله غږ یې اوږد کړو وې ویل خو اورم کنه څه وایې په خندا شوم ومې ویل داسې لږه جانداره شه څه مړه مړه غږیږې هغې د خندا وروسته وویل که رښتیا غواړې خوښه اوسم نو بیرته راشه زه او زما زړه دې هرکلې ته همیشه سترګې په لار وې خبرې یې د قدره ډکې وې ومې ویل لیله که داسې وکړم څه به وشې اوږده ساه یې واخسیته او وې ویل ژوند به مې پوره شې .........

د ژوند درىَ کاله مې وتلې زما د زړه هره خبره پرته د ویلو پوره کوې زما ژوند یې لکه د ګلونو ډک پسرلې کړې او هر سهار زما د مینې پسرلې تازه او سمسور ساتې ځان مړاوې کوې خو ما مړاوې کیدو ته نه پریدې کله چې خفه شم نو د خپلې مینې درون سیورې راباندې راولې ددې دومره مینه مانه زما غمونه هیر کړی کله کله هغه تیر ژوند او خبرې راته دورغ ښکارې که زه پوهیدې زما ژوند به دومره هوسه کیږې ما په د ژوند هغه شیبې په حفګان نه تیرولې خو بیا هم خفه نه یم ځکه ژوند تجربه ده دا به هم زما لپاره وه خو خوښ په دی یم اوس خوښ یم هغه پریکړه چې په وروستې ورځ ما وکړه د هغې ډیر راضی یم هغه څه چې ونه شو پری نه یم خفه ځکه دا اوس چې څه لرم په دی کی ډیر خوښ او ارامه یم هغې لاس وړاندې کړو او زما لاس یې په خپل لاس کی ونیوو ماته وایې په شتون دی د سکون احساس کوم ددی داسې خبرې ماته د ځانګړې کس احساس راکوې که څه یو وخت داسې وو چې ما ګمان کووو زه هیڅ یم زما ژوند عبث دی خو کله چې مې ژوند ته دا راغلې هغې بی معنا ژوند مې معنا موندلې اوس کمی نشته د هغې په دی خبره مې د هغې لاس ښکل کړ

ومی ویل ستا په شتون زما ژوند ارزښمنه کړې هغه زما د مینې خبرو ته په خندا شوه څه او د هغې خندا ماته ارامې راکړه یو بل کس می په ذهن کی شته هغه نه هیریږې هر وخت په یاد وی ځکه مینه هیڅ کله نه هیریږې خو د هغې نشتون کې خفګان نه کوم د هغې مینه په شته ژوند کی پوره کوم هغه پریکړه می بیا تر سترګو وړاندې راغله چې حسینې سره می کړې وه په هغې سبا هغه بیا راسره مخ شوه خو ما یوه په هماغه ورځ خپله پریکړه کړې وه سبا بس د هغې پریکړې ویلو او د هغې د اوریدو ته تلې وم کله چې می ولیده نو خواته می راروانه شوه ما بیا هم د هغې سترګو ته ونه کتل خوااته می نژدی شوه سلام وروسته یم ورنه د پریکړې پوښتنه وکړه هغه څه لحظه غلې وه چې بیا می پوښتنه تکراروله نو ژر یې وویل هممم پوه شوم ستا ځواب د ویلو پرته هم درکولې شم د لاس اشاره یې وکړه چې هغې لورې ته می وکتل نو ومی لیدل رضوان د لرې راروان وو هغې وویل زما پریکړه هماغه ده چې خدای زما په حق کې کړی وه زه راضی یم اوس د هغې خبرې زړه نور هم ډاډه کړ ما لا ځواب ورکوو چې موبایل می وشرنګید کله چې می سکرین ته وکتل نو ومی لیدل لیله وه په مسکا می تلیفون سکرین هغی ته مخامخ کړ ومی ویل زما پسرلې نا رښتیا د مینې پسرلې همدا دی هغه می پریخوده او د مینی لورې ته می حرکت وکړ داسې حرکت چې تر اوسه پکی خوښ یم زما ژوند او زما مینې یوه تجربه وکړه هغه دا چې اړینه نده هر هغه څه دی د خوښې ډک وی چې مونږ یې غواړې که نظر تاو کړو هر هغه څه چې ژوند مونږ ته راکوې په هغې کې هم مینه او ارامې شتون لرې بس فرق د لیدو وی